فتاویٰ یعقوبیہ

تالیف

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الباہر
شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ سروی کاکڑی



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

فتاوٰی

یعقوبیہ

جلد (۱)

تألیف:

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن .

الحمد للہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اهتدیٰ بهدیه المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیهه المفتي النبیه الشیخ عبدالرازق زید مجده المدیر باالمدرسة المحمدیة فی کویته و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاهم آشغالی و تفاقم هموم ی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منها عثرت علی تفوقه و عموم و قوفه فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقه الحنفی دقا وجلا و من ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیه ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السهلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جهوده و مساعیه فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفها قبلها و وفقه لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوها و یستفیدوا منها خذ ما نظرت ودع شیئا سمعت به . فی طلعة الشمس ما یغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استهاپ الله دی دشیخ صحب په عمر کښی برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوالاباب وصلوات ربی و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چي ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چي پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چي د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص داوویل چي صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چي ډیری داسی جدیده مسائل پکښی سته چي متقدمینونه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسۃ صدیقیۃ کراچی پاکستان .

الحمد اللہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الہدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم صلی اللہ علیہ وسلم کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعی من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہوکر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دار العلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوار دوزبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات اور تراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبد الرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود ببوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالی اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

دمطالبو فهرست

فتاویٰ

یعقوبیه

جلد (۱)

تألیف:

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفهم الباهر



قاری بسم الله لوی کاریزي

مکتبه حقانیه

کانسی روڈ۔ کوئٹه

دکتاب لنډه پېژند ګلوي

****

دکتاب نوم: الباقية فی ايمان الکاملة

مؤلف: مفتي عبدُ الرّازق کدنوي

کمپوزر: راز محمّد راز، مرکز کتابت کوټه

دخپرېدو کال: ۲۰۲۱ عيسوي

صفحات: (۳۴۶)

اهــداء



د هغـو متـقـدميـنـو، مـجـتـهـدينو او ائمه ؤ كرامو په نوم، چاچي ترمونږ پوري دغه حقاني مشروع، او سپيڅلي عقائد په ادلۀ اربعه سره رارسولي دي، خصُوصاً د هغو امامانو او مفكرينو په نامه، چي اوس فـي الحال د دغو نامشروعو او فاسدو عقائدو سره نه صرف دا چي لاس وگرېوان دي، بلكه په وړاندي ئې سدِ سكندر هم دي .

(مفتي عبدالرازق كدنوي)

اجمالي فهرست

الباقية
فی الایمان الکاملیة

بسم الله الرحمن الرحيم

دغه کتاب چي په نامه د ''الباقية فی الایمان الکاملية'' دی دا کتاب ما په سنه ۲۰۰۲ء کي چاپ کړی او مسلمانانو ته مو تقسیم کړی چي دا وخت د امریکې د راتک و افغانستان ته دوه کاله کېدل چي چا خوله هم نه سوه ښورولی بیا په ۲۰۰۵م کي زه حکومت پاکستان په ډیره غټه چا په ګرفتار کړم چي امریکایانو ته په وزیر داخله معرفي کړل شوم .چي د پرویز مشرف وخت وو درې میاشتي اي تی ایف جېل کي وم بیا جمعیت علماء اسلام پاکستان و هائی کورټ ته آپیل وکړی چي دغه ملا مو هسي بندي کړی دی نو بیا زه په هم داغه سنه کي هائی کورټ ته پېش سوم هائی کورټ پر ۱۲ بجې پېښي په داغه ورځ ولکول چي زه تا نن آزادوم چي جج هر یو لکه راجه فیاض او اختر زمان ملغیاني وو چي دوې ګهنټې پېښي ته پاته وې زه یې دستي یعني فی الحال په موټر کي واچولم هغه خلک هم هلته ولاړ وو یعني د هائی کورټ مخ ته هغه زما ملاقاتیان زه یې مخ پر چمن روان کړم په چمن کي یې په کچارۍ کي څه وخت وم بیا یې پر باب دوستي د افغانستان حکومت ته په لاس ورکړم چي مخ ته ملي اردو والا وو بیا امریکایان د دوی ملګري ټانکان ولاړ وو په دروازه کي

یعني د پاکستان او افغان د حکومت یو توپکي ولاړ وو ما نه پېژندی . زما سره یې بښه وکړه زه دعاګوی یم چې د پاکستان پوجیانو غوښت چې امریکایانو ته مي ورکړي خو دی مزاحم شو .زه خپله ده تسلیم کړم چې کله یې هتکړۍ خلاصولې لاس یې په لاس کې راکړی ستړې مه سې یې وکړه کله چې هتکړۍ یا ولچک ځخه خلاص شوم د پاکستان د حکومت بیا یې ستړې مه سې را سره وکړه ول اوس خلاص شوې خو بیا هم زما زړه تـه نـه لوېدل چې یوه سړي پر موټر سایکل واخیستم بولدک تـه یې یو سرای ته یوووړم هلته یې راته وویل ما پېژني ما ول نه دي پېژنم ده ویل اوس چای خوري که ځې ما ورتـه وویل ځم ده پر موټر سایکل سپور کړم تر باډر یې را واړولم بیا یو ملګري په موټر کي را واخیستم چې د چمن د تیکسي چوک ته رارسېدم بیا ډي سي یو ګاډۍ مخ تـه راوستـه، زه یې بیر تـه خپلي ګاډۍ تـه واچولم واپس یې مخ پر افغانستان روان کړم چې د چمن ځخـه د باډر خوا تـه ځي هلتـه یو مسجد دی او چاردیوالي ده دالتـه ودرېدی تیلیفون یې وکړ ی پولیس یې را وغوښتل ما ورتـه وویل زه خبر یم تـه حافظ د قرآن یې و دغه قرآن ته وګورئ بیا مو په لاس مه ورکوه ده بیخي پښتو ویله نه بیا مي ورتـه وویل چې دا نورو آسماني کتابو ته وګوره ته مي په لاس مه ورکوه چې نور پسي پساو نه سم ده ویل نـه تا رشوت ورکړیدی دا بې وقوف حکومت دی په روپو یې ایله کړی یې، ما ورتـه وویل نه زه ۲۰۰۰ وربی په جیب کي لرم هغه به تا ته درکړم ما ایله کړه، تا خپله زمه واري پوره کړه خو په دې خبرو کي یوه

د پولیسو کاډي راغله او زه يې ور واچولم خو ما زور کاوۍ د هغو موټر ته نه ورتلم، د هغو په موټر کي يوه سترګه وه هله زما خيال سو چي دی به دي ايله کړي چه ور شوه سوم نو يې بيا راسپور کړم چي دروازې ته ورسېدو ما ورته وويل چي ما ته په لاس مه ورکوه ته را ته ګوره زه به خپله ور واوړم خو بيا يې تر لاسو ونيولم چي هغه سړی بيا په هغه ځای ولاړ وو او هغه امريکايان هم ولاړ وو بيا هغه سړی چي په دروازه کي ولاړ وو ورځخه تسليم کړم بيا ولاړم رنګه کالي مي واغوستته ايل ميټ خولی مو پر سر کړه د ماښام لمونځ کېدی چمن ته راغلم بيا مي پاسپورټ په بليک لسټ يا تور لسټ کي بند شو . په ۲۰۲۰م کي خلاص شو . عمرې ته ولاړم چي راتلم بيا د کرونا د وائرس خبر ډېر شو او په دغه دوران کي يې بيا و يې نيولم يعني په دروان د ۲۰۰۵م کي بيا لږ بندي شوم بيا يوځو ورځي بندي شوم . بيا داسي وخت راغلی چي طالبان پر مخ شوه کاميابي راغلمه دلته د طالبانو منځ کي خپل اختلاف راغلی څه علماء چي د صلحي کوشش يې کوی زه هم وم نوي کلي ته يو جلسې ته ورغلم د مولوي ملوک چي دتميز وظيفه ورته ورکړه سوې وه نامه يو عالم د مور او پلار حق بيان کوی چي زه وليدم فی الحال يې د جهاد بيان شروع کړی او ويل يې جهاد فرض عين دی د امارت دار الافتاء فيصله ده منې که نه . د ده دا خيال وو چي دی د جهاد منکر دی خو دی په دې نه وو خبر چي ما دا کتاب چي په نامه د الباقية فی الايمان الکاملة کي د جهاد د فرضيت ۱۵ کاله مخکي ليکلی دی خو دی او س خبر شو د جهاد په فرضيت او

پـه هـغـه وقت کې د جهاد بيان يو حافظ فضل محمد مرحوم برېچي او مولانا نور محمد صاحب کاوی چې زه هم د دوی په ډله کې وم .



باب دی په بيان د ښاخو د ايمان

اوس بـه و مـحـتـرمـو مسلمانانو ته د حديث تشريح وکړم او د ايمان اقسام او د ايمان ښاخلي به درتـه بيان کړم ايمان يوه درخته ده هره درخته ښاخلې لري نو د دې درختې ښاخلې به درته بيان کړم او هغه شيان بـه بيان کړم چې درختې تـه تاوان رسوي او درختـه ختموي بالکل يې هيڅ يو نمونه نه پاته کيږي او ايمان څه بالا شپېته (۶۰) ښاخه دی او په بل روايت کې ايمان اويا (۷۰) ښاخه دی تشبيه شوې ده د ايمان د هغه درختې سره چې هغه ښاخ داره درخته وي د هغې سره د ايمان مشابهت شوی دی يعنی څو يو نه د ايمان څه بالا شپېته (۶۰) څويه دي نو ايمان اقرار پـه ژبـه تصديق په زړه دا ايمان دی څو پوره ايمان نـه دی بلکه پوره ايمان هغه دی چې عمل به هم ورسره وي چې عمل به هم کوي بغير عمل څخه ايمان ناقص دی نو ايمان درې شيان دي (۱) اول اقرار (۲) دوهـم تـصديق (۳) دريم عمل، د اقرار څخه مراد اعتقاديات دي دغه اقرار دېرش (۳۰) ښاخلې لري اقرار کول پر الله جل جلاله باندې پـه وحدانيت چې يو والی پکښې داخل شو او په ذات او صفاتو ايمان چې معنی يې دا ده نسته هيڅ څوک چې د الله جل جلاله پـه شان دی وي پـه علم کې يا په قدرت کې يا په اختيار کې (۱) دا يوه ښاخلـه د ايمان ده (۲) دوهمه ښاخله د ايمان دا ده چې د الله جل جلاله

څخه ماسویٰ ټول مخلوقات نوي پیدا شوي دي صرف الله جل جلاله
پخوانی قدیم داوله څخه دی او ابدي دی دابه دي عقیده وي (۳) دریم
ښاخ د ایمان دا دی چي د الله جل جلاله ملائیکي موجود دي د الله جل
جلاله د هر امر تابع داره دي (۴) څلورم ښاخ د ایمان دا دی ایمان
راوړل پر ټولو کتابو د الله جل جلاله باندي (۵) پنځم ښاخ د ایمان دا
دی ایمان پر رسولانو باندي راوړل (٦) شپږم ښاخ د ایمان دا دی ایمان
پر قدر د خیر او د شر یعني خیر او شر ټول د الله جل جلاله په قدرت
کي دی نه خیر څوک رسوای سي نه شر څوک رسوای سي (۷) اووم
ښاخ د ایمان دا دی ایمان پر ورځ د آخرت باندي او پر حساب کتاب
په قبر کي وروسته د مرګه څخه ژوندا او د عملو تلل او پُل صراط
باندي ایمان (۸) اتم ښاخ باور پر جنت کول همېشتوب په جنت کي د
ابه دي عقیده وي (۹) نهم ښاخ د ایمان یقین کول په عذاب ورکولو و
جهنمیانو ته داسي عذاب چي نه ختمیږي (۱۰) لسم ښاخ د ایمان دا
دی د الله جل جلاله سره محبت کول (۱۱) یوولسم ښاخ د ایمان دا دی
محبت کول په لار کي د الله جل جلاله یعني د چا سره چي محبت کوې
د الله جل جلاله د وجهي چي دا ښه سړی دی زه محبت ورسره کوم چي
الله جل جلاله راضي سي او بد کول د سینما د لغړي سره چي دا بد سړی
دی زه بد ور څخه وړم د الله جل جلاله له وجهي نو دا هم ایمان دی او
محبت کول د مهاجرو سره او محبت کول د انصارو سره او محبت کول
د اهل رسول سره دا ټول یو ښاخ د اسلام دی (۱۲) دوولسم ښاخ د
ایمان محبت کول د رسول الله ﷺ او د تابعدارانو د رسول ﷺ

سره (۱۳) دیارلسم ښاخ د ایمان اخلاص کول پر ښنول د ریا او د نفاق پرېښنول (۱۴) څوارلسم ښاخ د ایمان توبه کښل او پښېماني پر ګناه باندي (۱۵) پنځلسم ښاخ د ایمان ېره د الله جل جلاله څخه (۱۶) شپاړسم ښاخ د ایمان امید و الله جل جلاله ته (۱۷) اوولسم ښاخ د ایمان ناامیدي د الله جل جلاله د رحمت څخه نه کول یعني د الله جل جلاله څخه به د رحمت امید لري او ناامیدي به نه کوي (۱۸) اتلسم شرط د ایمان شکر د الله جل جلاله (۱۹) نهه لسم ښاخ د ایمان وفاء پر وعده کولو سره (۲۰) شلم ښاخ د ایمان صبر کول پر تکالیفو باندي (۲۱) یوویشتم ښاخ د ایمان عاجزي کول او د اکابرو عزت کول (۲۲) دوه ویشتم ښاخ د ایمان رحمت او شفقت پر مخلوق او شفقت پر کوچنیانو (۲۳) درویشتم ښاخ د ایمان راضی کېدل د الله جل جلاله پر قضاء باندي (۲۴) څلورویشتم ښاخ د ایمان توکل پر الله جل جلاله باندي (۲۵) پنځه ویشتم ښاخ د ایمان خودبیني یعني ځان لویی نه کول او د ځان صفت نه کول (۲۶) شپږویشتم ښاخ د ایمان ترک د حسد دی (۲۷) اوویشتم ښاخ د ایمان کینه یعني بغض نه کول (۲۸) اته ویشتم ښاخ د ایمان غضب نه کول (۲۹) نهه ویشتم ښاخ د ایمان دوکه او بدګماني نه کول (۳۰) دېرشم ښاخ د ایمان پرېښنول د محبت د دنیا او د جاه او جلال داټول قسمونه د ایمان دي که یو پکښي نه وو نو ایمان یې کم دی ناقص دی دا دېرش قسمه د اول قسم د ایمان سو یعني د اقرار دوهم قسم د ایمان راجع دی و ژبي ته چي ژبه باید سړی څنګه مستعمله کړي په دې کي اوه (۷) شیان کول

پکار دي (١) اول توحيد چي د توحيد بيان به مکمل په ... بيان شي (٢) دوهم تلاوت د قرآن شريف (٣) دريم خلکو ته علم ... (۴) څلورم علم زده کول (۵) پنځم دعا کول (٦) شپږم ذکر د ... جل جلاله څخه بخشش غوښتل (٧) اووم پرهيز بې فائدې ... څخه، دېرش او اووه دا يې اوه دېرش (٣٧) ښاخلې د ايمان .

دريم قسم د ايمان په بدني شيانو کي راځي هغه هم څلوېښت ښاخلې کيږي نو څلوېښت او اووه دېرش جمله (٧٧) اووه اويا ښاخلې د ايمان شوې که يې يوه دانه ځيني کمه وه نو ايمان يې ناقص او کم دی دا هم پر درې قسمه دی اول قسم په اعيانو کي دی يعني چې معلوميږي هغه شپاړس قسمه دی اول پاکي د بدن او د مکان او د جامې او غسل د جنابت او غسل د حيض او غسل د نفاس دوهم ښاخله د ايمان عملي لمونځ کول فرضي قضائی نفلي دريم زکوة صدقة الفطر سخاء د ميلمه عزت کول څلورم روژه نيول فرضي او نفلي پنځم حج کول فرضي او نفلي او عمره شپږم اعتکاف او طلب د ليلة القدر کول اووم فرار په دين سره يعني هجرت د کفري ملک څخه اتم وفاء په نذر سره نهم فکر په ايمان کي لسم اراده و کفارو ته يوولسم پټ والی د عورت په لمانځه او په خارج د لمانځه کي دوولسم اختر ... حلالول ديارلسم جنازه کول څوارلسم اداء کول د پور پنځلسم رښتيا په کاروبار کي او احتراز د ربا سود څخه شپاړسم د حق شاهدي ادا ... نه پټول دوهم قسم په اتباعو پوري تعلق لري اول نکاح کول دوهم ... اولاد حقوق پر ځای کول دريم د مور او پلار سره ښه کول نه ازار ...

ځلورم تربیت د اولاد پنځم وصله رحمي کول شپږم اطاعت د مولا .
دریم قسم تعلق تر عامو خلقو پوري لري هغه اتلس دي اول قیام د امارت اسلامي سره له عدله لکه امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد دوهم متابعت کول د مسلمانانو د جماعت سره دریم اطاعت د اولی الامر لکه مور او پلار ، مشر ورور ، اساتذه ، امیر وغیره من الاقرباء وغیره ځلورم اصلا ح په مابین د خلقو کي او جنګ د خوارجو او بغاتو سره پنځم معاونت پر نېکي باندي شپږم امر بالمعروف نهی عن المنکر کول اووم اقامت د حدودو اتم جهاد او پیره کول په لاره د الله جل جلاله کښي نهم اداء د امانت او ضمن ورکول لسم قرض سره د وفا یوولسم عزت د همسایه کول دوولسم ښه معامله کول د خلقو سره دیارلسم ورکول د مال په لاره د الله جل جلاله کي بغیر د اسراف څخه څوارلسم سلام اداء کول پنځلسم یرحمک الله ویل و نوري والا تهٔ شپاړسم بندېدل د ضرره څخه د خلقو اووه لسم پرهیز د عبث کارو څخه لکه ټېپ ، رېډیو ، ټلویژن ، وی سي آر ، اتلسم لار صفا ساتل دا اوه اویا (۷۷) شعبې د ایمان سوې چي ما ولیکلې او امام نسفي په تفسیر یسیر کي نهه اویا کړي دي شروع یې په لا اله کړې ده یعني اول لا اله دوهم والذی یلیله التکبیر یعني چي نژدې دی لله اکبر دی دریم تسبیح یعني سبحان الله ویل ځلورم والحمد حمد ویل پنځم التمجید یعني لویی شپږم والتجرید یعني یووالی اووم والتفرید یعني یووالی اتم والمنوبة یعني راجع کېدل نهم والتوبة یعني توبه کښل لسم والانابة یوولسم والنظافة یعني پاکي دوولسم والطهارة

پاکي دیارلسم والصلوة څوارلسم والزکوة پنځلسم والصیام یعني روژه شپاړسم والقیام یعني ولاړه اوولسم والاعتکاف یعني اعتکاف کښېنول اتلسم والحج یعني حج کول نهه لسم والعمرة یعني عمره کول شلم والقرباء یعني قرباني کول یوویشتم والصدقة یعني خیرات کول دوه ویشتم والغزو یعني غزا کول درویشتم والعتق یعني مریيي آزادول څلوریشتم وقرأة القرآن یعني د قرآن شریف ویل پنځه ویشتم و ملازمة الاحسان یعني همېشه احسان کول شپږویشتم و مجانبة العصیان یعني ځان ساتل د ګناهو څخه اووه ویشتم و ترک الطغیان یعني پرېښول د ګمراهي او اته ویشتم و هجر العدوان یعني لیري کېدل د دښمني څخه نهه ویشتم و تقوی الجنان یعني تقویٰ د زړه دېرشم و حفظ اللسان یعني ساتنه د ژبي او یو دېرشم والدعاء یعني دعا کول دودېرشم والخوف یعني بېرۀ کول درودېرشم والرجاء یعني امید د رحمت کول څلوردېرشم والحیاء یعني حیاء کول پنځه دېرشم والصدق یعني رښتیا کول شپږدېرشم والصفاء یعني صفایي کول اووه دېرش والنصیح یعني نصیحت کول اته دېرشم والوفاء یعني وفا کول، نهه دېرشم والندم یعني پښېماني کول پر بد کار څلوېښتم والبکاء یعني ژړا کول د خدای (ج) د بېري څخه یو څلوېښتم والاخلاص یعني نېک عمل کولو کي اخلاص دوڅلوېښتم والزکاء یعني پاکي کول درروڅلوېښتم والحلم یعني نرمي کول، څلور څلوېښتم والسخاء یعني خیراتونه کول پنځه څلوېښتم والشکر یعني شکر ادا کول پر نعمت باندي شپږ څلوېښتم

والصبر یعني صبر کول پر غمو او تکالیفو باندي اووه ځلو ښتم والرضاء بالقضیة یعني راضي کیدل پر فیصله د الله جل جلاله اته ځلو ښتم والاستعداد المنیة یعني اراسته کول د ځان و مرګ ته او نهه ځلو ښتم واتباع السنة یعني متابعت کول د سنتو د رسول الله ﷺ پنځوستم و موافقة الصحابةؓ یعني د صحابه وو سره موافقت کول یو پنځوستم و تعظیم اهل الشیخ یعني د سپین ږیري عزت کول دوپنځوستم والعطف علی الصغار یعني مهرباني کول پر کوچنیانو، درو پنځوستم والاقتداء بعلماء الامة یعني اقتداء کول په علماء حق پسي ځلور پنځوستم والشفقة یعني شفقت کول پر مسلمانانو باندي پنځه پنځوستم و احترام الخاص یعني احترام د خاصو خلقو لکه عالم شپږ پنځوستم تعظیم اهل السنة یعني عزت کول د علماء د اهل سنت اووه پنځوستم و اداء الامانة یعني ورکول د امانت اته پنځوستم و اظهار الصیانت یعني ښکاره کول د ساتني نهه پنځوستم والاطعام یعني ډوډۍ ورکول شپېتم والانعام یعني نعمت ورکول یو شپېتم وبر الایتام دیتیمانو سره ښه کول .دوشپېتم وصلة الارحام یعني د قریبانو سره ښه کول دروشپېتم و افشاء السلام یعني سلام اچول ځلور شپېتم و صدق الاستسلام یعني سلام ادا کول پنځه شپېتم و تحقیق الاستعصام یعني همیشه ځان ساتل د ګناهو څخه شپږ شپېتم والزهد یعني تقوی پرهیز کول اووه شپېتم والرغبة فی العقبیٰ یعني شوق و اخرت ته اته شپېتم والموافقة للمولیٰ یعني د خپل مولیٰ سره موافقت کول نه شپېتم و مخالفة للهویٰ یعني

مخالفت د شیطان او نفس سره اویایم والتحذر من اللطی یعني بیره د اوره څخه یو اویایم و اماطة الاذی عن الطریق یعني لیري کول د ضرری شیانو دلاري څخه (البخاری ج۱ ص۱۲)

❁..(۱)اول حدیث د عمرؓ ابن خطاب څخه روایت دی یو وخت د نبی کریم ﷺ حضور کي موږ ناست وو اچانک یو سړی راغلی سپین کالي یې وواو اثر د سفر نه پر معلومېدی داسي معلومېدی چي دا څه خارجي سړی نه دی او پوښتنه یې وکړه نو داسي معلومېدی چي نامعلوم شخص دی، دی د حاضرینو په حلقه کي و رسول الله ﷺ ته مخامخ پر ځنګنو یعني د لمانځه په شکل کښېنستی او لاسونه یې د رسول الله ﷺ پر ځنګنو یا پر خپلو ځنګنو کښېښول او و یې ویل اې محمد اسلام څه شی دی هغه ﷺ ورته وویل چي اسلام دې ته وایی چي په خوله او ژبه دا ووایی چي د الله جل جلاله څخه ماسیوا بل څه عبادت والا نسته او محمد ﷺ د الله رسول دی او لمونځ کوئ او روژه په میاشت د روژې کي نیسئ او زکاة ورکوئ او حج د بیت الله کوئ نو سائل یعني پوښتني کونکي ورته وویل رښتیا وایی حضرت وایی موږ تعجب وکړی چي پوښتنه کوي او بیا یې تصدیق کوي او بیا یې وویل ایمان څه ته وایی حضور ﷺ وفرمایل چي ایمان پر الله جل جلاله او پر رسول الله ﷺ او د الله جل جلاله پر کتابو او پر رسولانو او پر فرشتو او پر ورځ د قیامت او پر تقدیر د خیر او شر دیته ایمان وایی او هغه سړي پوښتنه وکړه احسان څه ته وایی رسول الله ﷺ ورته وویل چي د الله جل جلاله عبادت داسي کوئ لکه ته چي الله جل

جلاله وینې که ته الله جل جلاله نه وینې الله جل جلاله تا وینې بیا دا سړي پوښتنه وکړه قیامت کله دئ؟ رسول الله ﷺ جواب ورکړی چې سوال کېدونکی تر سوال کوونکي نه دي عالم یعنې نه یم پر خبر حدیث تر اخیر پوری .

(۲) رسول الله ﷺ فرمایی چې دین پنځه شیان دي مجموعه دا ټول ضروري دي یو بغیر د هغه بل څخه نه قبلیږي اول شهادت ورکول چې د الله جل جلاله څخه ماسویٰ بل څوک قابل د عبادت نه دی او محمد ﷺ د الله جل جلاله بنده او رسول دی او د الله پر فرشتو او کتابو او رسولانو او پر جنت او دوږخ یقین کول او د مرګ څخه وروسته پر حساب او کتاب ایمان راوړل دا یوه خبره سوه پنځه لمنځونه د اسلام ستنه ده د لمانځه بغیر ایمان هم قبول نه دي زکوة د ګناه کفاره ده د زکوة بغیر ایمان او لمونځ هم قبول نه دی او بل روژه ده او د دې څخه وروسته حج دی . «اسوة الرسول ص١٩٦ ایمان کامل»

(۳) ابو هریره د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې صرف د الله جل جلاله عبادت کوه او د الله جل جلاله سره شریک مه دروه الله واحد یو وبوله او متصرف او کارسازیې وبوله او هر څه کولو والا یې وبوله او لمونځ کوه حج کوه روژه نیسه زکوة ورکوه او خپل کور والا ته سلا وراچوه . که دي یو جز د دې څخه کم کړی نو اسلام کم دی که دي پوره کړل نو اسلام دي پوره دی که دي یو هم نه وو نو اسلام نسته ستا .

(٤) د حضرت طلحة ابن عبید الله څخه روایت دی چې یو شخص د علاقه نجد څخه راغلی ببر سر یې وو او د لیري څخه یې د ځان سره د

کرېز وو چې راغلی پوښتنه یې د اسلام کوله رسول الله ﷺ وفرمایل چې پنځه وخته لمونځ کوه زکوة روژه حج کوه هغه یعني صحرایی وویل چې بل څه سته رسول الله ﷺ وویل یا نو صحرایی روان شو او وېې ویل چې والله که یې کم کړم یا زیات . رسول الله ﷺ وویل سړی کامیاب دی که یې رښتیا ویلي وه . (بخاری مسلم اسوة الرسول ص۱۹۸)

❁..(۵) حضرت ابو هریرةؓ فرمایی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې ښه گمان کول پر الله جل جلاله دا بهترین د عباداتو دی .

❁..(٦)حضرت انس فرمایی چې رسول الله ﷺ فرمایی چې مؤمن نسي کېدای تر څو چې رسول الله ﷺ تر پلار مور اولاد تر ټولو ورته محبوب نه وي (بخاري، مسلم) زما حقیر مور پلار اولاد دي ټوله تر سول الله قربان وي .

❁..(۷)حضرت ابو هریرةؓ فرمایی چې اسلام تر شپېته (٦٠) بالا ښاخونه لري افضل ښاخ لا اله الاالله ویل او توحید د الله جل جلاله دی او حیاء هم د ایمان ښاخ دی .

❁..(۸) د حضرت ابی امامه څخه روایت دی چې یوه ورځ د رسول الله ﷺ څخه یو چا پوښتنه وکړه چې ایمان څه دئ رسول الله ﷺ ورته وویل چې ته په خپل ښه عمل خوشحاله کېږې او په بد کار خوابدی کېږې نو پوه سه چې ته مؤمن یې او تا سره ایمان سته .

❁..(۹) ابو هریرةؓ وایی نبي کریم ﷺ وایی حیا شرم د ایمان څخه پیدا کیږي او د ایمان نتیجه جنت دی او بې حیایی بدي خبري فاحش کلام

د سختي څخه پیدا کیږي د سختي نتیجه دوزخ دی .

❁..(۱۰) د ابن عمرؓ څخه روایت دی چي حیاء او ایمان سره وابسته ترلي دي چي یو نه وي هغه به هم نه وي یعني چي یو کم شي هغه بل هم کمیږي .

❁..(۱۱) ابو هریرهؓ فرمایی چي نبی کریم ﷺ وفرمایل چي څوک په څو خبرو عمل وکړي ۱ . د حرامو خبرو څخه ځان وساتي د الله جل جلاله په غتهو بندګانو کي شمېرل کیږي ۲ . د الله جل جلاله پر تقدیر سره راضي کېدل د الله جل جلاله په ډېر بې نیازه بندګانو کي شمېرل کیږي ۳ . د خپل پړوسي همسایه سره ښه سلوک کولو سره مسلمان جوړیږي ۴ . کم شی چي د ځان دپاره خوښوي دبل دپاره یې هم خوښوي نو کامل مسلمان ګرځي ۵ . ډېر نه خندل ولي چي زړه وژني .

❁..(۱۲) ابو شریح خذاعي فرمایی چي نبي کریم ﷺ وویل قسم په الله قسم په الله مسلمان نه دی مسلمان نه دی ما وویل څوک یا رسول الله ده وویل هغه څوک چي د خپل همسایه د ده د شرارت او افاتو څخه په امان نه وي .

❁..(۱۳) ابو هریرهؓ روایت کوي جنت ته نسي تلای هغه څوک څو پوري د پوره ایمان خاوند نسي او ته پوره مومن نه سی کېدای څو پوري چي یو د بله محبت سره ونکړئ او زه به داسي شی درونښیم چي هغه وکړې نو محبت به مو سره زیات سي ما وویل هغه څه شی دی رسول الله ﷺ وویل سلام یو د بله سره اچول دا محبت سره زیاتوي .

۞..(١٤) د حضرت تميم داري څخه روايت دی چې هغه فرمايی چې دين د خلوص او فا داري نوم دی ما ورته وويل چې د چا سره خلوص او وفا داري وکړم رسول الله ﷺ وفرمايل د الله جل جلاله سره خلوص او د الله جل جلاله د کتاب سره او د مسلمانانو او د مشرانو او د عوامو سره او د مسلمانانو د پيشوائيانو سره محبت کول .

۞..(١٥) حضرت ابو سعيد خدریؓ روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايی چې څه بده خبره چې خلاف شرعه وي که دي ولیده په لاس يې منع کړه که دي طاقت نه وي چې منع يې کړې بيا يې په ژبه سره منع کړه که دي په دې هم طاقت نه وي نو په زړه کي بد ورڅخه وړه نو دا ضعيف د ايمان دی او د الله او د الله د رسول سره محبت کول .

۞..(١٦) حضرت انسؓ څخه روايت دی چې په چا کښې درې شيان وي هغه به حلاوت يعني شيريني د ايمان ويني چې الله او رسول الله يې داسي دوست وي چې د دوی څخه ماسویٰ د بل چا سره دومره دوستي نه وي دا سړی به د ايمان شيريني ويني او بل هغه شخص چې د چا سره محبت کوي د الله جل جلاله دپاره يې کوي يعني د دنياوي اغراضو لپاره نه وي بل هغه سړی دی چې الله جل جلاله د کفر خلاص کړی دی د کفره څخه يې داسي بد کيږي چې کافر ورته ووايی چې اور ته دي ور اچوم څخه زور نه ورته غواړي خو کفر زور ورته غواړي .

۞..(١٧) د حضرت معاذ بن جبلؓ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه د بنه ايمان پوښتنه وکړه چې بنه ايمان څه شی دی او هغه کوم عمل دی چې په هغه سره اعلیٰ ايمان حاصل شي نو رسول الله

ﷺ وویل چي د چا سره محبت کول د الله جل جلاله د وجهي او د چا سره محبت نه کول د الله جل جلاله د وجهي او د چا سره بغض مه کوه بغیر د الله جل جلاله د وجهي او په خپله ژبه الله یادوه .

۞..(۱۸) حضور ﷺ فرمایلي دي چي تر ټولو اول الله جل جلاله قلم پیدا کړی الله جل جلاله حکم ورته وکړی چي ولیکه قلم وویل چي څه ولیکم الله جل جلاله ورته وویل تقدیر ولیکه د الله جل جلاله د خوښي مطابق ټوله ولیکه او چي څه پیدا کېدونکي دي و یې لیکه .

۞..(۱۹) لکه رسول الله ﷺ فرمایی هر شی په تقدیر کي لیکلی دی حتی هوښیاري او عجز دواړه تقدر کي دي .

۞..(۲۰) فخر عالم ﷺ فرمایی هر چا چي شاهدي اداء کړه چي د الله جل جلاله نه سویٰ بل معبود نسته او محمد ﷺ د الله جل جلاله پیغمبر دی پر هغه د دوزخ اور حرام دی (مسلم)

۞..(۲۱) رحمت عالم ﷺ فرمایی چي څوک په داسي حال کي مړ سو چي د الله جل جلاله سره یې شرک نیولی وي جنت ته به نسي داخل او څوک چي په داسي حال کي مړ سو چي د الله جل جلاله سره یې شریک نه وي نیولی هغه به جنت ته داخل سي .

۞..(۲۲) نبي کریم ﷺ فرمایی چي هغه چا د اسلام مزه واخیستله چي الله جل جلاله یې راضي کړی چي زما ربّ دی او په رسول الله ﷺ راضي سو چي زما رسول دی او په اسلام راضي سو چي زما دین دی . (مسلم)

۞..(۲۳) حضرت معاذ بن جبلؓ فرمایی ښه ایمان دا دی چي د الله جل

جلالـه دپاره محبت کوي او د الله جل جلالـه دپاره بغض کوي او د الله جل جلالـه ذکر کـوي او هـغـه شی بل ته خوښوي کوم چې خان ته خوښوي .

❁..(۲۴) رسـول الله ﷺ فرمایی چې بېشکه د الله جل جلالـه حق پر بندګانو دا دی چې د الله جل جلالـه عبادت کوي او د الله جل جلالـه سره شریک نه نسـي او د بـنـده حق بیـا دا دی چې الله یې نـه په عذابوي چا چې د الله ج سره شریک نه وي نیولی .

❁..(۲۵) محمّد ﷺ فرمایی زما دي قسم په هغه ذات وي چې زما ساه د هغـه په لاس کې ده چې تر قیامته پوري څوک مخلوق د الله جل جلاله زمـا نـوم واوري بیا ایمان نه راوړي زما پر رسالت باندي او بیا مړ سي دی به ضرور دوزخي وي یهودي وي که نصراني وي (مسلم)

فـائده: . څه دینونه چې ماسویٰ د دین اسلام څخه دا نور ټول باطل دي یـا الله جـل جـلالـه زمـا عاجزه بې چاره مفتي عبد الرازق اخره خاتمه پر ایمان کړې یا الله جل جلالـه ما تـه مرګ ستا په لار کې راکړې .

❁..(۲۶) رسـول الله ﷺ فـرمـایی چې الله جل جلالـه ما تـه حکـم کړی دی چې د الله جـل جـلالـه په لار کې جنګ کوه تر هغه وخته پوري چې خلق لاالـه الا الله مـحـمـد رسـول الله وایی او لـمـونځ او زکوة ورکوي د دغه خـلـقـو مـال نفس زما څخه خلاص سو مګر نه ده اسلام په حق سره چې وي لکه قصاص حدود مثلاً (بخاري شریف)

❁..(۲۷) رسـول الله ﷺ فرمایی چا سره چې درې شیان وي د هغـه سره د ایـمـان خـونـدوي . (۱) د الله جل جـلالـه محبت (۲) د رسول الله ﷺ

محبت (۳) د بندګانو سره د الله جل جلاله دپاره محبت الله جل جلاله به يې په دې محبت سره د دوږخ څخه وساتي . (بخاري ، مسلم)

❁..(۲۸) رسول الله ﷺ فرمايي چې، تا څوک وليدی چې مسجد يې آباد کوی نو تاسو شاهدي په ايمان د هغه اداء کړئ ولي الله جل جلاله فرمايی: ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ﴾ (ترمذي)

❁..(۲۹) سرور عالم محمد ﷺ فرمايی چې څوک مؤمن کامل نسي کېدای څو پوري چې يې خواهشات نفساني د شريعت تابعداره نه کړه . (مشکوة)

❁..(۳۰) نبي کريم ﷺ فرمايی چې مسلمان هغه دی چې د ده د ژبې او لاس څخه مسلمان سلامت وي او مؤمن هغه دی چې د ده څخه مسلمانان د مال او نفس په باره کي څه خطر نه محسوسوي . (ترمذي)

❁..(۳۱) په بل حديث کي دي چې مجاهد هغه دی چې د الله جل جلاله د فرمانبرادري په خاطر جهاد کوي او مهاجر هغه دی چې ګناهونه او خطاوي پرېږدي .

❁..(۳۲) رسول الله ﷺ فرمايی هغه داسي وايی : چې خبردار هغه څوک ايمان نه لري چې امانت داري نه لري او د هغه دين نسته چې وعده نه لري او د هغه دين نسته چې وعده نه لري يعني وعده نه پوره کوي .

❁..(۳۳) رسول الله ﷺ فرمايی چې خبردار تاسو ته شيطان راځي وسوسې دراچوي او قسم قسم سوالونه مو په ذهن کي دراچوي چې

فلانی شی خدای جل جلاله پیدا کړی دی فلانی شی خدای (ج) پیدا کړی دی نو خدای (ج) چا پیدا کړی دی نو تاسو اعوذ بالله من الشیطن الرجیم وو ایاست په بل روایت کي وایی تاسو امنت بالله و رسوله وو ایاست .

۞..(۳٤) رسول الله ﷺ فرمایی چي د منافق داسي مثال دی لکه د یو رمې ځخه چي بزه دوري هوريوزي او ننوزي د دغه بزې مثال يې دی . (مسلم) هغه څوک منافق دی چي د مسلمانانو سره هم تعلق ساتي او د کفارو سره هم تعلق ساتي لپاره د دې چي د دواړو څخه نفعه حاصله کړي .

۞..(۳٥) لکه حدیث شریف کي چي تېر سو لکه بزه هلته او هلته ګرزي د خوراک په خاطر منافق مطلب پرست وي د مطلب لپاره هر کار کوي قرآن وایی لا الی هؤلاء و لا الی هؤلاء (چهل حدیث ص١٦) هادی عالم فخر الموجودات ﷺ فرمایی چي چا کښي څلور خویه وي هغه خالص منافق دی او که یو خوی پکښې وو نو خالص منافق نه دی په ده کښي یو خوی د نفاق تر څو چي هغه نه پرېږدي ۱: چي د ده سره امانت کښېږدي خیانت کوي ۲: چي خبري کوي نو دروا غ وایی ۳: چي وعده وکړي نو درواغ کوي یعني مخالفت د وعدې کوي ۴: چي جګړه کوي نو بنکنځل کوي .

۞..(۳٦) سید البشر فرمایی چي مؤمن شریف وي او کافر چل باز وي .

۞..(۳۷) رسول الله ﷺ فرمایی چي مؤمن د یوې غاري څخه دوه واره نه چیچل کیږي یعني چي یو وار دوکه سو چا فریب ورسره وکړی بیا یې

دوباره نه سي خطا ايستلى .

❁..(۳۸) رسول الله ﷺ فرمايي چي مؤمن مؤمن نه دى ځو پورې چي خوښ نكړي هغه شى چي ځان ته يې خوښوي هغه شى بل مسلمان ته هم خوښوي (بخاري، مسلم)

❁..(۳۹) رسول الله ﷺ فرمايي و الله مسلم نه دى و الله مسلم نه دى والله مسلم نه دي هغه څوك چي د ده د شره څخه مسلمان په امان نه وي .

❁..(٤٠) رسول الله ﷺ فرمايي چي پر قرآن يې ايمان نه دى راوړى چي د قرآن حرام كړل شوي شيان حرام و نه بولي .

❁..(٤١) رسول الله ﷺ فرمايي چي زاني مؤمن نه دى چي زنا كوي غل مؤمن نه دى چي غلا كوي او شراب خور مؤمن نه دى چي شراب خوري او لوټ مار مؤمن نه دى چي لوټ ماري كوي چي خلك ورته ګوري او چي په غنيمت كي خيانت كوي مؤمن نه دى چي خيانت كوي (بخاري، مسلم) يعني ټول شيان د ايمان سره سرار منافي دي هغه مؤمن كامل نسي كېداى چي دا مذكوره افعال كوي .

❁..(٤٢) رسول الله ﷺ فرمايي چي دا اووه (۷) هلاكېدونكو شيانو څخه ځان وساتئ صحابه كرامو عرض وكړى يا رسول الله هغه كوم شيان دي رسول الله ﷺ وفرمايل ۱: د الله سره شريک نيول ۲: جادو كول ۳: د مسلمان قتل كول ۴: سود خوړل ۵: د يتيم مال خوړل ٦: ميدان جهاد كي شا ګرزول ۷: پر پاكو ښځو تهمت لګول يعني ګناهونه ډېر دي د هري ګناه څخه ځان ساتل ضروري دي لكه په حديث نمبر ۲۹ كي

تېر شو .

❁..(٤٣)رسـول الله ﷺ فـرمايي مسلمان به نرم وي او په هر كار كي به د مؤمن مدد گار وي لكه هغه نته ؤالا اوبن هر ځوك چي يې كش كړي تـابعداري يې كوي كه يې ځوک څو كوي څو كيږي او كه يې ولاړوي ولاړيږي حديث شريف كي راځي چي چا كي حيا نه وي نو هغه كي ايمان هم نه وي .

❁..(٤٤) رسـول الله ﷺ فـرمـايـي چي ايمان او حيا سره ملگري دي چي يـو ولاړ سي هـغـه بـل هم ځي يعني چي مؤمن وي او حيا دار نه وي نو داسي نسي كېداى طعن ويونكى لعنت ويونكى والا مؤمن نه دى .

❁..(٤٥) رسـول الله ﷺ فـرمايي چي مؤمن نه دى هغه ځوک چي طعن ويونكى وي او لعنت ويونكى وي او بد ويونكى وي . (ترمذي)

❁..(٤٦) رسـول الله ﷺ فـرمـايـي چي د خيـر د خبرو څخه مؤمن نـه مړيږي تر څو اخر انجام يې جنت وي . (ترمذي)

❁..(٤٧) رسـول الله ﷺ فـرمـايـي چي مـؤمـن تـه به تـكـليـفونه رسيږي غـمـونـه رنځـونـه الله جـل جـلالـه ضـرور د دې بدلـه وركوي او د گناهو كفاره يې گرزي . (بخاري)

❁..(٤٨)رسـول الله ﷺ فـرمـايي د مسلمان عجب حال دى بلا شكه د ده هـر حـال خيـر دى د مؤمن څخه ماسوىٰ داحال بل چا ته نه نصيب كيږي كـه خـوښي ور ورسيږي شكر اداكوي او كه تـكـليـف ور ورسيږي صبر كوي دا تر شكر هم بهتر دى .

❁..(٤٩) رسـول الله ﷺ فرمايي دنيا د مؤمن جېل خانه ده او جېل خانه د

قحطي ځای دی چي د دنیا ښخه ولاړی د جنډل ښخه ولاړی .

❁..(٥٠)رسول الله ﷺ فرمایی چا چي په اخلاص لا اله الا الله محمد رسول الله وویل جنت ته به ځي چا سوال وکړی چي په اخلاص یې وایی ده ورته وویل چي په اخلاص او سره د کلمې د منع کونکو شیانو ښخه منع وکړي .

فائده: . د لا اله الا الله د تقاضا او مطالبو هغه شخص عامل دی چي په اخلاص یې وویله .

❁..(٥١) رسول الله ﷺ فرمایی چي بې شکه بنده د دوزخ والا کار کوي یعني کفر کوي کوي اخر ایمان راوړي په دې سره جنتي سي یو بنده د جنتي کارونه کوي اخر د کفر عمل وکړي دوزخي سي الله جل جلاله دي د الحاج مفتي عبد الرازق صاحب آخره خبره لا اله الا الله محمد رسول الله وګرزوي . (آمین)

قصه:

یو تبلیغي ورور قصه کوله چي موږ یو ځای د کفر ملک ته ورغلو نو سره ناست وو نو یو سپین ږیری کافر پر لکړه راغلی نو موږ یې ډیر عزت وکړی دې سپین ږیري وویل چي زما خپلو زامنو او قریبانو هم دومره عزت نه دی کړی نو ما ته ستاسو دین و ښه یاست نو موږ کلمه ورته وویله سړي دالته پرې وتی پر ځان یې پټو واچوی بیده سو ډیروخت وروسته موږ پټو ورښخه لیري کړ نو دی مړ وو نو تاسو وګورئ آخره خاتمه پټه ده یوازي الله جل جلاله ته معلومه ده .

❁..(٥٢) عن سلمان رضی الله عنه قال سئلت رسول الله ﷺ عن

اربعین حدیثا ن التی قال من حفظها من امتی دخل الجنة قلت و ما هی یا رسول الله قال ۱: ان تومن بالله ۲: والیوم الاخر ۳: و الملئکة ۴: و الکتب ۵: والنبیین ٦: والبعث بعد الموت ۷: والقدر خیره و شره من الله تعالی ۸: و ان تشهد ان لا اله الا الله و ان محمد رسول الله ۹: و تقیم الصلوة بوضوء سابغ کامل لوقتها ۱۰: و تؤتی الزکوة ۱۱: و تصوم الرمضان ۱۲: و تحج البیت ان کان لک مال ۱۳: و تصلی اثنی عشرة رکعة فی کل یوم و لیلة ۱۴: والوتر لا تترکه فی کل لیلة ۱۵: و لا تشرک بالله شئیاً ۱٦: و لا تعق والدیک ۱۷: و لا تأکل مال الیتیم ظلما ۱۸: و لا تشرب الخمر ۱۹: و لا تزن ۲۰: و لا تحلف بالله کاذباً ۲۱: و لا تشهد شهادة کذباً ۲۲: و لا تعمل بالهویٰ ۲۳: و لا تغتب اخاک المسلم ۲۴: و لا تقذف المحصنة ۲۵: و لا تغل اخاک المسلم ۲٦: و لا تلعب ۲۷ و لا تلهـ مع اللاهین ۲۸: و لا تقل للقصیر یا قصیر ترید بذلک عیبه ۲۹: و لا تسخر باحد من الناس ۳۰: و لا تمش بالنمیمة بین الاخوین ۳۱: واشکر الله تعالی علی نعمته ۳۲: واصبر علی البلاء والمصیبة ۳۳: و لا تأمن من عقاب الله ۳۴: و لا تقطع اقربائک ۳۵: صلهم ۳٦: و لا تلعن احد من خلق الله ۳۷: و اکثر من التسبیح والتکبیر والتهلیل ۳۸: و لا تدع حضور الجمعة و العیدین ۳۹: واعلم ان ما اصابک لم یکن لیخطئک و ما اخطئک لم یکن لیصیبک ۴۰: و لا تدع قرائت القرآن علی کل حال قلت یا رسول الله ما ثواب من حفظ هذه الاربعین قال حشره الله تعالی مع الانبیاء والعلماء یوم القیامة، (کنز العمال ج ۵/ ۳۳۸)

ترجمه : د حدیث :

۱: ایمان پر الله جل جلاله ۲: ایمان پر ورځ د اخرت ۳: ایمان پر ملائیکو ۴: ایمان پر کتابو ۵: ایمان پر نبیانو ٦: ایمان پر راپورته کېدو پس د مرګه ۷: ایمان پر قدر د خیر او شر د الله جل جلاله د طرف ۸: شاهدي پر دې چې نشته بل معبود ماسوا د الله جل جلاله څخه او محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی ۹: لمونځ په اوداسه کامل سره په خپل وخت کې ۱۰: زکوٰة ورکول ۱۱: روژه نیول ۱۲: حج د مکې که دې مال وو ۱۳: دوولس رکعته لمونځ په ورځ او شپه کې ۱۴: وتر کول نه پرېښول په ټوله شپه کې ۱۵: شریک نه نیول د الله جل جلاله سره هیڅ شی ۱٦: نه عاق کول د مور او پلار ۱۷: مه خوره مال د یتیم په ظلم ۱۸: شراب مه چیښه ۱۹: زنا مه کوه ۲۰: قسم مه خوره په الله جل جلاله دروغجن قسم ۲۱: د دروغو شاهدي مه اداء کوه ۲۲: عمل په هوا مه کوه ۲۳: غیبت د مسلم ورور مه کوه ۲۴: پاکي ښځي ته نسبت د زنا مه کوه ۲۵: خیانت د مسلمان وروړ سره مه کوه ۲٦: لعب مه کوه ۲۷: عبث مه کوه سره د عبث کونکو ۲۸: مه وایه ولنډ سړي ته یا لنډیه چې عیب یې وایی ۲۹: مسخره په هیچا مه کوه ۳۰: تګه په چوغول خوري مه کوئ په مابین د ورونو کې ۳۱: شکر پر نعمت د الله جل جلاله وایه ۳۲: صبر کوه پر بلا او مصیبت باندي ۳۳: په امن مه کېږه د الله جل جلاله د عذاب څخه ۳۴: د اقرباؤ سره قطع د وصیله رحمي مه کوه ۳۵: لعنت مه وایه پر یوه د الله جل جلاله د مخلوق ۳٦: ډېر لا اله الا الله وایه الله اکبر وایه سبحان الله وایه ۳۷: د جمعې او اخترلمونځ مه پرېږده ۳۸: پوه سه

چي تا تـه ورسیده هغـه نـه خطاء کیده او چي خطاء دي نـه رسیده۳۹:
قرائت د قرآن مه پریږده په هر حال کي ما وویل چي یا رسول الله چي چا
دا څلو ښنت حدیث یاد کړه څه ثواب یې دی رسول الله ﷺ وفرمایل الله
جل جلاله به یې د انبیاؤ او علماؤ سره را پورته کړي حشر به یې د هغو
سره وي . (کنز العمال ج ۵/ ص۲۲۸)

قصه :

یو وخت عیسیٰ علیه السلام راروان وو یو سړی یو قبر ته ناست
دی او ژاړي عیسیٰ علیه السلام ورته وویل ولي ژاړې ده وویل یوه
هفته کیږي دا مو ښځه ده مړه ده نو زه ژاړم عیسیٰ علیه السلام
خواست الله جل جلاله ته وکړی چي الله ته یې ژوندی کړی د هغه قبره
څخه یو حبشي را پورته سو داور لمبې پر گرزېدی دستی یې پر
عیسی علیه السلام ایمان راوړی او د سړي څخه قبر غلط سوی وو
بیا یې بل قبر ته دعاء وکړه د هغه څخه ښځه را پورته سوه سړی بد
خوابه وو بیده سو د بلي خوا د بادشاه زوی را تېرېدی ښځه د هغه سره
ولاړه او خپل مېړه یې بیده پریښوډی سړی چي را کښېنستی ښځه
تللې ده اخر یې د باد شاه په کور کي پیدا کړه دعوه یې پر وکړه چي دا
زما ښځه ده ښځه منکره سوه اخر عیسی علیه السلام راغلی و ښځي
ته یې وویل چي ته الله جل جلاله زما په دعاء نکړی ژوندی ښځه
منکره سوه چي زه الله (ج) نه یم ژوندی کړی کافره سوه بیرته عیسی
علیه السلام خواست وکړی مړه سوه مسلمانه مړه وه بیرته کافره مړه
سوه .

۞..(۵۳) د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت یو سړی د رسول الله ﷺ خدمت کي حاضر سو عرض یې و کړی چي یا رسول الله څه وایې په هغه جماعت کي چي زه نه یم ور سره میلاو سوی خو محبت ور سره لرم رسول الله ﷺ و فرمایل چي څوک د چا سره محبت لري په اخرت کي به هم د هغه سره وي . (بخاري، مسلم)

افسوس نن زمانه کي علماء په دهشت گرد باندي نامداره کیږي او خلک بد ور څخه وړي او د علماؤ دښمني کوي او د اهل رسول عرب خلک حلالوي او هغو ته د القاعده نسبت کوي دا فیصله به هلته کیږي چي الله جل جلاله قاضي وي چي څوک دهشت گرد دی او افسوس پر داسي علماؤ چي هغه هم د بش ملګري دي او ده هغه تر قیادت لاندي کار کوي داسي علماء هم سته حال هم دا دی چي د طالبانو په تحریک کي ما یوه دنده هم نه ده کړې او نه ما یوه روپۍ د تحریک وړې ده حتیٰ بعض وطني ملایانو یا دښمنانو زه د طالبانو مخالف بللم خو بیا هم الله جل جلاله لره حمد دی چي کوم وخت دا حلوا وو هلته یې زه مخالف بللم اوس زه خپله دا علان کومه چي د طالبانو زه ملګری یم او هر طالب زما ورور دی او ما دي الله جل جلاله د طالبانو حقاني ډله کي را پورته کړې او ما ته دي الله جل جلاله د حق ویلو توفیق را کړي آمین .

۞..(۵٤) حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي یو سړی رسول الله ﷺ ته راغلی ویې ویل چي قیامت کله دی رسول الله ﷺ ور ته وویل څه دي تیار کړي دي هغه وویل هیڅ مي هم نه دي تیار کړي

صرف د الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسول سره محبت لرم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي ته د چا سره محبت لرې د هغه سره به په ورځ د قيامت يې نو صحابه كرام تر اسلام وروسته په دې خبره خوشحاله سوو . (بخاري، مسلم)

۞..(٥٥) حضور ﷺ ته يو سړي وويل چي يا رسول الله ته ما ته تر خپل پلار مور اولاد مال جان تر ټولو قريب يې يا رسول الله كور كي زما قرار نه كيږي څو پوري چي مي ته نه يې ليدلى بيا تا ته راسم تاسو سره ملاقات وكړم بيا مي زړه برقرار سي او زما په فكر كي راځي چي كه ته مړ سوې نو تاسو خو به د بلندي مرتبې كي ياست د انبياؤ مرتبه كي زه كه مړ سوم او الله جل جلاله احسان وكړى او جنت يې را كړې نو زه خو تاسو نسم ليدى ولي تاسو به په لوړ مقام كي ياست رسول الله ﷺ جواب وركړى په دې آيت سره ﴿وَمَن يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَـٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَـٰئِكَ رَفِيقاً﴾ «سورة النساء، ركوع ۹ پاره ۵» بېشكه څوك چي اطاعت د الله او رسول الله وكړي هغه به د انبياؤ او صالحينو او شهداؤ سره په ورځ د قيامت ملګرى وي او د هغوى سره به وي د الله تعالىٰ ارشاد دى چي زما محبت واجب دى د هغه چا سره چي يو د بله زما د پاره محبت سره كوي او زما د وجهي تعلق سره لري يو د بله زما د وجهي سره كښېني او يو د بله زما د وجهي ملاقات كوي او زما د وجهي يو پر بل خرچه كوي . (موطاء امام مالك)

۞..(٥٦) رسول الله ﷺ فرمايي د الله جل جلاله داسي بندګان سته چي

نه به نبي وي او نه به شهيد وي مګر د دوی د خاص مقام په وجه به انبياء او اولياء غبطه کوي صحابه وو عرض وکړی يا رسول الله موږ ته يې وښيه چې هغه کوم بندګان دي رسول الله ﷺ وويل هغه هغه کسان دي چې بغير څه قرابته بغير څه کاره دوی د الله جل جلاله په وجه سره قرابت کوي او يو بل خوشحالي سره کوي خو د الله جل جلاله دپاره او په عامو انسانانو به په داغه ورځ خوف بېره وي نو پر دوی به بېره نه وي او مطمئن به وي او عام انسانان به په غم وي دوی به بې غمه وي په سبب د دې آيت کريمه ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ (سورة يونس رکوع ۷، پاره ۱۱) نو معلومه سود چې څوک د الله جل جلاله دوست وي پر هغه به خوف او بېره نه وي الله جل جلاله به هغه ساتلی وي . (سنن ابي داود)

❁..(۵۷) حضرت معاذ بن جبل فرمايي د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې الله جل جلاله فرمايي چې پر ما واجب دی چې زه به محبت کوم د هغه چا سره چې هغه زما د وجهي يو د بله دوستي سره کوي او زما د وجهي يو د بله ذکر کوي او زما د محبت د وجهي يو د بله ملاقات سره کوي . (ترمذي، ابو داود)

❁..(۵۸) حضرت ابو زرؓ فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي چې زه به تا ته داسي شی وښيم چې د دين او دنيا لوړوالی به په هغه سره وي هغه دا دی چې د اهل ذکر مجالسو کي کښيني او که يوازي وي هم د الله جل جلاله ذکر کوه او دريم د الله جل جلاله دپاره محبت کوه او د الله جل جلاله دپاره بغض کوه . (رواه البيهقی فی شعب الايمان) دا

معلومه خبره ده چي مجلس نېکه رينبه ده تمام دين ده دين د حقيقت د دين د حلاوت د دين د قوت چي د دې ټولو ذريعو بنه ذريعه نېک مجلس دی وسوسې د ايمان سره منافي نه دي او انسان په وسوسو سره نه نيول کيږي .

۞..(۵۹) د عبد الله بن عباس روايت دی چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو سړی حاضر سو چي يا رسول الله زما په زړه کي داسي خبري راسي چي ايره شم نو خوښه مي ده خو نه چي داخبره چا ته وکړم رسول الله ﷺ وويل چي الحمد لله چي دا معامله په وسوسه بدله سوه يعني نيول نسته پر وسوسه .

۞..(۶۰) حضرت ابو هريرهؓ فرمايي چي خلکو ته همېشه سوالونه او چون و چرا پيدا کيږي تر څو پوري چي الله جل جلاله ټوله مخلوق پيدا کړی دی نو الله جل جلاله چا پيدا کړيدی چي و دې ته د ده خبره ورسېده نو دی ووايی چي پر الله جل جلاله مي ايمان دی او د الله جل جلاله پر رسول مي ايمان دی . (معارف الحديث، بخاري و مسلم)

۞..(۶۱) حضرت ابو خزامهؓ فرمايي چي زما پلار روايت کوي چي ما رسول الله ﷺ ته وويل چي يا رسول الله زه دوا کوم يا بل علاج کوم دا د الله جل جلاله د تقدير شی دی رسول الله ﷺ وفرمايل دا هغه دوا عيني تقدير د الله جل جلاله دی هر څه د الله جل جلاله تقدير دی نو تقديره څخه د الله جل جلاله شی هم وتلی نه دی .

۞..(۶۲) ابو هريره رضی الله عنه فرمايي يوه ورځ مونږ په مسجد کي ناست وو په تقدير کي مو بحث کاوی رسول الله ﷺ تشريف ... او ...

او په غضب سو چهره مبارکه یې سورو الی پیدا کړي او وي فرمایل چي زه تاسو ته دا حکم بیا نه وم او یا زه په دې سره تاسو ته را استول سوي یم پخواني خلکو چي هغوی بحث کاوی هلاک سو تا سو هم د هغو طریقه خپلوي . (ترمذي)

۞..(٦٣) د حضرت علي ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایی چي د هر سړي د دوز خ ځای معلوم دی او د جنت ځای یې معلوم دی که جنتي وو یعني د هر انسان جنتي توب او دوزخي توب معلوم دی صحابه وو عرض وکړ یا رسول الله په خپل تقدیر به کښېنو که دوزخیانوو که جنتیان وو معنی دا ده چي تو له شیان معلوم شوي دي رسول الله ﷺ وفرمایل چي نه بدبخته ته الله جل جلاله د بدبختي کاروسا کړي او نیک بخته ته الله جل جلاله د نیک بختي کاروسا کړی په دی آیت سره ﴿ فَأَمَّا مَن أَعْطَى وَاتَّقَى ـ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى ـ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى ـ وَأَمَّا مَن بَخِلَ وَاسْتَغْنَى ـ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى ـ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى ﴾ (سورة الليل: پاره ۳۰)

یعني هغه څوک چي د ده دپاره ورکړه ورکوي او د الله جل جلاله څخه بېرېږي الله جل جلاله به ده ته د جنت لار وسا کړي هغه څوک چي د الله جل جلاله څخه نه بېرېږي بخل کوي او ځان یې په مال غني کړی وي او د الله جل جلاله تکذیب کوي الله جل جلاله به ده ته د جهنم لار وسا کړي (ترمذي) یعني تقدیر هم د ایمان یو جزء دی سړی به تقدیر د خیر او شر الله جل جلاله ته مفوض کوي او د الله جل جلاله به اخره خاتمه په خیر غواړي داسي نه سي .

۞..(٦٤) ابی هریرهؓ فرمایی تاسو تلوار کوئ ...
وخت مخکي چي داسي فتنې به راسي لکه د ...
مسلمان وي مابنام به کافر وي مابنام به مسلمان ...
وي دین به په دینا خرڅوي . (ترمذي ج۲/ ۲۲) ...
پښتو شعر وایی څوځو پر مخ روان یو موږ د بش ...
قوم مشران دا وایی زه د بش زوی یم دا بعینه مصداق د ...
ﷺ دی اې مسلمانانو ورونو د الله جل جلاله په ...
خپل اسلام وساتئ دنیا تیرېدونکې ده ایمان اسلا ...
خرڅوئ په یهود پرست او نصرانیت پرست علماؤ د ...
ایمان پر دین د رسول الله ﷺ وساتئ او د الله جل جلاله ...
کوئ چي الله اخیره خاتمه مو پر ایمان کړي لکه ترمذي ...
باب ما جاء ان الاعمال بالخواتیم . که دي عمل پ ...
نو یهودي یې او که دي عمل پر نصرانیت وو نو نص ...
جل جلاله ته دعاوي کوئ چي خاتمه پته ده الله جل جلا ...
۞..(٦٥) لکه حدیث کي راځي یو سړی عمل د نېکو کو ...
یې الله جل جلاله پر کفر کړې وي او یو سړی عمل ...
دوزخ ته یې یو ګز مخکه پاته وي اخر مسلمان ...
کوي ځکه په دعا کي اثر سته لکه ترمذي ج ۲، ص ۲۵ ...
الا الدعاء، د الله تقدیر بل شی نه سي ردولی بغیر دعا ...
۞..(٦٦)عن سلمان رسول الله ﷺ فرمایی نه دروني ...
دعاء نه راولي زیادت په عمر کي مګر وصیله رحمي ...

ص ٣٥) دا قلم مي ځکه پورته کړی چي رسول الله ﷺ فرمایی :
﴿..(٦٧) افضل الجهاد کلمة عدل عند سلطان جائر . (ترمذي.ج ٢/٤٠)
﴿..(٦٨) قال رسول الله ﷺ ان من اعظم الجهاد کلمة عدل عند سلطان جائر . (ترمذي ج٢/٤٠) الله دي د دین دښمنان تباه او برباد کړي او الله دي کلمة الحق او دعوة الحق بلند وګرزوي (آمین) مسلمانانو ورونو د کفر د فتنو ځخه ځان ساتل دا د ایمان جزء دی بلکه ایمان دا دی چي د کفره څخه ځان وساتئ .
﴿..(٦٩) رسول الله ﷺ فرمایی چي زه تاسو ته وصیت کوم په تقویٰ د الله جل جلاله سره ولي چي تقوی ډیره ښه لاره ده .
﴿..(٧٠) او ابو زرؓ وفرمایل ماته وصیت وکړه رسول الله ﷺ وفرمایل چي ته د قرآن تلاوت کوه او د الله جل جلاله ذکر کوه ولي چي دا تلاوت او ذکر کوئ نو آسمانونه به ستاسو ذکر کوي او یاد کوئ خو نن ورځ قرآن والا خلکو ته دهشت ګرد ویل کیږي او هغوی ته د دهشت ګرد نسبت کیږي .
﴿..(٧١) حضرت معاویهؓ و بي بي عائشې ام المؤمنین ته خط واستوئ چي نصیحت راته وکړه خو کم نصیحت وکړه هغې په خط کي ولیکل سلام دي پر تا وي وروسته ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چې څوک الله جل جلاله راضي کړي یعني راضي کول یې غواړي نو الله جل جلاله به یې د خلکو څخه استغنیٰ راولي او څوک چي بندګان راضي کوي او د الله جل جلاله فکر نه کوي الله جل جلاله یې و خلکو ته دی سپاري او الله جل جلاله یې امداد نه کوي دا

سلام . (ترمذي معارف الحديث)

❁..(۷۲) رسول الله ﷺ فرمايي يو سړي د لاري څخه خاشې ډبري ليري کړې الله جل جلاله يې قبولي کړې نو الله جنت ورکړی و يې بخښی . (ترمذي ج ۲/۱٦)

❁..(۷۳) ابي سلمة فرمايي چي دوکه کونکی بخيل او احسان اچونکی جنت ته نسي تلای . (ترمذي ج ۲/۱۷)

❁..(۷٤) جابر رض فرمايي چي رسول الله ﷺ فرمايي هغه ښه او محبوب او اقرب و مجلس ته زما په قيامت ښه اخلاق والا خلق دي . (الحديث ترمذي ج ۲/۲۲) او د ايمان شعبو کي ښه شعبه لا اله الا الله او کمه ښاخله يې ليري کېدل د ضرر دلاري څخه . (کتاب الايمان ابن تميمه ص ۸ بخاري مسلم)

❁..(۷۵)رسول الله ﷺ وايي که چا بد کار ولیدی تغير دي ورکړي په ژبه يا په لاس يا په زړه سه بد ورڅخه وړي دا ضعيف ايمان دی .

❁..(۷٦) رسول الله ﷺ فرمايي زما دي قسم په خدای جل جلاله وي تاسو به جنت ته نه‌ئي داخل شو پوري چي مو ايمان نه وي راوړی او لا ايمان راوړونکي نسي کېدای شو پوري چي محبت سره و نه کړئ در ونه ښيم هغه شی چي تاسو يې وکړئ محبت‌به مو پیدا سي هغه سلام اچول دي او په قرآن شريف کي هم دي چي مؤمن مسلمان کامل هغه څوک دی چي عمل هم ورسره وکړي يعني نه يوازي کلمة ويل بلکه نېک عمل هم ورسره کول دې ته مؤمن کامل وايي لکه په دې يت کي ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ ﴾ (البقرة :۲۷۷) يعني

ایمان یې راوړی وي او عمل د نېکو یې کړی وي هغه مؤمن کامل دی یا په دې آیت سره ﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيْمَانَ ﴾ (الروم آیت ٥٦) وویل هغو کسانو چي هغو ته علم ورکول سوی وو او ایمان ورکول سوی وو یعني ښه یې عمل وو یا په دې قول د الله تعالی کي ﴿ يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِيْنَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِيْنَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾ (سورة المجادلة :١١) ترجمه الله درجه د مؤمنانو علماؤ پورته کړې ده ﴿ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ﴾ (النساء:١٦٢) ترجمه: مؤمنانو ایمان راوړیدی پر الله جل جلاله او پر هغه کتاب چي تا ته را نازل سوی دی چي قرآن دی او پر هغه کتاب چي مخکي نازل سوی دی ﴿مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحاً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (البقرة:٦٢) ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ أُوْلٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴾ (سورة البينة) مؤمنان هغه دي چي ایمان یې راوړی وي او عمل د نېکي یې کړی وي دا خلق خیر د خلقو دي که ایمان یوازي ذکر سو اسلام او عمل پکښې داخل دي لکه په حدیث د شعب کي الایمان بضع سبعون شعبة اعلٰها قول لا اله الاالله و ادناها اماطة الاذی عن الطریق (بخاری مسلمؒ) او که نفی د ایمان راغلې په نفي د عمل سره نو بیا د عمل څخه واجب عمل مراد دی او که چیري ذکر سو فضل د ایمان د صاحب د ایمان نو ورڅخه مراد مستحب عمل دی ولي الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم نه نیستي کوي مسمیٰ د یو کار مګر چي واجب نه وي لکه لا صلوة الا بام القران (متفق علیه) یا لکه لا ایمان لمن لا امانة له و لا دین لمن لا عهد له

(رواه احمد) ايمان نسته چي امانت نه وي دين نسته چي وعده نه وي . ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ﴾ (سورة الحجرات:۱۵) مومنان هغه څوک دي چي ايمان يې راوړی پر الله او د الله پر رسول يې ايمان راوړی وي او جهاد کوي په مال سره او په ځان سره په لار کي د الله جل جلاله نو دغه خلق رښتيا ګوی دي چي جهاد کوي که فرضي وي يعني عيني او که کفايی وي نو معلومه سوه چي جهاد نه کوي نو ګناه ده .

۞..(۷۷) ولي رسول الله ﷺ وايی چي څوک مړ سي جهاد يې نه وي کړی او فکر د جهاد يې هم نه وي کړی پر يوه ښاخله د منافقت مړ سو . (بخاري مسلم) الله جل جلاله وايی مؤمن هغه سړی دی چي د الله جل جلاله ذکر ياد سي د ده زړه رېږدي چي قرآن ويل کيږي د ده ايمان زياتيږي او پر الله جل جلاله توکل کوي او لمونځ کوي او د الله جل جلاله په لار کي نفقه ورکوي نه دغه په حقه مؤمنان دي . (سورة الانفال) ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾ الخ نو دا معلومه سوه چي توکل پر الله جل جلاله باندي دا هم واجب دی لکه اخلاص چي د الله جل جلاله دپاره واجب دی او حب د الله جل جلاله دپاره واجب ﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ (سورة التغابن:۱۳) پر الله جل جلاله توکل کوئ مومنان پر ټولو امورو کي به دي توکل پر الله وي الله به کارساز بولي شي ته به دي عقيده نه وي او الله وايی که الله ستاسو نصرت وکړی څوک به ستاسو کمزوري

وکړي او که الله جل جلاله تاسو کمزوری کړي څوک به مو نصرت وکړي بغیر الله جل جلاله څخه لکه و علی الله فلیتوکل المؤمنون (سورة ال عمران :۱٦۰) پر الله جل جلاله مؤمنان توکل کوي محترمو مطالعه کونکو زه به د آیت اول یا اخیر کي د ایمان لفظ راوړم بغیر د ې څخه چي داایمان بسیط دی که مرکب دی یامذهب د متکلمینو یا احنافو بیان کړم په هغه کي مکمل تصنیفونه شوي دي خو زه صرف د عوامو د پاره یو د ایمان یو څو حروف لیکم علمي لحظه نسته پکښي او نه ورته ضرورت سته ولي چي په دې باب لوی لوی کتابونه جوړ شویدي لکه کتاب الایمان ابن تیمیة او نور داسي کتابونه چي علمي څېړنه یې کړې ده زما تحقیق چي ولیکم دا به بې فائدې وي خو بیا هم پښتو یو څو خبري لیکم د تقریر په شکل ولي علمي بیان لیکل پکښي دا زما په نقص دلالت کوي ولي چي بخاري مسلم او نورو شروحو بیان ډیر کړیدی: ﴿ وَقَالَ مُوسَى يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴾ (سورة یونس:۸۴) موسی علیه السلام وویل اې قومه که تاسي ایمان راوړی وي پر الله جل جلاله نو پر الله جل جلاله توکل وکړئ که مسلمانان یاست . ﴿ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً ﴾ (سورة الانفال) ﴿ لَا تَجِدُ قَوْماً يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ﴾ (سورة المجادلة:۲۲) الله جل جلاله خبر ورکړی و رسول ته چي دوستي کول د

کفارو سره دامنافی د ایمان سره ده یعني دا سره ضد دي چي څوک مسلمان هم وي او د یهودو نصاریٰ وو دوستي هم کوي په زړه سره و ذالک دلیلا علی ان قلبه لیس فیه الایمان . (کتاب الایمان ص۱۲) یعني داسي سړی به مسلمان نسي پاته چي د کفر دوستي کوي . ﴿وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللهِ والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء﴾ (سورۃ المائدۃ :۸۱) په انتفاء د شرط انتفاء د مشروط راځي یعني که ایمان لرئ نو دوستي د کفارو مه کوئ که شرط د ایمان نه وي نو دوستي د کفارو کوئ) کتاب الایمان ص ۱۴) ﴿وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِّنْهُم مِن بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴾ یعني په خوله وایی موږ ایمان پر الله او پر رسول راوړیدی او امر د الله او د رسول مووړی دی وروسته یو فریقه د دوی څخه د الله څخه مخ ګرزوي نه دي دا کسان مومنان چي را وبولي الله جل جلاله ته او رسول ﷺ ته چي فیصله وکړي رسول ﷺ په حق نو دوی اعراض کونکي وي (سورۃ النور ۴۷ / ۵۱) معنی چي څوک د الله امر او رسول نه مي او امر الٰهی یو ډلامتیک ژوند بولي او دا ده ملایانو یو سیاست بولي او د کفري نړی قانون یو ښه قانون بولي دا مسلمان نه دی لکه سورۃ النور ۴۷ / ۵۱) بلکه مؤمنان هغه کسان دي : ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴾(سورۃ الحجرات:۱۵)

ترجمه: مؤمنان هغه کسان دي چي ایمان يې پر الله جل جلاله او رسول ﷺ راوړی وي او شک هم نه کوي او جهاد کوي نه لکه بعض

علماء د عناد د وجهي څخه د جهادي سيفي څخه منکر دي او وايی چي جهاد نسته، بلکه جهاد ماض الی يوم القيامة دی او الله جل جلاله وايی چي جهاد کوئ د منافقينو سره او کفارو سره او د يهودو او نصریٰ وو سره او د هغوی د ملګرو سره لکه ﴿ وَجَاهِدُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ ﴾ د هغه کفارو سره جهاد کوئ چي تاسو ته نژدې وي لکه اوس زمانه کي امريکايان د مسلمانانو د ښمنان دي او د اسلام دښمنان دي جهاد ورسره وکړئ د يهود پرستو ملايانو پر قول مه کوئ چي وايی زموږ امنيت يې راوستلی دی ښو د ده استعداد د درس مير او ايسا غوجي وي دی هم فتوی ورکوي وايی اوس زمانه کي جهاد نسته مسلمانان په کيوبا کي بنديان ناست دي د دغو ملايانو شاګردان دي يا ملګري خو داغه ملايان چي شاګردان يې بنديان دي دوی وايی په اوس زمانه کي جهاد نسته هغه شاګردان يې هېر کړه او خپله يې هم ځان رسوا کړی او د جهاد څخه منکر سو نو جهاد يوه ښاخله د ښاخلو څخه د اسلام ده نو نه کونکی د جهاد يوه ښاخله کمه ده د ايمان څخه و اذا ذکر الله وجلت قلوبهم مؤمنان هغه دي چي د الله جل جلاله نوم ياد سي زړونه يې ورېږدي د الله جل جلاله د بيري څخه ﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ آمَنُوا أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ - وَ اِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيَاتُه زَادَتْهُ اِيْمَاناً - فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِىْ أَنفُسِهِمْ حَرَجاً ﴾ (سورة النساء ٦٤) قسم دي مي وي ستا په رب ای محمد صلی الله علیه وسلم چي مؤمنان نه دي تر څو چي دوی په تا فيصله وکړي بيا په هغه فيصله باندي خوابدي نه وي يعني په قانون الٰهي

فيصلې خوشحاله وي ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ ﴾ (النساء: ۶۰) الله جل جلاله وايي هغه كسان وينې چې ځان مسلمان بولي او فيصلې پر طاغوت كوي طاغوت هر غير الله معبود ته طاغوت ويل كيږي يعني شرعي فيصلې په انګريزي قانون خلاصوي او د الله جل جلاله قانون ختموي . ﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ (سورة النساء: ۱۱۴) هر څوک چې تابعداري د غير الله دلاري د مسلمانانو وكړي هغه مخالفت د رسول وكړئ كه څه هم دي ځان تابع د رسول ﷺ بولي . دا آيت چې اجماع الامت دليل دى . (كتاب الايمان ص ۳۵) ﴿ وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُوْلَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴾ (سورة النور ۴۷ . ۵۱) ﴿ كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ وايي په خوله چې موږ ايمان راوړى دى پر الله او رسول بيا يوه فرقه له دوى څخه مخ وګرزوي دا مؤمنان نه دي بلكه مؤمنان هغه كسان دي چې دوى د الله جل جلاله لاري ته را وبلل سي دوى وايي موږ د الله جل جلاله امر وړو او د رسول ﷺ امر وړو الله جل جلاله وايي همداغه كسان كامياب دي ولي : ﴿ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُوْلَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ﴾ (سورة الحجرات:۷) دوى ته ايمان ښايسته وي او په زړه كي يې ټينګ وي د كفر څخه يې بد كيږي په ډالرو نه ګمراه كيږي چې (۶۰) ډالر وركړي بيا نو عرب هم حلالوي چې ايمان يې خوښ وي د كفره څخه يې بيا بد

کیږي نو دا خلک کامیاب دي . ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِالإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ (سورة المائدة) ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيداً ﴾ (سورة النساء) که چا کفـر و کـړی پـه ایمـان سـره عمل يې عبث دی او پـه آخرت کي بـه د تـاوانيـانـو څخـه وي او کـه چا کفر و کړی په الله جل جلاله او رسول الله ﷺ او ملا ئيکو او کتابو او په ورځ د آخرت دی په لوی ګمراهي سره ګمراه سو . ﴿ وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَراً ﴾ الله جـل جلالـه وايی کفـار بـه و دوزخ تـه وشـړي او مؤمنان به جنت ته وشړي ډلي ډلي . ﴿ وَكَذَلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِن بِآيَاتِ رَبِّهِ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَى ﴾ الله جـل جلالـه وايی موږ داغسي بدله ورکوو هغه چا تـه چي د الله جـل جـلالـه آیتـونـه نـه منـي او ایمـان نـه راوړي او عـذاب د آخرت ډېر سخت دی او همېشه دی (سورة طه:۱۳۴) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَى وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا ﴾ (سورة الـحج:۱۷) هغـه کسان چي ایمان يې راوړی دی او يهوديان او نصاریٰ او مـجوس يـعـنـي اور پـرست او مشركين خواه يهود وي او كه نصریٰ وي کـه پـه نامـه مسلمان وي خو شرک کوي الله جل جلالـه بـه پـه ورځ د قيـامـت د دوی پـه مينځ کي جلاوالي راولي او الله جل جلالـه پر هر شي نګهبان دی او يهود د اوس زماني مشركين دي اهل كتاب نه دي يا خو بـالـكـل د يـوه ديـن هيـڅ عـقيـده نـه لـري بلکـه د دوی عقیده دا ده چي عیسـی عـلـيـه الـسـلام د الله جل جلالـه زوی دی . کہ میں نے کہا میں خدا کا بیٹا ہوں (انـجـيـل يـوحـنـا ص۱۸۰) عيسـیٰ وويـل زه دالله زوی يم الله جل جلالـه

ورته وویل اې بچیه ! یسوع نے یہ باتیں کہیں اور اپنی آنکھیں آسمان کی طرف اٹھا کر کہا کہ اے باپ (انجیل یوحنا ص۱۹۲، باب ۱۷-۱) . عیسی علیه السلام و اسمان ته وکتل وېې ویل اې بابکه نو تاسو انجیل وګورئ دوی خپل د ځانه پر الله او پر عیسی علیه السلام پوري درواغ ویلي دي او عیسی علیه السلام الله بولي او بیا یې خدای بولي او بي بي مریم رضی الله تعالی عنها د الله جل جلاله ښځه بولي (نعوذ بالله عنها) دا یې هغه سم خلګ دي په یهودو کي مګر اکثر یهود اوس ته خدای مني او نه د خپل نبي تابعداري کوي وګورئ انجیل یوحنا ص ۱۹۲ باب ۱۷ / ۲ / ۴ / ۵ / ٦). وګورئ (انجیل لوقا کی ص ۹۵ باب ۲۸/۴/۵/۱۶) مولود مقدس خدا کا بیٹا لوقا ص۹٦)

محترمو! په دې نامه یوه مؤسسه خلاصه سوې ده چي انجیوز ورته وایی دا خلګو ته وړه غنم ورکوي او خلګ یهودیت ته اړوي په الله (ج) توکل وکړئ الله کارساز وبولئ نه دا خبیثه مؤسسه د دې ځخه ځان وساتئ یهود او نصاریٰ کوشش کوي چي مسلمانان د اسلام ځخه وګرزوي په یو نامه بل نامه یې مؤسسې جوړي کړي دي تاسو د اسلام ځخه اړوي و کفر ته داسي نه وي چي مصداق د دې حدیث و نه ګرزو .

۞..(۷۸) قال رسول الله ﷺ سیأتی علی الناس زمان یصل فی المسجد منهم الف رجل اوزیادة لا یکون فیهم مؤمن (روی الطبراني و ابونعیم فی الحلیه)

۞..(۷۹) و قال رسول الله ﷺ یؤذن المؤذن و یقیم الصلوة قوم و ما هم بمؤمنین (روی الحاکم فی المستدرک)

۞..(۸۰) عن عمر بن العاص یأتی علی الناس زمان یحجون و یصلون

و یصومون و ما فیهم مؤمن .
..(٨١) قال رسول الله ﷺ ان الناس دخلوا فی دین الله افواجاً و سیخرجون منه افواجاً مطابقت الاختراعات العصریة ص١١٦ .
..(٨٢) رسول الله ﷺ وایی یو زمانه به داسي راسي زر خلک به په مسجد کي لمونځ کوي په دوی کي به یو مسلمان نه وي داسي زمانه به راسي اذان به کوي لمونځ به کوي حج به کوي مسلمان به نه وي .
..(٨٣) د الله جل جلاله رسول فرمایی چي خلک دین ته ډلي ډلي راځي خو داسي وخت به راسي چي د دین څخه به ډلي ډلي وزي هغه زمانه اوس ده خلک په روپو ایمان راوړی الله والا خلک یې پرېښول او په ډالرو کفار کیږي اسلام ته توجه نه کوي علماء طلباء د ملک په ګولی ولي اودهشت ګرد یې بولي په ص ١١٩ مطابقة الاختراعات العصریة کني لیکي حواله یې پر حدیث کړیده چي خلک په بازار کي ګرځي رنګونه یې د انسانانو دي خو په حقیقت کي لېوان دي په صورتو د انسانانو کي دي که یې خبري نه کولای نو په ځایو د حیواناتو کي به دي ترلي وای (مذکوره کتاب ص ١١٩) د کتاب مذکوره صفحې مصنف وایی والله خلک خنزیران ګرزېدلي دي عقیده نسته و هري ډبري ته یې عقیده وي د هر یهودي او نصراني خبر منل کیږي د علماؤ خبري نه منل کیږي .
دنیا د یهود او نصاریٰ مستعمره، سوه په دنیا کي ثوک د الله ددین خبره نسي کولای محترمو مطالعه کونکو دا د ایمان خبري وې او ایمان خو په جلدو کتابونه غواړي .

یادونه: دغه کتاب دامریکایانو دراتګ په وخت کي شروع سو او ختم یې اوس چي امریکایان وزي یعني د۲۰۰۱ څخه بیا تر ۲۰۲۱ پوري مکمل سو.

کتاب العقائد

عالم او دنیا ټوله نه وو پیدا:

معنی دا ده چي مځکي، آسمانونه، غرونه، دریابونه، لمر او قمر، ستوري، ملائکه، انسانان، پېریان، شیطانان، ټوله هغه شیان چي ما سوا د ذات او د صفاتو څخه د پاک رب دي او هره هره ذره د عالم حادث او نه وو پیدا دوی اولاد نه وه بیا خدای پاک په خپل قدرت کامله سره پیدا کړه الله پاک خالق او پید اکوونکی دی او دنیا، عالم، مخلوق او د الله پاک د خوا څخه پیدا کړی سوي دي . هم دغه ده عقیده د اهل اسلام.

الله پاک واحد، یو دی:

یعني خدای پاک شریک نلري نه په ذات کي او نه په صفاتو کي بل داسي څوک نسته چي ازلي او ابدي وي هیڅ څوک داسي نسته چي د هغه علم په شان د علم د خدای پاک وي او یا د هغه چا قدرت په شان د قدرت د خدای پاک وي او یا هغه چا حیات، ژوند، لیدل اورېدل په شان د الله پاک وي هم دغه رنګه نور صفتونه.

او دوه خدایان په نقل او په عقل کي محال او ناجائز دي که فرضا خدایان دوه سي نو یو په دوی کي به د هغه بل څخه یو شی پټولای سي که یا؟ که یې پټ کړي نو هغه بل بې علم او جاهل پاته کیږي بې علم او

جاهل خدای نه دی، او که یې نه سي پتهولای نو دی عاجز او بې قدرته سو، عاجز او بې قدرته هم خدای نه دی عاجز و څه ته وايي: من أراد و لم يستطيع، يعنی يو څوک اراده د يو شي او يو کار وکړي او کولای يې نه سي دغه نو عاجز دی. (نبراس) او مضمون د مدارک شريف دی.

الله پاک قديم دی:

يعني خدای پاک اول نلري داسي تاريخ او حال، نه وو، چي خدای پاک به نه وو، او داسي تاريخ او حال نسي راتلای چي خدای پاک به نه وي، الله جل شانه، ازلي دی اول نلري، ابدي دی، آخر نلري.

خدای پاک ژوندی دی:

ازلًا و ابداً، مرګ نلري، ناجوړي نلري، ضعف او کمزوري نلري، پر خدای زمانه نه تېرېږي کلونه او مياشتي پر خدای پاک نه راځي.

الله پاک قادر دی:

يعني خدای پاک قدرت والا دی هر څه چي وغواړي هغه کولای سي نه عاجز کيږي د هيڅ شي څخه، داسي څوک نسته چي تر خدای پاک زورور وي او يا د خدای پاک سره برابر وي خدای پاک مثل نلري مقابل نلري سيال نلري.

الله پاک عالم دی:

په هر څه او په هر شي باندي خبر دی د خدای د علم څخه هيڅ شی وتلی نه دی او نه هم وتلای سي.

الله پاک سميع دی:

يعني خدای پاک هر آواز او هر کلام او هره خبره د هر چا چي وي هغه

اوري، که څوک په زوره کډېږي او یا نرم او کرار ږغیږي خدای پاک یې اوري په خدای باندي غفلت نه راځي پریشاني نه راځي خوب او خوراک او څښل نلري ستړیا او ستوماني پر الله پاک نه راځي د هر عیب او د هر نقصان څخه خدای پاک خلاص دی .

خدای پاک بصیر دی:

یعني هر شی ویني، د خدای پاک د دید څخه هیڅ موجود نه دی وتلی او نه هم وتلای سي ،شپه او ورځ پر خدای پاک باندي فرق نلري، که په نیمه شپه کي تور مېږی پر توره ډبره روان وي الله پاک یې ویني .

الله پاک مرید او شائی دی:

یعني صاحب د ارادې او خاوند د مشیت دی هر څه چي کیږي په دنیا او آخرت کي او په مځکه او آسمانو کي په غرو او په دریابو کي هغه ټوله د خدای پاک په اراده سره کیږي د خدای پاک د ارادې څخه هیڅ مخلوق نسي وتلای داسي څوک نسته چي خدای پاک د خ لمي ارادې څخه و باسي پر خدای پاک زور او جبر د چا نسي راتلای .

مرید الخیر والشر القبیح

ولکن لیس یرضی بالمحال

اراده د ښو او د بدو د ټولو خدای لري لکن په بدو کارو خدای پاک ناراض کیږي او بنده لائق د عذاب ګرځي او په ښو اعمالو او په ښو کارو د بندګانو خدای پاک راضي کیږي او ثواب ورکوي .

الله پاک صورت نلري:

يعني خداى لره صورت او شكل او بدن نسته په شان د انسان يا د ملائكه وو يا د پيري يا بل جسم نه دى، تور او سپين ژړ او سور يا بل رنګ والا نه دي هر قسم كه ديو چا په خيال او په فكر كي راسي چي خداى پاک به دغسي وي هغسي نه دى او خداى پاک مركب او جوړ سوى د اجزاو وڅخه نه دى جوهر نه دى عرض نه دى، پر خداى پاک باندي زمانه، شپې او ورځي، مياشتي او كلونه نه تېرېږي دا سوال او پوښتنه روا نه ده چي وى څوک به وايي خداى پاک به د څو عمر او د څو كلو وي . پناه په خداى پاک .

د خداى پاک صفتونه ازلي دى:

يعني څرنګه چي خداى پاک ازلي او ابدي دى اول او آخر نلري هم دغه رنګه صفات د الله پاک لكه حيات، علم، قدرت، سمع، بصر، اراده مثلاً دا ټول ازلي او ابدي دى اول او آخر نلري او هم دغه صفتونه د خداى پاک د ذات څخه نه جدا كيږي .

قرآن شريف د خداى آخر كتاب دى:

په درويشت (۲۳) كاله كي پر حضرت رسول الله عليه الصلوة و السلام نازل سوى دى ديارلس (۱۳) كاله په مكه معظمه كي اولس (۱۰) كاله په مدينه منوره كي نزول د قرآن شريف شروع وو .

دغه لفظي قرآن شريف چي موږ يې په لمانځه كي وايو او وظيفه يې كوو او نوشته يې كيږي دغه حادث او نه وو پيدا مخلوق د خداى پاک دى كه يو چا حديث په دغه مسئله كي راوړى وي كه چا وويل چي قرآن مخلوق دى هغه كافر دى دغه حديث نه دى موضوع او د ځانه جوړ

سوى په رسول الله عليه السلام پوري يې تړلى دى . (عصام ص ١٨٤، شرح عقائد، رقوم ١٠، على قارى رحمة الله تعالى ص ٤٦)

كلام نفسي د خداى پاک صفت ازلي دى او قديم دى د خداى پاک د ذات جليله څخه نه جلا كيږي هم دغه د ه عقيده زموږ او مذهب د اهل حق مذهب د حضرت امام اعظم صاحب رحمه الله تعالى .

ديدار د خداى پاک حق دى:

مومنان به خداى پاک ويني په خپلو سترګو سره په آخرت كي او په جنت كي دغه مسئله هم قرآن شريف ثابته ده، او هم په حديث شريف ثابته ده، او هم په اجماع د امت مرحومه ثابته ده: ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ . إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾ قرآن شريف . مقصد دا دى چي د مؤمنانو مخونه به ترو تازه وي او وخپل رب جل شانه ته به كتونكي وي په حديث شريف كي راوړي: (انكم سترون بركم كما ترون القمر ليلته البدر) يعني يقيناً ژر دى تاسو به وويني خپل رب جل شانه لكه چي تاسو وينئ سپوږمى په شپه كي د څوارلسم او اجماع او اتفاق د اهل حق هم دغه دى . (شرح العقائد ص: ٥٨)

الله پاک خالق دټولو عملو دى:

يعني اعمال د بندګانو كفر، ايمان طاعت او عصيان ښه كارونه، او بد كارونه د بندګانو دا ټوله مخلوق د خداى پاک دي قرآن شريف فرمايي: ﴿ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴾ يعني اې انسانانو اې بندګانو ! الله پاک تاسو پيدا كړي ياست او ستاسو عمل او كارونه الله پاک پيدا كړي دي بل څوک خالق او پيدا كوونكى نسته ماسوا د خداى پاک څخه،

معتزله درواغ او غلط وايي چي بندګان خالقان د ځپلو اعمالو دي .
هر څوک چي بل خالق مني هغه په حقيقت کي مجوس او مشرک دی بلکه خالق او پيدا کوونکی د نېستي څخه يوازي او يوازي خدای پاک دی .

بندګانو لره اختياري افعال سته:

يعني ايمان ، طاعت ، عبادت ، لمونځ ، روژه ، ورکړه د زکات ، حج ، جهاد کول او نور ښه کارونه بنده پخپل اختيار کوي نو الله پاک پخپله مهرباني او په خپل فضل و کرم او پخپل رحمت سره ثواب او جنت ورکوي . همدغه رنګه کفر ، عصيان ، ګناه ، ناروا ، غلا ، زنا ، لواطت ، بې ديني ، بنده پخپل اختيار او پخپله خوښه کوي نو خدای پاک دوزخ ورکوي او همدغسي بندګان لائق او حق دار د عذاب ګرځي ، بنده مجبور نه دی بلکه اختيار لري جبريه ډله دروغ او غلط وايي چي بنده مجبور بولي او اختيار ورته نه وايي همدغه ده عقيده او مذهب د اهل حق . (شرح عقائد ص ٦۴)

عذاب د قبر حق دی:

يعني کافران وروسته تر مرګ دمخه تر حشر په عذاب سره اخته دی نو که په قبرو کي وي او که په اوبو کي وي او که درندګانو خوړلي وي او که هندوانو يا نورو کافرانو سوځلي وي .
په احاديثو مبارکه وو کي راوړي چي پر کافر باندي په قبر کي يو کم سل (۹۹) ماران مقرر او مسلط دي او همدغه کافر په قبر کي خوري او وهي يې که چيري يو مار ددغه مارانو څخه پر مخ د مځکي ساو کاږي

بیا به مخکه وانبه نه کړي راشین ، او همدغه رنګه بعضي مؤمنان ګنهګاران چي خدای پاک يې اراده د عذاب کړې وي د دوی دپاره هم عذاب حق او ثابت دی په قبرو کي ۰

سوال د منکر او نکیر حق دی:

مؤمن مسلمان چي په قبر کي داخل کړی سي نو ملائکه علیهم السلام ورته ورسي او مړی راپورته کړي نو ورته ووايي : (من ربک؟) ستا رب ، یعنی خالق، څوک دی؟ مؤمن مسلمان ورته ووايي :(ربی الله) زما رب او زما خالق او مالک الله دی . بیا ملائیکه علیهم السلام ورته وايي: (ما دینک ؟) څه شی دی دین ستا؟ یعني په کوم دین يې د یهودیانو دین د نصاریٰ وو دین د هندوانو دهري کافرانو دین کوم دین دي چلاوه؟ مؤمن مسلمان ورته وايي : (دیني الاسلام) زما دین اسلام دی یعنی زه مسلمان یم محمدي دین زما دی د بل دین څخه بېزاره یم . بیا ملائیکه علیهم السلام ورته وايي : (من نبیک؟) ستا نبي څوک دی؟ یعني د کوم نبي پیرو او امتي يې؟ دغه مؤمن مسلمان ورته وايي :(نبي محمد ﷺ) یعني زما نبي حضرت محمد رسول الله علیه الصلاة والسلام دی ما رسول الله علیه الصلاة والسلام منلی دی او ایمان مي پر راوړی دی هر څه چي ده فرمایلي دي هغه ټوله حق دي ۰

نو هر کله چي په قبر کي:

دغه سوالونه د مؤمن مسلمان څخه وکړی سي او مؤمن هم دغه حق جوابونه ورکړي نو د خدای پاک د خوا څخه آواز وکړی سي چي دغه بنده صادق دی رښتیا وايي فراش د جنت ورته هوار کړئ، لباس او جامه

د جنت پـه واغـوندئ، دروازه د جنت ورتـه خلاصه كړئ، نو خوشبويي او راحت د جنت ورتـه راځي تر هغه وخت پوري چي د قبر ولاړيږي .

كافر او منافق چي مړ سي:

پـه حديث شريف كـي راوړي چي روح د كـافر وروستـه ترمرګ پـه بـدن د كـافـر داخـل كـړى سـي او دوه مـلائكـه يې راكښېنـوي بيـا ورتـه ووايـي: (څـوک دی ستـا رب؟) كـافـر وايـي: هـاه هـاه يعني واى واى نـه پـوهېږم بيـا مـلائـكـه ورتـه ووايي: (څه شى دى دين ستـا؟) يعني كوم ديـن دي چـلاوه پـه دنيـا كـي، كـافـر وايـي: هاه هاه نه پوهېږم بيا ملائكه ورتـه ووايـي: (پـه دغـه سړي كي څه وايي؟) يعني حضرت محمد عليه الـصـلاة والسـلام نبي دى كه يا؟ كافر ورتـه وايـي: هـاه هاه نـه پوهېږم نو هـم پـه دغـه وخـت كـي د طـرفـه دآسمـان يو څوک آواز وكړي چي دروغ وايـي دغـه كافر پـه قبر كي فراش يعني بستر د اور ورتـه واچوئ . جامه د اور پـه واغـونـدئ، دروازه د اور ورتـه را خلاصـه كړئ، نو رسيږي و كـافـر تـه ګرمي د دوزخ او تېر بدبويه باد او هوا د دوزخ، بيا قبر داسي پـر تـنګ سـي چـي پـوښتـۍ د كـافـر يـو د بلـه سره تېري كړي او بيا ملكه بـانـدي مـقـرر سـي چي پـه سترګو ړوندوي او پـه غوږو كوڼ وي او كافر پـه داسـي ګـرز بـانـدي وهـي كـه چيـري د دنيـا يو غر بـاندي ووهل سي خـاوري او ميـده ميـده ذرې ذرې بـه سـي . او نـارې چيـغي د كافر هر شى اوري مـاسـوا د انسـان او پېري څخه، او هر وار كافر ذره ذره او ميده ميده كيـږي او بيـا سـره را تـوليـږي، پر كافر باندي پـه قبر كي يو كم سل (۹۹) مـاران لوى لوى او ډېر زهرجن مسلط او وګمارل سي او كـافر چيچي او

وهي يې كه چيري فرضاً يو مار ددغه مارانو څخه پر مخ د مځكي سا وكاږي او يو پُو وكړي نو ټوله مځكه به شين ډوكى نه كړي را شين ، نعوذ بالله تعالى من الكفر .

حكمت د خداى پاك: په دغه كي چي پر كافر باندي يې نهه نيوي (۹۹) ماران په قبر كي ګمارلي دي والله تعالى اعلم ..... د خداى پاك نهه نيوي (۹۹) نومونه مباركه دي ، هر كله چي كافر د خداى پاك څخه انكار وكړي او د خداى پاك ټوله مباركه نومونه يې نه ومنل نو خداى پاك په مقابل كي د هر هر نوم خپل يو يو مار پر كافر باندي ګمارلى دى .

بل حكمت دا دى: چي د خداى پاك سل رحمته دي يو رحمت يې و دنيا ته راليږلى دى چي پر ټولو ژوندي شيانو باندي تقسيم سوى دى او نهه نيوي (۹۹) رحمتونه يې و آخرت ته ساتلي دي، چي هغه رحمتونه ټوله پر مؤمنانو كيږي په ورځ دآخرت نو هر كله چي كافر دآخرت څخه منكر دى د خداى پاك د هغه نهه نيوي رحمتونو څخه محروم او بې برخي پاته سو نو الله پاك په مقابل كي د هر هر رحمت يو يو لوى مار او ډېر زهرجن مار پر كافر باندي مسلطه او ګمارلى دى . (مرقاة شريف ص ۲۰۹ / ج ۱) نعوذ بالله من جميع انواع الكفر .

څلور ډلي په قبر كي د
سوال او پوښتني څخه خلاص دى:

اول اطفال : يعني كوچنيان نابالغه، دوهم : مجانين يعني لېونيان چي دمخه تر بلوغ لېوني سوى وي . دريم حضرات انبياء عليه الصلاة

والسلام : څلورم شهداء کرام : یعني چي په ظلم او د خدای پاک په لاره کي شهیدان سوي وي . (کتاب الارشاد ابن عقیل رحمه الله تعالی، و تذکرة د امام قرطبي رحمه الله تعالی هم دغسي فرمایي .)

اطفال یعني چي کوچنیان د کافرانو په جنت کي دي او معاف دي مدارک شریف مظهري شریف مرقات شریف نبراس د شرح عقائد او نور کتابونه هم دغسي فرمایي والله تعالی اعلم .

پورته کول، ولاړول د قبرو څخه حق دی:

یعني د هر بدن خپل اصلي اجزاء او اصلي ټوټې خدای پاک سره یو ځای کوي او روح په کي داخلوي بیا ټول انسانان د قبرو څخه را وباسي سره لغړ سر تور سرونه لڅي پښې او ناسنته به و خدای پاک ته دریږي و حشرګاه ته به حاضریږي، دغه هم مسئله د ایمان ده که یو څوک انکار کوي کافر دی خدای پاک جل شانه فرمایي ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴾ یعني یقیناً او قطعاً په ورځ د قیامت به تاسو را پاڅول کیږئ قیامت حق دی پس له مرګه ژوند حق دی . خدای پاک جل شانه فرمایي : ﴿ قل یحییها الذی انشأها اول مرة ﴾ دغه وراسته هډوکي هغه خدای پاک ژوند ورکوي چي په دنیا کي یې پیداکړي دي .

تول اوترازو حق دی:

یعني د هر سړي او د هر مکلف عملونه تلل کیږي په ورځ د قیامت د هر بنده چي ښه او نېک عملونه ډېروي هغه څوک و جنت ته داخلیږي او د هر چا چي بد او ناروا اعمال ډېرسي هغه سړی په دوزخ کي غورځوي

خداى پاک جل شانه فرمايي : ﴿ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ ﴾ يعني تلل د اعمالو د بندګانو په دغه ورځ د قيامت حق او ثابت دي .

دا مسئله د ايمان او د عقيدې مسئله ده چي اعمال د بندګانو تلل کيږي همدغه مذهب دی د اهل سنت معتزله ګمراهان دروغ وايي او غلط وايي چي دغه حکم نه مني .

كتاب د اعمالو حق دی:

يعني د هر سړي عمل نامه او تاب حق او ثابت دی چي په دغه عمل نامه کي طاعات عبادات او ښه ښه کارونه نيک عملونه نوشته سوي دي .

او همدغه رنګه معاصي ګناوي ناروا او بد بد عملونه پکښي ليکل سوي دي و مؤمنانو ته عمل نامې په راسته لاس د مخ د خوا ورکول کيږي او و کافرانو ته خپلي عمل نامې په چپ لاس او د شا د خوا څخه ورکول کيږي .

﴿ وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَاباً يَلْقَاهُ مَنْشُوراً ﴾ خداى پاک جل جلاله فرمايي زه به را وباسم د هر سړي دپاره په ورځ د قيامت کتاب ، عمل نامه ، چي د ده سره به يو ځاى کيږي په داسي حال کي چي غوړول سوې به وي .

سوال په ورځ د قيامت حق دی:

خداى پاک جل جلاله فرمايي : ﴿ وَقِفُوهُمْ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ ﴾ يعني الله پاک و ملائکه عليهم السلام ته وايي په ورځ د قيامت به ودروي کافران ! يقيناً او قطعاً د دوی څخه سوال او پوښتنه کيږي .

حوض كوثر حق دی:

خدای پاک فرمایي: ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾ یعـنـي یقیناً ما و تا ته در کړی دی کوثر اې نبي علیه السلام .

مضمون او بیان د

حدیث شریف:

حـضـرت رسـول الله علیه الصلوة والسلام فرمایلي دي: زما حوض د یوې میاشتـي مزل دی ''څلور کونجه'' یو د بله سره برابر لري او به یې ډېري سپیني دي تر شیدو او خوشبویي یې تر مشکو زیاته ده لوښي او لـوښـي یـې د آسـمـا ن تـرستـورو ډېر دي هر څوک چي ددغـه حوض او به وڅښـي هـمېشـه بـه بیـا تـږی نسي یعني پر میدان د حشرگانه، احادیث مبارکه په دغه مسئله کي نور هم بیخي ډېر راغلي دي .

صراط او پُل حق دی:

دغه پُل پر دوزخ دپاسه جوړ دی او تر وېښته نری او ناز دی تر توري تېره دی اهل جنت بـانـدي تېرېږي د دوزخیـانـو پښـې بـاندي ښوېږي بعضي مؤمنان د برېښنا په شان باندي تېرېږي او بعضي لکه تېز باد او بـعضي لکه تېز رفتار آس او بعضي لکه پیاده انسان او بعضـي د مېږي پـه شـان بـانـدي تېرېږي او و جنت ته رسیږي او پر یوه طرف او بل طرف لـوی لـوی او سـخت چنګکان باندي ځړیږي او و مؤمنانو ته خدای پاک تـوفیـق د تېرېدو ورکـوي مـعـتـزلـه گمرهان دروا غ او غلط وایي چي انکار کوي .

جنت حق دی دوزخ حق دی:

آیتـونه مبارکه او احادیث مبارکه په شان کي د جنت او دوزخ بیخي

ډېر ډېر راغلي دي . مؤمنان به و جنت ته داخليږي او كافران به و دوزخ ته داخليږي بيا نو پر جنت، او جنتيانو باندي نېستي او فنا نه راځي مؤمنان په جنت كي ابدي دي .

او همدغه رنګه پر دوزخ او پر دوزخيانو باندي مرګ او فنا راځي كافران په دوزخ كي ابدي دي د جنت او دوزخ په مابين كي يو دېوال دى هغه ته **اعراف** ويل كيږي .

مرګ په شكل او صورت د ښكرور پُسه حاضر كړي پر دغه اعراف او د حضرت يحيىٰ عليه السلام په لاس مبارك باندي حلال سي وروسته تر دغه پر جنتيانو باندي ږغ او آواز كيږي خود لا موت، يعني تاسو به د ابد او همېش دپاره په جنت كي ياست بيا مرګ نسته او پر دوزخيانو كافرانو باندي ږغ او آواز وكړي سي خلود لا موت، يعني تاسو به د ابد دپاره په دوزخ كي ياست بيا پر تاسو باندي مرګ نه راځي چي د عذاب څخه خلاص سئ يعني د عذاب څخه نه خلاصيږئ .

حكمت په دغه كي څه دى:

چي مرګ د حضرت يحيىٰ عليه السلام په لاس مبارك باندي فنا كيږي حضرت علامه مولينا شاه انور شاه كشميري ديوبنديؒ فرمايي چي ضد په ضد سره وركيږي لفظ او كلمه د يحيىٰ جوړ او مشتق د حيات څخه دى حيات، ضد د ممات دى نو ځكه دا وظيفه د ده سوه .

په كبيره او لويه ګناه مؤمن نه كافر كيږي:

يعني هغه لويه ګناه چي ماسوا وي د كفر څخه، لكه: غلا، زنا، لواطت، قتل، شراب خوري، د يتيم مال خوړل، د مور او پلار آزار، او

وغیـره لـکن په شرط د دې چي دغه ناروا کارونه او ناروا عملونه روا نه بولـي کـه یـو څـوک و دغـسي یعني ناروا ته روا ووایي هغه قطعي کافر او مرتد دی د اسلام او ایمان څخه وتلی دی .

بعضي اعمال سته چي سړی په کافر کیږي:

لکه سجده کول و بت ته پخپل اختیار او د قرآن شریف بې عزتي کول یا د حضرت رسول الله علیـه الصلوة والسلام په شان کي بې ادبي کول کتـاب ورتـه کـافـر ویـلـي دي . فتـاوی ظهیریه راوړي چي سجده کول و باچا ته یا و پیر ته یا و قبر ته په اختیار سره خالص او شین کفر دی .

خدای پاک مشرک او کافر نه بخښي:

الله پاک داسي فرمایي ﴿إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾ یعني خدای پاک کفر د کافر او شرک د مشرک نه بخښي او ما سوا د کفر څخه دا نوري ګناوي د خدای پاک په خوښه کي دي که بخښـه کوي او کـه و چا تـه عذاب ورکوي لکن د مؤمن مسلمان دپاره ابدي دوزخ او همیشه عذاب نسته .

دا حکم او همدغه مسئله په اجماع د اهل حق:

ثـابـت او یـقـیـنـي دی معتزله او خوارج اهل حق نه دي دروغ او غلط وایي معتزلـه او خوارج او همـدغـه رنګـه نوري ګمراه ډلي سلفیـه ، وهابیه ، بریلویان ، د آیتو مبارکه وو او د احادیثو مبارکه وو ترجمې او

معناوي غلطي او له ګېډي کوي . خذلهم الله تعالى .

شفاعت د مؤمنانو دپاره حق دى:

خداى پاک جل جلاله په قرآن عظيم مبارک کي فرمايلي دي: ﴿عَسٰى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَاماً مَّحْمُوْداً﴾ يعني قريب او نزدې ده چي ستا رب به تا وپاخوي و هغه مقام او و هغه مرتبې ته چي اولين او آخرين د هغه حمد وايي رسول الله عليه السلام مبارک ته خطاب دى د الله پاک د خوا څخه .

يو څه تفصيل او بيان :

په ورځ د قيامت پر ميدان د حشرګاه انسانان ټوله بند پاته وي او هيڅ سوال او جواب نه وي او خلق ډېر حيران او مضطرب وي نو خلق ورسي، و حضرت بابا آدم عليه السلام ته او زارۍ عجز وکړي چي ته د انسانانو پلار يې او خداى پاک په خپلو لاسو بلا کيف جوړ کړى يې او ملائکه يې و تا ته په سجده سره امر کړي وو نن ورځ ته زموږ دپاره شفاعت وکه . حضرت بابا عليه السلام ورته ووايي چي دا کار په ما سره نه کيږي په دنيا کي خداى پاک زه منع کړى وم د خوراک څخه د هغه درختي هغه زما څخه وخوړل سوه نفسي، نفسي، زه خپل ځان غواړم، زه خپل ځان غواړم .

بيا حضرت بابا عليه السلام ورته ووايي چي تاسو ورسئ و نوح پيغمبر عليه السلام ته چي هغه ستاسو دپاره شفاعتي وکړي ، وروسته همدغه خلق او انسانان و حضرت نوح عليه السلام ته ورسي، همدغه زارۍ او عجز ورته وکړي چي ته زموږ دپاره و خداى پاک ته شفاعت

وکړه، حضرت نوح پیغمبر علیه السلام خپل عذر بیان کړي چي دا کار په ما نه کیږي خدای پاک په واقعه د طوفان کي زه منع کړم چي د کافرانو په شان کي به د ما سره خبري نه کوې ما د خپل زوی په باره کي خبري وکړې چي یا الله زما زوی کنعان غرق سو او تا وعده را سره کړې وه چي ستا اهل به نه غرق وم پاک رب ورته وویل چي دی یعني کنعان ستا اهل نه دی ځکه چي بد عمله دی یعني کافر دی حضرت نوح پیغمبر علیه السلام وو ایي نفسي، نفسي یعني خپل ځان غواړم، خپل ځان غواړم، وروسته نوح علیه السلام ورته وو ایي چي تاسو ورسئ او ولاړ سئ وابراهیم علیه السلام ته چي هغه ستاسو دپاره شفاعت وکړي.

بیا همدغه بني آدمان انسانان ولاړ سي و حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام ته او وده ته هم زاري او عجز وکړي چي نن ورځ زموږ دپاره شفاعت وکړه حضرت ابراهیم علیه السلام خپل عذر ورته بیان کړي چي دا کار په ما نه کیږي ما په دنیا کي درې خبري کړي دي نن ما ته حیا راځي و خدای پاک ته نه سم ورتلای نفسي، نفسي یعني خپل ځان غواړم، خپل ځان غواړم، تاسو ولاړ سئ و موسی علیه السلام ته چي هغه ستاسو دپاره شفاعت وکړي. بیا همدغه انسانان و حضرت موسی علی نبینا و علیه الصلوة والسلام ته ورسي او زاري عجز ورته وکړي چي نن ورځ ته زموږ دپاره شفاعت وکړه حضرت موسی علیه السلام خپل عذر بیان کړي چي دا کار په ماسره نه کیږي په دنیا کي ما سړی یو کافر په سوک باندي مړ کی او خدای پاک نه وم امر کړی و

ماته حيا راځي .نفسي، نفسي خپل ځان غواړم ...
حضرت موسى عليه السلام ورته ووايي چې تاسو ...
عليه السلام ته . وروسته دغه انسانان روان سي او و ...
عليه السلام ته زاري او عجز وکړي چې نن ور څ زمو ...
وکړه حضرت عيسى عليه السلام ورته ووايي چې ذاکر ...
سړي سره نسي کېدلای ماسوا د محمد رسول الله عليه السلام ...
تاسو ولاړ سئ محمد رسول الله عليه السلام ته .

بيا نو همدغه انسانان ورسي و حضرت سيدنا محمد عليه ...
والسلام ته څرنګه چې دوی ورسيږي و حضرت رسول الله ...
الصلوة و السلام ته او عرض ورته وکړي نو حضرت خاتم ...
محمد رسول الله ﷺ روان سي او تر عرش لاندي و خدای ...
سجده سي او ډېر حمد و ثناء د خدای پاک ووايي په دغه سجده ...
خدای پاک جل جلاله د خواخخه ږغ پر وسي (ارفع رأسک ...
وسل تعطه واشفع تشفع)

خلاصه او مضمون : يعني خدای پاک و خپل حبيب محمد ...
الله ﷺ ته ووايي چې سر مبارک راپورته کړه او ووايه ...
غواړې هغه و تا ته درکول کيږي او شفاعت وکړه ستا ...
نو رسول الله ﷺ ووايي (يارب امتي، يارب امتي) يعني ...
خپل امت غواړم اې رب زما خپل امت غواړم . (رواه ...

نفسی زهر نبی و ولی بر زبان بود

اغفر لامتی بزبان محمد است



همدغه دی هغه مقام محمود چي خدای پاک يې وعده کړې ده د خپل حبيب ﷺ سره يعني فتح د باب د شفاعت کيږي .

تر دغه وروسته نو شفاعتونه شروع سي بيا نو حضرات انبياء عليهم السلام شفاعت کوي صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم شفاعت کوي، علماء کرام او نور صلحاء، اتقياء، شهداء رحمهم الله تعالی شفاعت کوي، همدغه رنګه اطفال، نابالغه واړه د خپل مور او پلار شفاعت کوي .

معتزله خذله درواغ او غلط وايي چي د شفاعت څخه انکار کوي نه يې مني شفاعت دپارد مؤمنانو ګنهکارانو په قرآن شريف او په ډېرو احاديثو مبارکه وو ثابت دی .

ايمان فرض عين دی:

پر هر عاقل بالغ چي نوم د اسلام او نوم د نبي عليه الصلاة والسلام ورته ورسيږي ايمان څه ته وايي او څه شی دی؟

''الايمان هو التصديق بما جاء به من الله تعالی و الاقرار به'' (عقائد نسفيه ص ۹۰)

يعني ايمان شرعی، تصديق او منل، باور کول پر ټولو هغو مسئلو چي حضرت رسول الله ﷺ راوړي دي د طرفه څخه د خدای پاک او په هغو باندي اقرار په خپله ژبه سره کول، حاصل دا '' آمنت بجميع ما انزل علی محمد ﷺ'' يعني زما تصديق او يقين، باور او منل دي پر ټولو هغو شيانو چي پر حضرت رسول الله محمد ﷺ د طرفه د خدای پاک نازل سوي دي .

مشهور مذهبونه په ايمان كي لس دي:

﴿اول﴾......ډېر علماء د علم كلام وايي چي ايمان يوازي تصديق د زړه دى فقط اقرار په ژبه سره او اعمال داخل نه دي په ايمان كي، دغه هم مذهب د امام اعظم صاحبؒ دى .

﴿دوهم﴾......ډېر علماء كرامؒ د فقه وايي: چي ايمان تصديق په زړه او اقرار په ژبه سره دواړه دى يعني دواړه غواړي نو ايمان مركب دى دا هم يو روايت د امام صاحبؒ دى .

﴿دريم﴾...... مذهب دى د خوارج: خوارج وايي چي ايمان مركب او جوړ دى د درو شيانو څخه: تصديق دزړه، اقرار په ژبه سره، عمل د بدن . دوى وايي كه هر يو د دغه درو څخه نېستي سي نو ايمان نېستي كيږي نو ځكه ګناه كار ته كافر وايي .

﴿څلورم﴾......مذهب د معتزله وو دى: دوى وايي چي ايمان مركب او جوړ دى د درو شيانو څخه: تصديق، اقرار، عمل په لاس او پښو، لكن كه تصديق نېستي سي نو كافر دى او اقرار په ژبه يا نېك عمل نېستي سي نو هغه سړى نه مؤمن دى او نه كافر دى لكن دوزخي دى .

﴿پنځم﴾......مذهب د محدثينو دى لكه امام احمد بن حنبلؒ امام شافعيؒ يحيىٰ بن سعيد انصاريؒ دوى وايي چي ايمان درې شيان دي تصديق، اقرار، عمل لكن كه تصديق د زړه نه وي نو كافر دى او كه عمل نه وي فاسق دى كافر نه بلل كيږي په حقيقت كي خلاف د دوى د علماؤ سره د علم كلام لفظي دى . علماء د علم كلام همدغسي وايي .

﴿شپږم﴾......مذهب د جهميه وو دى:

يعني جهم، زوى، د صفوان، زنديق، كوفي، او د ده مريدان، دوى وايي چي ايمان يوازي او يوازي معرفت او پېژندل دي كه څه هم بې له اختيار او بې له تسليم وي لكن دغه مذهب باطل او غلط مردود دى. ځكه چي يوازي معرفت او پېژندل وبعضي كافرانو ته هم حاصل وو لكن هنوز اشد كافران وو او هم كافر ان دي خداى پاک جل شانه داسي فرمايي: ﴿يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمْ﴾ يعني أهل كتاب يهود مردود او نصارى كافران حضرت رسول الله ﷺ داسي پېژني لكه خپل زامن چي پېژني بل ځاى پاک رب جل شانه فرمايي: ﴿فجحدوا بها واستيقنتها انفسهم﴾ حاصل دا چي كافرانو د خداى پاک پر آيتو باندي په زړه و كي يقين درلودى او پېژندل يې اوپه خولو باندي يې انكار كاوه مطلب دا دى چي په ايمان شرعي كي يقين او جزم او تسليم شرط دى چي انكار او علامه نښانه د انكار به نه وي ورسره.

﴿اوم﴾...... مذهب د كراميه ؤ دى:

يعني محمد زوى د كرام د غسان د علاقې او د ده مريدان، دوى وايي چي ايمان يوازي او تنها اقرار دى په خوله او په ژبه سره نور نو په زړه كي تصديق او يقين وي كه نه وي دا مذهب هم باطل او غلط او مردود دى او قرآن پاک يې نه مني، خداى پاک جل شانه فرمايي: ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللّهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴾ يعني منافقان د دنيا په خوله او په ژبه وايي چي موږ پر الله باندي ايمان راوړى دى او پر ورځ د آخرت مو ايمان راوړى دى خداى پاک فرمايي چي هم دغه منافقان مؤمنان نه دي.

يعني کافران دي اشد کافراندي دروغ وايي مؤمنان او مسلمانان خطا باسي دوکه ورکوي .

﴿اتم﴾......مذهب د مرجيه ؤ دى:

دغه ګمرهان فاسقان وايي چي ايمان تصديق د زړه دى لکن ښه ښه اعمال فائده نلري وايمان ته او بداو ناروا اعمال ضرر نلري يعني هيڅ شى نه بولي دا مذهب هم باطل او غلط دى بلکه د ايمان ترقي په ښو اعمالو راځي او د ايمان نقصان او ضعف او کمزوري په بدو اعمالو سره راځي او دامسئله يقيني ده .

﴿نهم﴾......مذهب د رقاشي معتزلي دى:

دى وايي چي ايمان اقرار دى په ژبه په شرط د معرفت پېژندل د حق ، دا مذهب هم باطل او غلط دى ځکه چي بعضي منافقان وو چي اقرار به يې کاوه او معرفت پېژندل دحق يې هم درلودى ، سربېره پر دغه هم کافران دي ﴿ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ﴾ يقينا او قطعا منافقان په لاندي طبقه او په زېر خانه کي د جهنم او د دوزخ دي نعوذ بالله تعالى من الکفر .

يو صحابي مبارک وايي : چي يوه شپه په مکه معظمه کي ابوجهل ته ما وويل چي ستا دي په رب ددغه بيت الله شريف قسم وي چي په شان کي د محمد عليه السلام څه عقيده لرې ابوجهل کافر راته وويل زما دي په رب ددغې کعبې قسموي چي يقيناً رسول د الله دى لکن تر ما کشر دى زه يې نه منم .

﴿لسم﴾...... مذهب د بعضي اشاعره ؤ دى:

دوی وایي چې ایمان اقرار دی په شرط د تصدیق قلبي لکن دغه کسان په حقیقت کي میلان لري د مرجیه ؤ ته ځکه حقیقت د ایمان تصدیق د زړه دی پخپل اختیار سره تسلیم او اقرار په ژبه سره ضروري دی په وخت کي د طلب که یو چا طلب وکړ او څوک انکار داقرار څخه وکړي نو کافر بلل کیږي مؤمن نه دی . وګورئ په دې بیان کي عبد الباري (ص ۲۰) تقریر بخاري لشیخنا شیخ عبد الرزاق .

ضروري بیان:

په حدیث شریف کي راغلي دي حضرت سردار عالم رسول الله علیه الصلوة والسلام فرمایلي دي چې زما امت به درو اویا (۷۳) ډلي کیږي یوه ډله اهل حق ناجیه یعني د عذاب څخه خلاص دي او دو اویا (۷۲) په اور کي دي دغه دو اویا (۷۲) ډلي فِرَق ضاله او ګمراه ډلي دي اهغه یوه ډله اهل حق ناجیه څوک دي او کوم عمل او عقیده لري .

حضرت سردار عالم رسول الله ﷺ د هغو بیان داسي کړی دی او فرمایي : (و هم علی ما انا علیه و أصحابي) وګورئ فتاوی شهید حسن جان مدنيؒ (ج ۲) عینان تجریبان شرح لکلمتان خفیفتان لشیخ عبد الرزاق .

خلاصه او مضمون : یعني اهل حق او ناجیه ډله او د عذاب څخه خلاص کسان هغه څوک دي چې هغسي عمل او عقیده په دوی کي وي او پر هغه لار باندي روان وي چې پخپله زه او زما اصحاب پر هغه طریقه او لار باندي یو .

را لیږل د پیغمبرانو علیهم السلام ودنیا ته:

دخدای پاک ډېر لوی حکمت دی چي انبیاء علیهم السلام یې و دنیا ته رالیږلي دي ځکه چي آخرت راروان دی اوو روسته تر مرګ ژوند یقیني دی جنت سته دوزخ سته پخپل عقل سره انسانان نه سوای کولای چي حق او باطل ښه او بد کفر او اسلام وپېژني نو خدای پاک پخپل رحمت او مهرباني سره حضرات انبیاء پیغمبران علیهم السلام ودنیا ته را ولیږل چي انسانانخبر کړي او حکمونه د خدای پاک ورته ورسوي چي په آخرت کي بیا شوک نسي ویلای چي زه خو ناخبر او بې علم وم عذر ختم سو که چا حق و مانه جنت ته به ځي که چا نه ومانه دوزخ ته به ځي .

اول د ټولو انبیاؤ علیهم السلام:

حضرت بابا آدم علیه السلام دی او آخر تر ټولو او وروسته تر ټولو حضراتو انبیاء علیهم السلام حضرت سیدنا محمد رسول الله ﷺ دی افضل تر ټولو پیغمبرانو خاتم النبیین امام الانبیاء والمرسلین حضرت سیدنا محمد رسول الله علیه الصلوة والسلام دی صلوات الله تعالی علیه و علیهم اجمعین آمین ثم آمین .

عدد او شمار د پیغمبرانو علیهم السلام:

دا به په نظر کي شوک نه نسي یعني مؤمن مسلمان به داسي عقیده لري او داسي به وایي چي هر شو انبیاء، رسولان ، پیغمبران علیهم

السلام د خدای پاک دي هغه ټول ما قبول کړي او ایمان مي پر راوړی دی .امنت بجمیع الانبیاء والرسل علیهم الصلوة والسلام .

ملائکه دخدای حق دي:

ملائکه علیهم السلام مخلوق د خدای پاک دي عباد او بندګان د الله پاک دي معصوم او پاک د ګناه څخه دي یوه ذره مخالفت د خدای پاک د امر څخه نلري د اوبو، ډوډی، خوراک څخه خلاص دي . خوب، او ستړیا نلري، ولادت، نکاح زېرېدل په دوی کي نسته .نارینه، یا زناني و دوی ته نه ویل کیږي په رنګ رنګ اشکالو او صورتو کېدلای سي او شپه و ورځ ټول عمر دخدای پاک په خدمت کي مصروف دي مرګ لري او پس د مرګه بیا ژوند لري الفاظ د ښځو باید په شان کي د دوی څوک و نه وایي په جنت او دوزخ کي بیله ثواب او عذاب ملائکه وجود لري .

حضرت جبرائیل علیه السلام:

حامل د وحي او راوړنکی د آیاتو مبارکه وو دی و انبیاء علیهم السلام ته د طرفه څخه د خدای جل جلاله .

حضرت اسرافیل علیه السلام:

وظیفه دار د صور او د شپېلۍ دی هر کله چي هغه صور پُو کړی سي ژوندي مخلوقات به ټوله فنا کیږي څلویښت کاله وروسته به بیا پُو کړی سي اموات او مړي به راپورته کیږي دغه نو ورځ د قیامت ده .

میکائیل علیه السلام:

وظیفه دار دی د باد، باران، تکه، تالنده، برېښنا، زلزله چي په دنیا کي راځي .

ملک الموت عليه السلام:

مقرر دی سره د خپلو خادمنو پر قبضولو دارواح چي د خلقو څخه ارواح اخلي هر کله چي وخت پوره سي .

رضوان عليه السلام:

مشر او افسر د ملائکهؤ دجنت رضوان نوميږي نقش و نګار او زينت ورکول د جنت د ده وظيفه ده او نور ملګري خادمان ډېر لري چي په جنت کي بنګلې، مانۍ، کورونه د مؤمنانو دپاره جوړوي .

مالک عليه السلام:

هغه مشر او افسر دجهنم د ملائکهؤ مالک نوميږي چي رنګ رنګ عذابونه و کافرانو ته ورکوي او نور ملګري خدمت ګاران ډېرورسره دي کافران د دوزخ چي هر څو ډېر دي و مالک ته داسي معلوميږي لکه ديوه کور انسانان چي و خپل مشر ته معلوم وي .

حضرت اسماعيل عليه السلام:

د آسمانو يو ملک دی ديو لک افسرانو افسر دی حضرت رسول الله ﷺ چي مريض وو په مدينه منور کي هم دغه حضرت اسماعيل ديو لک افسرانو افسر او مشر د حضرت رسول الله ﷺ و بيمار پرسۍ او پوښتني ته راغلی وو د مخه تر دغه و مځي ته نه وو راغلی بيا هم نه راځي و مځکي ته .

کتابونه د الله پاک حق دي:

څلور کتابه، او سل صحيفې د خدای پاک د خوا څخه و دنيا ته راغلي دي او خدای پاک رالېږلي دي:

☆...تورات شریف:

پر حضرت موسی علیه السلام راغلی دی .

☆...زبور شریف:

پر حضرت داؤد علیه السلام راغلی دی .

☆...انجیل شریف:

پر حضرت عیسی علیه السلام راغلی دی .

☆...قرآن عظیم شریف:

چې آخر او وروستنی کتاب د الله پاک دی پر حضرت سردار عالم خاتم الانبیاء إمام المرسلین محمد رسول الله علیه و علیهم الصلوٰة والسلام باندي راغلی او نازل سوی دی .

په مقدار او اندازه کي د درویشتو (۲۳) کلونو .

ایمان راوړل پر تو کتابو باندي فرض عین دی .

دا مسئله د ایمان ده او عمل به په قرآن شریف او احادیثو کیږي مذهب د دوی څخه نه دی وتلی .

❁...لس (۱۰) صحیفې:

پر حضرت بابا علیه السلام راغلي دي .

❁...پنځوس (۵۰) صحیفې:

پر حضرت شیث علیه السلام راغلي دي چي د بابا علیه السلام زوی دی او نبي د خدای پاک دی لمونځ د جنازې و حضرت بابا علیه السلام ته هم دغه شیث علیه السلام ورکړی دی په حضور کي د حضرت جبرائیل علیه السلام او دېرش تکبیر یې ددغه جنازې په

لمانځه کي ویلي دي .

❁...دیرش (۳۰) صحیفې :

پر حضرت ادریس علیه السلام راغلي دي .

❁...لس (۱۰) صحیفې :

پر حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام راغلي دي .

مطلب دا دی: چي مؤمن مسلمان به ایمان پر ټولو کتابو د خدای پاک او پر ټولو صحیفو باندي راوړي او داسي عقیده به لري چي یا الله هر څه چي تا پر خپلو پیغمبرانو علیهم السلام نازل کړي دي هغه ټوله ما منلي دي ایمان مي پر راوړی دی .

معراج د حضرت رسول الله علیه السلام حق دی:

حضرت رسول الله علیه الصلوة والسلام په مکه معظمه کي وو دمخه تر هجرت په دولسم کال د نبوت حضرت جبرائیل علیه السلام ورته ورغی او د حضرت رسول الله علیه الصلوة والسلام سینه مبارکه یې ور چاک کړه بیا یې زړه مبارک منور د آب زمزم شریف په ابو باندي ور پرېی او بُراق یې ورته حاضر کړی حضرت جبرائیل علیه السلام رکیب د بُراق نیولی وو او حضرت میکائیل علیه السلام زمام یعني جلو د براق نیولی وو حضرت رسول الله علیه الصلوة والسلام پر براق باندي سپور سو او و شام بیت المقدس شریف ته یې ورساوه هلته یې دوه رکعته لمونځ وکړی بیا یې دوه ګلاسه ورته حاضر کړه یو د شیدو او بل د خمر یعني د (شرابو) حضرت رسول الله علیه الصلوة والسلام

پخپل اختیار د شیدو ګلاس قبول کړ وروسته حضرت جبرائیل علیه السلام ورته وفرمایل چي تا مختار کړی محکم دین که چیري تا خمر یعني (شراب) خوښ کړي وای نو امت به دي ګمراه سوی وای بیا یې حضرت رسول الله علیه السلام روان کی و آسمانو ته .

۞...په اول آسمان کي:

بابا علیه السلام حاضر وو زموږ نبي علیه السلام الصلاة والسلام ملاقات ورسر وکړی او بابا علیه السلام ښه راغلی ورته وویل او دعا د خیر یې ورته وکړه .

۞...په دوهم آسمان کي:

حضرت عیسی علیه السلام او حضرت یحییٰ علیه السلام دواړه حاضر وو ښه راغلی یې و نبي علیه السلام ته وویل او دعا د خیر یې ورته وکړه .

۞...په دریم آسمان کي:

حضرت یوسف علیه السلام حاضر وو حضرت رسول الله علیه السلام ملاقات ورسره وکړی حضرت یوسف علیه السلام مرحبا او ښه راغلی ورته وویل او دعا د خیر یې ورته وکړه .

۞...په څلورم آسمان کي:

حضرت ادریس علیه السلام حاضر وو حضرت رسول الله علیه الصلوة والسلام ملاقات ورسره وکړی او ادریس علیه السلام ښه راغلی ورته وویل او بیا یې دعا د خیر ورته وکړه .

۞...په پنځم آسمان کي:

حضرت هارون عليه السلام حاضر وو حضرت رسول الله عليه الصلوة والسلام ملاقات ورسره وكړى او هارون عليه السلام مرحبا بنه راغلى ورسره وكړه او دعا يې ورته وكړه .

❁...په شپږم آسمان كي:

حضرت موسى عليه السلام حاضر وو حضرت رسول الله عليه الصلوة والسلام ملاقات ورسره وكړى موسى عليه السلام مرحبا بنه راغلى ورته وويل او دعا د خير يې ورته وكړه .

هر كله چي حضرت رسول الله عليه الصلوة والسلام د حضرت موسى عليه السلام څخه تېر سو موسى عليه السلا وژړل او ويې ويل چي يا الله دغه ځوان تر ما وروسته و دنيا ته راغلى او د ده امت به ډېر ځي و جنت ته ، زما تر امت، يعني پر حال د بني اسرائيلو يې وژړل چي ده مبارك څونه ډېر ډېر محنتونه او تكليفونه ورسره وكړل لكن بني اسرائيل يهوديان په آخر كي كافران سوه پر ضد د اسلام پر ضد د قرآن عظيم او پر ضد د حضرت رسول الله ﷺ ودرېده او تر اوسه پوري ولاړ دي پر هغه كفر .

❁...په اووم آسمان كي:

حضرت سيدنا ابراهيم عليه السلام حاضر وو او بيت المعمور شريف ت يې شا لګولې وه و حضرت رسول الله عليه الصلوة والسلام ته يې وويل مرحبا بالنبى الصالح و الابن الصالح يعني بنه راغلى دي وي دغه صالح نبي لره او دغه صالح زوى لره .

حضرت رسول الله عليه الصلوة والسلام په اولاد كي د حضرت

☆... اول: **تورات**: پر حضرت موسی علیه السلام .

☆... **دوهم: زبور**: پر حضرت داؤد علیه السلام راغلی دی .

☆... **دریم: انجیل**: پر حضرت عیسی علیه السلام .

☆... **څلورم: قرآن عزیز دی**:

د خدای پاک آخر کتاب چي پر حضرت خاتم الانبیاء محمد رسول الله علیه الصلاة والسلام باندي نازل سوی دی .

او دغه رنګه سل صحیفي چي پر نورو پیغمبرانو باندي راغلي دي پر ټولو مي ایمان راوړی دی نور کتابونه منسوخ سوه او عمل به یوازي او یوازي د حضرت رسول الله علیه السلام په مبارک دین کیږي .

ورسله:

او دغه رنګه ما ایمان راوړی دی پر ټولو رسولانو پیغمبرانو باندي علیهم السلام چي حق دي بشر دي، د ګناه څخه پاک دي خدای پاک دوی ته رالیږلي دي دپاره د خبرولو د انسانانو او د هغه څه چي ملائکه دوی خپله ذمه فارغه کړه د دنیا څخه ولاړه د خدای پاک سره یې ورساوه .

او دغه رنګه ما ایمان راوړی دی چي مقدرات ټول هغه شیان چي په دنیا کي پيښيږي مثلاً که ښه وي او که بد، که هم وي او که خوشحالي، ټوله د جانبه د خدای پاک دي الله پاک يې اراده کړې ده لکن په ښو ښو کارو د بنده خدای پاک راضي کيږي او په بدو په ناروا کارو خدای پاک ناراض کيږي . و من الله التوفيق .

والبعث بعد الموت:

دغه رنګه ما ایمان راوړی دی پر اپورته کولو د قبرو څخه وروسته تر مرګ يعني هر سړی به د خپله ځايه څخه راولاړيږي په دوهمه نفخه او د حشرګاه پر ميدان به دريږي د الله پاک په حضور کي او سوال پوښتنه به ورڅخه کيږي .

لا اله الا الله محمد رسول الله:

کلمه طيبه حق ده خدای پاک واحد لا شريک دی هيڅ څوک لائق د عبادت نه دی مګر يوازي او يوازي الله پاک دی خدای پاک لره شريک نسته نه په مځکه کي او نه په آسمانو کي نه په دنيا کي، او نه په آخرت کي حضرت محمد عليه الصلوة والسلام يقيناً او قطعاً رسول او پيغمبر د الله پاک دی .

امنت بالله كما هو باسمائه:

يعني آمنت بالله ايماناً مثل ايماني باسمائه

خلاصه:

ما ايمان راوړی دی پر الله پاک چي واحد لا شريک دی په مثل د ايمان زما پر اسماؤ د پاک خدای يعني پر نهه نيوي (۹۹) نومو د الله جل شانه

لکه عالم، قادر، سمیع، بصیر، خبیر، آهـ د اطفالو و ذهن ته چي رسیږي اولا نوموونه دخدای پاک رسیږي .

و صفاته:

همدغه رنګه مایمان راوړی دی پر صفاتو د خدای پاک چي صفت د خدای پاک حق دي لکه علم، قدرت، سمع اورېدل، بصر لیدل، اهـ .
فرق په مابین کي د اسماؤ او د صفاتو د خدای پاک ښکاره سو .

و قبلت جمیع احکامه:

او همدا رنګه ما قبول کړي او ما منلي دي ټوله حکمونه د خدای پاک یعني فرض، واجب، سنت، مستحب، مباح، حرام، مکروه یعني هر څه چي الله پاک پر حضرت محمد رسول الله علیه الصلوة والسلام باندي نازل کړي دي هغه ټوله مامنلي او ما قبول کړي دي .

آمنت بالله : هم پر دې ځای خلاصه سوه اوس نو ایمان شرعي څه شی دی؟ او و څه ته ویل کیږي؟

اقرار باللسان و تصدیق بالقلب:

خلاصه دا: اراکانه مبتداء ده اقرار باللسان اهـ خبر دی .

سوال او جواب:

که یو څوک اعتراض وکړي چي ایمان بسیط دی نو څرنګه اجزاء او ارکان لري؟

جواب د دی چي د هر چا په مذهب نه دی بسیط . لس مذهبه په ایمان کي مشهور سته لکه چي تېر سوه او بله د چي په وخت کي د طلب

اقرار هم دغسي ضروري دی لکه تصدیق دزړه .

صاحب د نور العقائد هم په دغه مسئله کي غلط سوی دی او په بعضي ځایو کي د نماز یې لفظ د ارکانه بیخي غورځولی دی ځکه چي نه دی باندي پوهېدلی او زموږ خپل مذهبي حنفي کتابونه هم په تعریف کي د ایمان داسي فرمایي .



الاختلاف الحقه بين الاشاعرة والماتريدية

او اختلاف په مابین د اشاعره او ابو منصور الماتریدي چي مشهور په امام د اهل السنة والجماعة دی او ډېر زاهد او بزرګ او غټ عالم وو او د امام ابو حنیفهؒ بعضي مسائل یې تشریح کړي دي او یا دا چي امام صاحب نه دي ذکر کړي طبق . مذهب یې ده تشریح کړی دی نو ځکه موږ ځان ته ماتریدیه وایو .

. . . .

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الملك المنان ، واضع الميزان لدفع الطغيان ، رافع الشكوك والشبه ساطع البرهان ، فالق غسق الخلاف بتلألؤ لزوم الايقان من افق البيان، مؤلف قلوب اهل العرفان ، بالرجوع إلى الحق بعد الامعان ، والصلوة والسلام الاكملان ، على صفوة نوع الانسان، محمد المبعوث من بني عدنان، إلى كافة الخلق ملكا و انسا و جان، المخصوص بافضل

مواهب الرحمن، المؤلف بين القلوب المتنافرة في سالف الازمان، و على آله و صحبه المتناصرين لتمهيد قواعد الايمان ـ

و بعد: فان العبد الخاطئ الضعيف حسن بن عبد المحسن ابا عذبة يقول ما امتطيت غوارب الاغتراب ـ و تصديت لمتاعب الاكتساب ـ انتهى الحط والترحال، و تقلب الامور حالا بعد حال إلى ان وردت أفضل البقاع و أم القرى مكة المشرفة شرفها الله تعالى تاسع رمضان المبارك سنة خمس و عشرين و مائة بعد الألف من الهجرة النبوية ـ على صاحبها أفضل الصلاة والسلام فوجدتها كروضة زانتها الازهار ـ اوكجنة تجرى من تحتها الانهار، فيها الحور والقصور و هي بلدة دحيت الارض منها فمدها الله تعالى من تحتها فسميت أم القرى ـ و اول جبل وضع في الأرض أبو قيس إذا ناباخ لى في الله تعالى التمس منى تأليفا اذكر فيها المسائل المختلفة، فيما بين السادة الأشعرية والسادة الماتريدية، و رأيت اسعافه حتما و اجبته غنما فاخذت في ذلك المسئول، مستعينا بالله تعالى و سائلا منه القبول، و متولاس إليه تعالى باعظم رسله صلى الله عليه وسلم و على آله و أصحابه السادة الفحول ـ ما طلع نجم و ما اذن بالافول، و سميتها (بالروضة البهية فيما بين الأشاعرة والماتريدية) و رتبتها على مقدمة و فصلين و خاتمة

(فالمقدمة في الكلام على امامى أهل السنة و الآخذين عليهما)

اعلم ان مدار جميع عقائد أهل السنة والجماعة على كلام قطبين أحدهما الامام ابوالحسن الاشعرى والثانى الامام أبو منصور الماتريدى فكل من اتبع واحدا منهما اهتدى و سلم من الزيغ والفساد في عقيدته واعلم ان المولى المحقق التفتازانى ذكر في شرحه للمقاصد ان المشهور

فی أهل السنة فی دیار خراسان والعراق والشام و اکثر الاقطار هم الأشاعرة أصحاب أبی الحسن الاشعری و هو علی بن اسمعیل بن اسحاق بن سالم بن اسمعیل بن عبد الله بن أبی بردة ابن أبی مسوی الاشعری صاحب رسول الله ﷺ اول من خالف ابا علی الجبائی و رجع عن مذهبه إلی السنة ای طریقة النبی ﷺ والجماعة ای طریقة الصحابة رضی الله عنهم وهم مصنّفات کثیرة قال بعضهم فی خمسة و خمسون مصنفا و فی دیار ماوراء النهر الماتریدیة أصحاب أبی منصور الماتریدی و هو محمد بن محمد بن محمود و أبو منصور الماتریدی تلمیذ أبی نصر العیاضی تلمیذ أبی بکر الجوزجانی صاحب سلیمان الجوزجانی تلمیذ محمد بن الحسن الشیبانی کان یلقب بامام الهدی و له کتاب التوحید و کتاب المقالات و کتاب اوائل الادلة للکعبی و بیان و هم المعتزلة و کتاب تاویلات القرآن و هو کتاب لایوازیه کتاب بل لا یدانیه شیئ من تصانیف من سبقه و له کتب شتی مات سنة ثلاث و ثلاثین و ثلامائة بسمرقنده قلت هذا فی زمن المولی و عصره و إمام فی عصرنا هذا فبلاد خراسان کلها سوی بلخ فی ایدی الروافض خذ لهم الله تعالی فالمشهور فی تلک البلاد الیوم آراؤهم المنکرة۔ ثم ۔ ان المشتهر فی بلاد المغاربة عقائد الأشاعرة لأن الغالب علی تلک البلاد مذهب الامام مالک بن انس رضی الله عنه و المالکیة فی المعتقدات توافق الاشعری و فی بلاد الهند کلی کثرتها وسعتها و بلاد الروم علی کثرتها وسعتها مع کونهم باسرهم حنیفة عقائد الماتریدیة فالمتداول والشائع من الکتب الکلامیة للأشاعرة غید الابکار للآمدی و نهایة المعقول والأربعین للامام والمواقف والمقاصد و شرحهما و اما

الكتب الكلامية للحنفيه مع انها كثيرة ما بين مطول و مختصر و مجمل و مفصل لم يشتهر فى تلك البلاد الابعض المختصرات منها مثل الفقه الأكبر و اللامية و متن النسفى انتهى كلامه مع زيادة ـ

اعلم :ان الأشاعرة الماتريدية متفقون فى أن عقيدة أهل السنة والجماعة والخلاف الظاهر بينهما فى بعض المسائل فى بادى رأى لا يقدح فى ذلك ولا يوجب صيرورة أحدهما مبتدعاً و لا كون أحدهما مبدعا للآخر طاعنا فى دينه لانها امور جزئية فرعية بالنسبة إلى اعدل العقائد الكلية و مسائل مبنية على شبه الالفاظ و تعيين المعنى المراد منها و اما امور لم يثبت كونها من مقالة أحدهما و ما فهم الزاعم مقصود القائل بها و هى الآفة الكبرى ـ

فكم من عائب قولا صحيحا
و آفته من الفهم السقيم

و ما هذا الاختلاف الا كالاختلاف الواقع بين أصحاب الأشعرى و بن أصحاب أبى حنيفة و لا شك ان أصحاب كل منهما لا يكفرون امامهم ولا يبدعونه و ان الخلاف فيها غير مضر ولا موجب لفساد عقيدة على تقدير كونه على حاله فكيف والتوفيق ممكن و فى بعض المسائل يكون قولا للاشعرى على وفق الماتريدى و قولا على خلافه و إلى ذلك كله اشاره صاحب النونية بقوله :

والخلف بينهما قليل أمر　　　سهل بلا بدع ولا كفران
ولقد يؤول خلافهم اما إلى　　　لفظ كالاستثناء فى الايمان

و بالجملة فالخلاف الذى بينهما اماعائد إلى اللفظ والى المعنى و لما

كان الـنظر إلـى الـمـعـنى من حيث الظاهر قدم القسم الاول و مبناه على تعيين الـمراد مـن الالـفـاظ و التفتيش عن وجه الاستعمال و عند التحقيق يرتفع النزاع كما سنيبنه ان شاء الله تعالى و مبنى القسم الثانى على ماخذ ليس فيه ۔



﴿بحث اول﴾

﴿الفريدة الاولى فى تفسير الوجوب﴾

ذهب مشائخ الحنفية إلى ان الوجوب بالذات تحقق الحقيقة فى نفسها بحث تنزيه عن قابلية العدم والواجب بذاته ما جيب ان يتحقق حقيقته بلا مدخل الغير كما تعديل العلوم وشرحه للصدر العلامة و قد عبر عنه بكون الذات عين الوجود بمعنى انه كان وجودا خاصا قائما بذاته غير متنزع من غيره و فى شرح العقائد لجلال الدين الدوانى ان هذا مذهب محققى المتكلمين ۔و ذهب المشائخ من الأشاعرة إلى انه يفسر بكون الذات مقتضية لوجود فالواجب ما اقتضى ذاته وجوده كما فى المواقف و شرحه الشريفى و هو المشهور و اختاره صاحبالصحائف و قد عبر عنه بكون الذات علة تامة لوجوده كما هو المصرح به فى شرح الدوانى والمستفاد من حكمة العين والتفسير الكبير لفخر الدين الرازى كما استدل مشايخ الحنفية بان ما قد أجمع عليه الاجماع من ان ذات الواجب ما لا يتصور فى العقل عدمه يوجب ان ذات الواجب لا يسبقه ولا يلحقه العدم حتما و ذلك مع القطع بكون الوجود عين الذات فى ذات الواجب يوجب تفسير وجوب الوجود بتحقق الذات فى نفسها بحيث تتنزه عن قابلية العدم ،

واحتج مشايخ الأشاعرة بأن ضرورة الوجود ثابتة و انها بسبب الذات لا بسبب الغير فاذا تحققت ضرورة الوجود تحققت ضرورة الوجود بسبب الذات تحقق الوجوب الذاتی من حيث انه تحققت ضرورة الوجود بسبب الذات و ان لم يتحقق لم يتحقق الوجود من حيث انه لم تحقق الضرورة المذكورة وعدم تحقق ذلك محال فالوجوب الذاتی هو ضرورة الوجود باقتضاء الذات فالوجود باقتضاء الذات كما يستفاد من الصحائف للامام السمرقندی۔

الجواب انه لما ثبت ان الوجود غير زائد على الذات بل عينه لا يتصور فيه الاقتضاء و أن الشيئ ما لم يكن موجودا لا يتصوّر منه الاقتضاء كماانه ما لم يوجد لم يوجد اذالابجار نفسها كما فی شرح العقائد للداوانی۔

﴿فائدة﴾... فی تعديل العلوم ان ما يتصوّر ان اقتضى ذاته الوجود فواجب او العدم فممتنع اولا فممكن لكنا معاشرالحنفية لا تقول هكذا لان الوجود غير زائد على الذات خصوصا فی الواجب و لا ذات للمعدوم لاسيما الممتنع فكيف يقتضی بل تقول المفهوم ان كان له حقيقة يجب أن تحقق بلا مدخل للغير فواجب والافان وجب عدمه لنفس المفهوم فممتنع و الا فممكن الاول يسمى واجبا بالذات والثانی ممتنعا بالذات و الثالث ممكنا بالذات ولا يرد ما ذكر و هو أن الوجود غير زائد على الذات و لا ذات للممتنع۔

﴿الفريدة الثانية فی أن الوجوب عدمی أم لا﴾

ذهب مشايخ الحنفية إلى أن الوجوب ليس أمر ازائد على الذات ولا عدميا ولا اعتباريا كما هو المصرح به فی تعديل العلوم وشرحه و المستفاد

۞ ...وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ (40) [سورة القمر]
او مونږ آسانه كړ قرآن لپاره د پوهېدو ، پس سته آيا څوك سوچ كوونكى .
۞ ...وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُواْ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ شَيْئاً وَلاَ يَهْتَدُونَ (104)

[سورة المائده]

او کله چې وويل سي دوی ته چې راسئ هغه ته کوم چې الله جل جلاله نازل کړي دي او د رسول طرف ته، نو وايي چې موږ لره کافي دی هغه پر کومو چې پيدا کړي دي موږ پلار او نيکه خپل، که څه هم د دوی پلاره او نيکه نه څه علم درلود او نه ورته لاره معلومه وه نو بيا به هم دوی داسي کوي .

۞ ...قَالُواْ أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (70) [سورة الاعراف]

ويل آيا ته په دې وجه موږ ته راغلې چې موږ بندګي وکړو د يو الله جل جلاله او پرېږدو هغه د کومو چې عبادت کاوه زموږ پلار او نيکه، پس ته راوړه موږ ته د کوم شي څخه چې ته موږ بېروې، که ته رښتينی يې .

خلاصه داده چې د سوره الاعراف آيت ۹۴ څخه بيا تر سوره الصفٰت آيت ۹۶ پوري دغه دانبياو او صالحينو مجسمې او بتان په هر وقت کي جوړ سوي دي او عابدين ئې په هلاکت رسيدلي دي .

۞ ...قَالُواْ يَا شُعَيْبُ أَصَلاَتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاء إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ (87) [سورة الهود]

ويل اې شعيب عليه السلام ستا لمونځ کول تا ته دا بنيی چې موږ پرېږدو د کومو چې عبادت کاوه زموږ پلار او نيکه يا پرېږدو هغه کول څه چې موږ کوو، پخپلو مالونو کي، ته يې ډېر باوقار نېک چلن .

۞ ...قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ

لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى قَالُواْ إِنْ أَنتُمْ إِلاَّ بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ (10) [سورة الابراهيم]

وویل د دوی رسولانو، آیا په الله جل جلاله کي شک دئ چا چي جوړ کړيدي آسمانونه او مځکه، هغه تاسو را بولي، چي وبخښي تاسي ته ګناهونه ستاسو، او وروسته کړي تاسو تر یوې وعدې پوري، چي مقرره سوې ده، و یې ویل چي تاسو خو زموږ په شان بني آدم یاست، تاسي غواړئ چي منع کړئ موږ د هغو شیانو څخه د کومو چي عبادت کاوه زموږ پلار او نیکه، پس راوړئ څه سند ښکاره.

۞ ...قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءنَا كَذَلِكَ يَفْعَلُونَ (74)

[سورة الشعراء]

ویل به دوی، دومره خبره ده پیدا کړی دی پلار زموږ پر دغه طریقه باندي چي داسي کار به یې کاوه.



په هر دور کي د انبیاؤ او صالحینو بتان

جوړ سوي او مرسته ځیني غوښتل سوې

۞ ...إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (194)

[سورة الأعراف]

کوم چي تاسو بولئ د الله جل جلاله څخه ماسوا، هغه بندګان دي ستاسي په شان، نو وبولئ دوی، پس په کار دی چي دوی قبوله کړي

بلنه ستاسي، كه تاسي رښتيني ياست .

☆......در ميانه خانه گم كرديم صاحب خانه را۔

ترجمه: د كور په منځ كي را څخه د كور خاوند ورک دی .

۞ ...وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعاً ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُواْ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ (28)[سورة اليونس]

په كومه ورځ چي جمع كړو موږ دوی ټوله بيا به وو ايو شرک كوونكو ته ودرېږي پر خپل ځای تاسي او ستاسي شريكان بيا به اختلاف وغورځوي موږ په مينځ كي د دوی او و به وايی د دوی شريكان ، تاسو خو زموږ عبادت نه دی كړئ .

۞ ...وَإِذَا رَأى الَّذِينَ أَشْرَكُواْ شُرَكَاءهُمْ قَالُواْ رَبَّنَا هَـؤُلاء شُرَكَآؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوْمِن دُونِكَ فَألْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ (86) [سورة النحل]

او كله چي وويني مشركان خپل شريكان و به وايی اې ربه دا زموږ شريكان دي كوم چي موږ بلل ستا څخه ما سوا پس و به غورځوي دوی ته خبره چي تاسي دروغجن ياست .

۞ ...أُولَـئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوراً) (57) [سورة بني اسرائيل]

دغه خلک كوم چي دوی را بولي لټوي خپل رب ته وسيله چي كوم بنده ډېر نژدې دی او اميدوار دی، د ده د مهرباني او بېرېږي د ده د عذاب څخه بېشكه ستا د ربّ عذاب د بېري شی دئ .

● ...وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَائِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقاً (52) [سورة الكهف]

او پـه کـومـه ورځ چي ووايي را وبولي زما شريکان کوم چي تاسي منـل نـو را وبـه بولي، پس هغوی به جواب ورنکړي دوی ته، او جوړ به کړو موږ د دوی په منځ کي د مرګ ځای .

﴿ ...أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِن دُونِي أَوْلِيَاء إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلاً (102) [سورة الكهف]

آيـا داسـي ګڼي کافران خلک چي نيسي زما بندګان ماسوا زما څخه مددګاران، موږ تيار کړيدی دوزخ لپاره د کافرانو مېلمستيا .

﴿ ...وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزاً (81) كَلَّا سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِداً (82) [سورة مريم]

او نيـولـي دي خـلـکو نور ماسوا د الله جل جلاله څخه معبودان، چي سي د دوی لپـاره مددګاران، هيڅکله داسي نه ده دوی به منکر سي پر بندګي د دوی او سي به د دوی مخالف .

﴿ ...وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّـهِ فَيَقُولُ أَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَؤُلَاء أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ (17) [سورة الفرقان]

پـه ورځ د قيـامتـه بـه الله جـل جلاله را پورته کړي هغه چي په دنيا کـي يې عبـادت کېـدی مـاسـوا د الله جـل جـلالـه څخه د دوی ته به وويل سي چي زمـا داغـه بـنـدګـان تـاسـي ګمراهان کړي وو، په دنيا کي که دوی په خپله ورکه کړې وه برابره لار .

﴿ ...قَالُوا سُبْحَانَكَ مَا كَانَ يَنبَغِي لَنَا أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاء وَلَكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَآبَاءهُمْ حَتَّى نَسُوا الذِّكْرَ وَكَانُوا قَوْماً بُوراً (18)) [سورة الفرقان]

وايـى دوى پـاک ده تـا لـره نه ده مناسبه موږ لره دا چې و نيسو ماسوا له تا څخه د دوستانو څخه مګر تا ورسوله و دوى ته، او د دوى پلرو ته، تـر داسـې اندازې پـورې چـې تــه دوى هيـر كـړې نو دوى سوه يو قوم تاوانيان .

۞ ...فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفاً وَلَا نَصْراً وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَاباً كَبِيراً (19) [سورة الفرقان]

پـس دوى به دروغجن كړې تاسې، ستاسې په خبره كې، پس نه به د واپسـې كـولو طاقت لرې او نه به د كومک كولو او څوک چې په تاسې كې ګناهګار دى هغه ته به وركړو موږ عذاب لوى .

۞ ...احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ (22) [سورة الصفٰت]

جـمـع كـړى ګـنـاهـګارو لره او د دوى جوړو لره او د كومو چې دوى عبادت كاوه .

۞ ...مِن دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ إِلَى صِرَاطِ الْجَحِيمِ (23) وَقِفُوهُمْ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ (24) [سورة الصفٰت]

دالله جل جلاله څخه ماسوا پس روان كړئ دوى دوزخ پر لاره باندې او ودروئ د دوى څخه، پوښتنه كول دي .

۞ ...قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ (95) وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ (96) [سورة الصفٰت]

و يـې ويل آيا تاسې عبادت كوئ د هغو چې تاسې يې تراشې كوئ او الله جل جلاله پيدا كړې ياست تاسې او څه چې تاسې جوړوئ .

د خدای حضور ته ټوله مخلوقات مجبوره دي

۞ ...وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِيَ إِنْ أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (34)

[سورة الهود]

په کار به در نه سي تاسي ته زما نصيحت که زه وغواړم چي تاسي ته نصيحت وکړم . که الله غوښتلي وي چي تاسي ګمراه کړي هغه دئ ستاسي ربّ او هغه ته به واپس کېږئ .

خلاصه داده چي موږ ټوله دالله محتاجه يو هغه نبيان دي که اولياء دي او که نور مخلوق دی يعني الله غني او مختار کل دی .

☆ ......مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی۔

ترجمه: يعني مرض دومره زياتيږي څومره چي علاج کوئ .

۞ ...قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ (63)[سورة الهود]

وويل اې قومه! آيا وينئ تاسي که زه يم پر صفا لاره د خپل ربّ، او هغه لېږلی وي پر مابانديرحمت د خپل طرف څخه بيا څوک به خلاص کړي ما د هغه څخه، که زه يې نافرماني وکړم، پس تاسي هيڅ نه زياتوئ زما بغير د نقصان څخه .

۞ ...وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا (73) [سورة بنی اسرائيل]

او دغـه خلک خو غـواړي چي واړوي تـا د هغـه څـه څخـه چي وحي
رالیږي تـا تـه چي جـوړ کـړي پـر مـوږ بـانـدي بغیر د هغه څخه او دغه
وخت به جوړ کړي تا دوست .

﴿...وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئاً قَلِيلاً (74)

[سورة بنی اسرائیل]

او کـه تـه مـوږ مـضبـوط کـړی نـه وای نو تـه بـه د دوی طرف تـه مـائل
سوی وای لږ څه .

﴿...إِذاً لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا
نَصِيراً (75) [سورة بنی اسرائیل]

بیـا بـه خـامخا موږ څکولی وای تا تـه دو چنده (عذاب) پـه ژوند کي،
او دو چـنده پـه مرګ کي، بیا بـه نـه وای پیدا کړی تا د ځان لپاره پر موږ
مدد کوونکی .

﴿...إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلاَّ آتِي الرَّحْمَنِ عَبْداً (93)
[سورة مریم]

څوک نسـتـه پـه آسمان او مـځـکه کي مګر راځي رحمٰن لره بنده جوړ
سوی .

﴿...وَلاَ تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهاً آخَرَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلاَّ وَجْهَهُ لَهُ
الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (88) [سورة القصص]

او مـه بـولـه د الله جـل جـلالـه سـره بـل معبـود، نـسـتـه معبـود څوک
ماسوا د هغه څخه، هر شی فنا کیږي ماسوا د ذات د هغه څخه، صرف د
هغه حکم دی او هغه تـه بـه واپس سئ .

﴿...قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (15)

[سورة الزمر]

تـه و وایـه زه بېرېږم کـه نـافـرمـاني وکړم د خپل ربّ د یوې لویې ورځې د عذاب څخه .

﴿ ...أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي النَّارِ (19)) [سورة الزمر]

آیـا پـر چـا چـي ثابت سو حکم د عذاب، آیا ته به خلاص کړې هغه چي پرهوتی په اور کي .

﴿ ...أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ (36) [سورة الزمر]

آیـا الله جـل جـلالـه کافي نه دی خپـل بنده ته، او تا بېروي د هغو څخه کـوم چـي د هـغـه څـخـه مـاسـوا دي او څوک چي الله جل جلاله بې لاري کړي نو هیڅوک د هغه پر لاره کوونکی نستـه .

﴿ ...وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّضِلٍّ أَلَيْسَ اللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِي انتِقَامٍ (37) [سورة الزمر]

او چـا تـه چـي الله جـل جـلالـه هـدایـت وکړي هغه څوک گمراه کولی نسي آیا نه دئ الله جل جلاله زبردست بدله اخیستونکی ؟

﴿ ...وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلْ أَفَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَاتُ رَحْمَتِهِ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ (38) [سورة الزمر]

او کـه تـه د دوی څـخـه پوښتنه وکړې چي چا پیدا کړي دي آسمـانـونـه او مـځکي نو به وایی چي الله جل جلاله، ته و وایه چي آیا وینئ تاسي

کوم چې تاسې بولئ ماسوا د الله جل جلاله څخه، که اراده وکړي الله جل جلاله تاسې ته د تکلیف رسولو نو هغه داسې دئ چې لرې کړي د هغه تکلیف یا که هغه اراده وکړي پر ما د مهربانۍ نو آیا هغه داسې دئ چې لرې کړي د هغه دغه رحمت، ته ووایه کافي دئ ما لره الله جل جلاله په هغه باور کوي باور کوونکي.

۞ ...إِنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ فَمَنِ اهْتَدَى فَلِنَفْسِهِ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ (41) [سورة الزمر]

موږ نازل کړی دی تا ته کتاب لپاره د خلکو د حق دین سره، پس چا چې هدایت پیدا کړ نو د خپلې فائدې لپاره او څوک چې ګمراه سول نو وبال د ګمراهۍ پر هغه باندې دی او ته د دوی ذمه وار نه یې.

۞ ...وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ (18)

[سورة المؤمن]

او خبر ورکړئ دوی ته د هغه نژدې راتلونکي ورځ، په کوم وخت چې زړونه ورسیږي مریو ته (د غم څخه) ویلې کېدونکی هیڅوک نسته، د ګناهګارانو دوست او نه سفارش کوونکی، چې خبره یې ومنله سي.

۞ ...وَاللَّهُ يَقْضِي بِالْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَقْضُونَ بِشَيْءٍ إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (20) [سورة المؤمن]

او الله جل جلاله فیصله کوي په انصاف سره، او کوم چې دوی بولې ماسوا د هغه څخه، فیصله نه سي کولی د هیڅ شي. بېشکه الله جل جلاله هغه دی اورېدونکی او لیدونکی.

۞ ...فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ (10) [سورة القمر]

پس ده وبالـه ربّ خپـل چي زه عـاجزه سوم، بدله واخله بيا موږ خلاص کړې.

۞ ...قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (4) [سورة الممتحنة]

پـه تحقيق سره دئ تاسي لره چلېدل په کار دئ پر ښه طريقه باندي د ابـراهيـم عليـه السلام، او د هغوی چي د ده سره وکړه چي هغوی وويل خپـل قـوم ته چي موږ جلا يو ستا سي څخه او د هغو څخه د کومو چي تـاسي عبادت کاوه ماسوا د الله جل جلاله څخه، موږ منکر يو ستـاسي څخـه او ښـکاره سوه پـه موږ او تـاسي کي دښمني او بغض د همېشه لپـاره، تر دې چي تـاسي يقين وکړئ په الله جل جلالـه يوه باندي، مګر يـوه خبـره د ابـراهيـم عليــه السـلام، خپـل پـلار تـه چي زه بـه بخښنـه غـواړم ستـا لپاره او مالک نه يم زه ستـا دپاره د الله جل جلالـه د نفع د څه شي، اې ربّـه زموږ پر تا باندي توکل دئ زموږ او تا ته ده رجوع زموږ، او تا تـه ده واپسي.

۞ ...سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (6) [سورة المنافقون]

بـرابـره خبـرهٔ ده پـه حق د دوی کي، کـه تـه بخښنـه غـواړې دوی لره، او

کـه بـخـښـنـه نه غوارې دوى لره، بخښنه نه کوي الله جل جلاله دوى ته، بېشکه الله جل جلاله هدايت نه کوي هغه قوم ته چي فاسقان دي .

۞...وَلَـوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيْلِ (44)لَأَخَـذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ (45)ثُـمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ (46)فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِيْنَ (47) [سورة الحاقة]

او که چيري ده جوړ کړى واى پر موږ باندي څه خبره، نو خامخا موږ به نيولى واى د ده راسته لاس، بيا به موږ پرې کړې واى د ده غاړه، پس نسته په تاسي کي څوک د دې څخه ساتونکى .

۞...قُلْ إِنِّىْ لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرّاً وَلَا رَشَداً (21) [سورة الجن]

تـه ووايـه چي زمـا پـه اختيـار کي نه دي ستاسي بد، او نه پر لاري کول .

۞...قُـلْ إِنِّـىْ لَـن يُـجِيْرَنِىْ مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُوْنِهِ مُلْتَحَداً (22) [سورة الجن]

تـه ووايـه ما به محفوظ نه کړي د الله جل جلاله د لاسه څوک، او بيا به نه کړم پيدا د هغه ماسوا، ځاى د پناه .

۞...رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْـنَهُـمَا الرحمٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَاباً (37) [سورة النباء]

چي ربّ دئ د آسـمـانـونـو او مـځـکـي او څه چي د دې په مينځ کي، لوى رحمت والا، د چا قدرت نسته چي د هغه سره خبري وکړي .

۞...يَـوْمَ يَـقُـومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفّاً لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرحْمَنُ وَقَالَ صَوَاباً (38) [سورة النباء]

په کومه ورځ چي ودرېږي روح او ملائيکي په قطار، خبري به نه سي کـولـى څـوک، مـګـر چا تـه چي حکم وکړي رحمٰن جل جلاله، او

وایی به خبره صحیح یعنی حقه .

۞ ...وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ (17)[سورة الانفطار]

تاته څخه خبر دئ چې څنګه ده د انصاف ور ځ ؟

۞ ...ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ (18) [سورة الانفطار]

بيا تا ته څه خبر دئ چې څنګه ده د انصاف ور ځ ؟

۞ ...يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئاً وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ (19)

[سورة الانفطار]

په کومه ور ځ چې مالک نه وي يو نفس د بل نفس لپاره د څه شي او حکم په دغه ور ځ د جل جلاله دئ .

۞ ...أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيماً فَآوَى (6)وَوَجَدَكَ ضَالّاً فَهَدَى (7)وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى (8) [سورة الضحى]

آيا نه يې وې پيدا کړی ته يتيم، پس ځای يې در کړ، او بيا يې پيدا کړې تـه بې لاري، پس لار يې درته وښووله او بيا يې پيدا کړې مفلس پس بې حاجته يې کړې .



دامسئله اختلافي ده زه داصحابي ترجيح څخه يم خو داعنوان دآيت موافق اينبو سوی دی نه چې زما رايه ده يا ئې مطلب دادی چې نه اوري يعنی فائده نه دررسوي که واوری که نه واوری،

مړه نه اوري

• ...إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ (80)

[سورة النمل]
بېشکه ته چي نه سي اورولی مړو ته او نه سی اورولی کڼو ته آواز کله چي پر شا وګرځي .
خلاصه دسوره النمل آیت ۸۰ څخه بیا تر سوره الاحقاف آیت ٦ پوري دسماع الموتىٰ مسئله ده چي دصحابهؤ دوخته اختلافي ده زموږ مذهب دسماع موتىٰ قائل دی چي دنیا کي ټول کارونه دالله په مشیت او اراده سره کیږي لاکن کم بنده چي یو کار داسباب عادیه په دائره کي کوي او په خپل اختیار ئې کوي نو ددغه کار نسبت هم ودغه بنده ته کیږي او چي کله یو بنده کار دعام عادت خلاف غیر معمولي طریقه سره کوي نو دهغه نسبت والله ته کیږي ددغو آیاتو خلاصه هم داده چي نبی ﷺ ومړو ته براه راست اوریدل نه سي کولای ومړو ته وراوریدل زما کار دی یعني دعادت خلاف کار دی تفسیر عثمانی ص:۵۴۵ .
نیم بیتَه : نزدیکان را بیش بود حیرانی۔
ترجمه: یعني دمقربینو حیراني لږ څه قدر هم لویه خطا شمارل کیږي .
﴿...فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاء إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ (52﴾
[سورة الروم]
بېشکه ته چي نه سی اورولی مړو ته او نه سی اورولی کڼو ته آواز ، کله چي پر شا وګرځي .
﴿...وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاء وَلَا الْأَمْوَاتُ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ (22)﴾ [سورة الفاطر]
او نه دي سره برابر ژوندي او مړه ، بېشکه الله جل جلاله ور اوروي و

هغـه چا تـه چې خوښه يې سي او تـه نه يې او رېدو نکی دپاره د هغه چا چې په قبرو کې دي .

﴿...وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُو مِن دُونِ اللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَن دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ (5) [سورة الاحقاف]

او څـوک دی زيـات ګمـراه د هغـه څخـه چي بولي مـاسوا د الله جل جلالـه څخه، هغه چي نسي قبلولی دده بلنه تر ورځي د قيامته پوري او هغوی د بلني د هغوی څخه ناخبره وي .

﴿...وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاء وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ (6) [سورة الاحقاف]

او کـلـه چي خلک جمع سي نو هغوی به وي د هغوی دښمنان او وي به د هغوی د عبادت څخه منکر .

د مشرک دا جواب چي موږ به د خپل پلار نيکه پيروي کوو، په هر دور کي وه

﴿...وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ شَيْئاً وَلاَ يَهْتَدُونَ (170) [سورة البقرة]

او کـلـه چـي څـوک دوی تـه ووايـی چي تابعداري وکړئ د هغه حکم چي نـازل کـړی دی الله جـل جـلالـه نـو دوی وايـی هيڅکله نه، موږ خو تـابـعداري کـوو د هغـه چـي پـر هغـه بـاندي موږ پيدا کـړي دي خپل نيـکـونـه او پـلـرونه که څه هم دوی پلرونه او نيـکونه نه پوهېدل او نه يې پېژندله سيده لاره .

خـلاصـه داده چـي يـو سـړی وايـي چـي زه دپلار او دنيکه پر لاره ځم داد

کفارو جواب وو نو هلته به سړی دپلار او نیکه پر لاره ځي چي هغه پر حق تللی وي .

سړی نبي نه سي جوړېدلای، دا د کافر او مشرک عقیده ده

۞ ...وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَن يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَى إِلَّا أَن قَالُوا أَبَعَثَ اللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا (94) [سورة بنی اسرائیل]

او خلک نه دي منع کړي د ایمان راوړو څخه، کله چي ورسېدی وی ته هدایت مګر دې خبري چي وایی آیا الله جل جلاله راولېږی سړی پیغمبر .

خلاصه د سوره بنی اسرائیل آیت ۸۴ څخه بیا تر سوره غافر آیت ۱۲ پوري خلاصه داده چي نبوت ورکول دالله په اختیار ده . نه دنبی په اختیار ده او نه دبل چا په اختیار ده او نبوت دالله بغیر دبل چا اختیار دکفر عقیده ده .

☆...... بر توکل زانوی اشتر به بند -

یعني: د اوښ ګونډې وتړه نو بیا یې د الله جل جلاله پر توکل وسپاره .

۞ ...قُل لَّوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَّسُولًا (95) [سورة بنی اسرائیل]

ووایه که وای په ځمکه کي فرشتې چي ګرځېدې، او سېدې نو موږ به نازل کړی، وای پر دوی د آسمان څخه فرشته پیغمبر .

۞ ...فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن

يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاء اللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً مَّا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ (24) [سورة المؤمنون]

نو وویل سردارانو کوم چې کافران وو، د ده په قوم کې، دا نه دئ مګر سړی دئ ستاسې په شان، غواړي چې لویي وکړي پر تاسې، او که غوښتل الله جل جلاله نو نازله کړی به یې وای ملائیکه، موږ نه دی اورېدلي دا په خپلو مخکنیو پلرونو نیکه ګانو کې.

۞ ...وَقَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاء الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ (33) [سورة المؤمنون]

او وویل سردارانو د هغه قوم چې کافران وو او دروغجن کاوه یې ملاقات د آخرت، آرام ورکړی وو موږ دوی ته د دنیا په ژوند کې، هیڅ نسته دا یو سړی دی ستاسې په شان، خوري کوم قسم چې تاسې خورئ او چیښئ.

۞ ...وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَراً مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذاً لَّخَاسِرُونَ (34)

[سورة المؤمنون]

او که تاسې روان سواست په خبره د یوه سړي پسې چې ستاسې په شان دی نو بېشکه به خراب سئ.

۞ ...فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ (47) [سورة المؤمنون]

پس وویل آیا موږ ومنو د خپل ځان په شان د دوو سړیو او قوم یې زموږ تابعدار دئ.

۞ ...وَمَا أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ (186) [سورة الشعراء]

او تـه خـو يـو سـړى يـې زمـوږ پـه شـان ، او زموږ پـه خيال كې خو ته دروغجن يې .

۞ ...فَقَالُوا أَبَشَراً مِّنَّا وَاحِداً نَّتَّبِعُهُ إِنَّا إِذاً لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ (24) [سورة القمر]

دوى وويـل آيـا د ويـه سـړي زمـوږ څـخه موږ تابعداري وكړو ، يقيناً موږ به دغه وخت په غلطي او سودا كې يو .

۞ ...ذَلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ (12) [سورة غافر]

دا هـمېشـه عذاب، پر تاسې پـه دې وجه دئ چې كله به بالـه چا الله جل جلالـه يـوازې نـو تـاسـې بـه انـكـار كـوى، او كـلـه چې بلل كېدل د هغه شـريـكـا ن ، نـو تـاسـې يـقـيـن كـوى، اوس حكم هغـه دئ كـوم كـوى الله د ټولو څخه لوى لوړ .



د غير الله لپاره نذر و نياز حرام دي

۞ ...إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (173) [سورة البقرة]

هغه پر تاسې باندې حرام كړى دى موږ مړ حيوان او وينه او غوښه د خنزيز او پـه كـوم حيـوان بـانـدې چې واخيستل سې نوم د الله څخـه مـاسـوا د بـل چا بيـا كه څوك ډېر ناچاره سي او نه خو نافرمانې كوي او نه زياتوالى نو پر هغه باندې گناه نسته ، بېشكه هم الله جل جلالـه ډېر بخښونكى ډېر مهربانه دئ .

خـلاصـه دسـوره البقره آيت ۷۳ څخه بيا تر سوره النحل آيت ۱۱۵ پوري دلائل ددې خبري دي چي نذر او نياز او عبادت دغير الله حرام دى .

مولانا رومیؒ څه ښه فرمايي:

خرچون دفتر تلقين كشايد

زمن آن در وجود آيد بايد

☆ ....

ترجمه: عقل چي كله د تلقين كتاب خلاص كړي، نو معلومه سي چي هم هغه زما څخه صادريږي كوم چي تقدير كي ليكلي وي او د الله جل جلاله رضا وي .

۞ ...لَّعَنَهُ اللّهُ وَقَالَ لأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيباً مَّفْرُوضاً (118) [سورة النساء]

لـعـنت كړى دى الله جل جلاله او وويل شيطان چي خامخا وا به خلم ستا د بندګانو څخه حصه مقرره .

۞ ...حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِيناً فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (3) [سورة المائده]

حـرام سو پـر تاسي باندي مړ حيوان او وينه او غوښه د خنزيز، او پر كوم حيوان چي آواز وسي د غير الله، او كوم چي مړ سي د غاړي د خپه كېدو څخه، يا د وهـشتـلـو څخـه، يا د رغړېدو څخه، يا د ښكار كولو

څـخـه او هـغـه چې ويې خوري درنده مګر کوم چې تاسي ذبح کړئ، او حـرام دي هـغـه چې ذبـح سـي پـر استـانـه باندي او دا چې تقسيموي پر غشـو د ځـمـار دا د ګـنـاه کـار دئ نن نااميده سول کافران ستاسي د دين څـخـه، نـو د دوى څـخـه مـه بېـرېږئ زما څخه و بېرېږئ، نن ما پوره کړ ستاسي لپاره ديـن ستـاسـي ، او پـوره مـي کړ پر تاسي باندي احسان خپـل، او خـوښ مـي کـړ تـاسـي لره د اسلام دين ، بيا چي څوک ناچاره سـي پـه لـوږه کـي ، لـيـکن ګناه تـه مائل نه وي نو الله جل جلالـه بخښنـي والا مهربانه دئ .

﴿...وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ذَلِكَ جَزَيْنَاهُم بِبَغْيِهِمْ وِإِنَّا لَصَادِقُونَ(146) [سورة الانعام]

او پـر يهـودو بـانـدي مـوږ حـرام کـړی وو هر يو نوک والا حيوان او د غـوا او پـسـه څـخـه حـرام کـړي وو موږ پر دوى باندي، د دې وازګه مګر کـومـه چي لګېدلې وي په شا د دوى پوري يا په کولمو يا وازګه چي يو ځـاى وي د هـډوکـي سره، دا مـوږ دوى تـه سـزا ورکـړې وه د دوى پـه شرارت او موږ رښتيا وايو .

﴿...إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالْدَّمَ وَلَحْمَ الْخَنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (115) [سورة النحل]

بېشـکـه حـرام کـړل سوي دي پر تاسي باندي د مړي غوښې او ينه او غـوښـې د خـنـزيـر ، او د الله جل جلالـه د نامه څخه ماسوا چې د بل چا پـه نـامـه سره ذبح سوي وي،بيا چي څوک د لوږي څخه بې اختياره سې نه

نافرماني کوي او نه زياتی کوي نو ستا ربّ لوی معاف کوونکی ډېر مهربان دئ .

قادر مطلق او مختيار کل صرف الله دئ

۞ ...لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ (272)

[سورة البقرة]

نه دی پر ذمه ستا پر لاري کول د دوی، ليکن الله جل جلاله پر لار کوي هغه څوک چي وغواړي، څه چي خرڅوئ تاسي مال، نو د خپل ځان دپاره تر څو پوري چي خرڅوئ يې د الله جل جلاله د رضا د حاصلولو دپاره، او څه چي خرڅوئ خيرات پس پوره به ورسيږي تاسي ته، او ستاسي څه حق به پاته نسي .

خلاصه دسوره البقرة آيت ۷۲ څخه بيا تر سوره القيامة آيت ۱۹ پوري دلائل او خلاصه ددې خبري دي چي مختار کل الله دی دا خبره په خوله کول او په زړه تصديق کول دي .

مولانا روميؒ څه ښه فرمايي:

بر زبان تسبیح در دل گاؤ وخر

این چنین تسبیح کی دارد اثر

☆

ترجمه: او مقصد د مولانا روميؒ دا دی چي غافل زړه په ذکر کولو سره د ذکر آثار او برکتونه کامل نه سي حاصلولي .

۞ ...فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ وَالأُمِّيِّينَ أَأَسْلَمْتُمْ فَإِنْ أَسْلَمُواْ فَقَدِ اهْتَدَواْ وَّإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلاَغُ وَاللّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ (20) [سورة آل عمران]

بيا هم كه ستاسي سره دعوه كوي نو ووايه چي ما تابع كړ خپل ځان د الله جل جلاله د حكم او هغوی هم چي زما سره دي، او ووايه كتاب والا وو ته، او نا ويونكو ته چي آيا تاسي هم تابع سواست، پس كه دوی تابع سوه نو دوی لاره نېكه پيدا كړه، او كه مخ يې وګرځاوه نو ستا پر ذمه يوازي رسول دي، او د الله جل جلاله په نظر كي دي بندګان .

۞ ...وَمَا جَعَلَهُ اللّهُ إِلاَّ بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِندِ اللّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ(126) [سورة آل عمران]

دا خو الله جل جلاله ستاسو زړه خوشحال كړ او د دې لپاره چي تسكين وسي ستاسي د زړونو په دې، او كومک يوازي د الله جل جلاله د طرف څخه دئ چي زبردست دئ حكمت والا دئ .

۞ ...لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذَّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ (128) [سورة آل عمران]

نسته ستا لپاره يو امر د هيڅ شي چي ته يې قبول د توبې وكړې او يا عذاب وركړې، بېشكه دوی چي دي ناحقي كوونكي دي پر خپلو ځانو باندي .

۞ ...هَلْ يَنظُرُونَ إِلاَّ تَأْوِيلَهُ يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُ يَقُولُ الَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَاءتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاء فَيَشْفَعُواْ لَنَا أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ

الَّـذِیْ کُـنَّا نَعْمَلُ قَدْ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ (53) [سورة الاعراف]

آيـا اوس د دې مـنـتـظـر دي چـي د دې مـضـمـو ن ظاهر سي، پـه کـو مـه ورځ چـي ظـاهـر سي د دې مـضمو ن ، و به وايي هغه خلک چي دی يې هېـر کـړی وو، د اول څخــه ، بېشــکـه راوړې وه زمـوږ د ربّ رسـول رښتيـنـې خبره، پس اوس زموږ څوک سفارشي سته؟ او يا موږ واپس کـړلـی سـو، نـو موږ به عـمل وکړو خلاف د هغه چي موږ کاوه، بېشکه تبـاه کـړل دوی خپـل ځـانونه او ورک به سي د دوی څخه هغه چي دوی جوړول .

۞ ...إِنَّ رَبَّكُمُ اللّـهُ الَّذِیْ خَـلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِیْ سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَـى الْعَرْشِ يُغْشِیْ اللَّيْـلَ الـنَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثاً وَالشَّمْـسَ وَالْقَمَرَ وَالـنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّهُ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ (54) [سورة الاعراف]

بېشــکـه ستـاسـو ربّ دئ چـا چي پيدا کړ آسمـان او مځکه په شپږو ورځـو کـي، بيـا يـې قـرار ونيـوه پـر عـرش باندي، پټوي په شپه باندي ورځ چـي دغـه په دې پسې پيوست راځي په منډه او پيدا يې کړی لمر او سپـوږمـی او ستـوري تابعدار د خپـل حکم، واورئ د ده کار دی پيدا کـول او حکم کول، لوی برکت والا دئ الله جل جلاله چي ربّ دئ د ټول جهـان .

۞ ...قُلْ لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِیْ نَفْعاً وَلاَ ضَرّاً إِلاَّ مَا شَاءَ اللّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَـكْثَـرْتُ مِـنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِـیَ السُّوءُ إِنْ أَنَاْ إِلاَّ نَـذِيْرٌ وَبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُوْنَ (188) [سورة الاعراف]

ته وو وايه چي زه مالک نه يم د خپل ځان، لپاره د نفعي او نه د نقصان، مګر کوم چي الله جل جلاله وغواړي او که زه پوهېدی د غيبو په خبره نو ډېري ګټي به مي حاصلي کړي وای، او ما ته به هيڅکله نقصان نه وای رسېدلی، زه خو يوازي بېره او خوشخبري اورونکی يم، ايماندارو خلکو ته.

۞ ...وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلا أَنفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ (197) [سورة الاعراف]

او څوک چي تاسو بولئ د هغه څخه ماسوا، هغه نسي کولی ستاسي مدذ او نه خپل ځان محفوظ کولی سي.

۞ ...مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (67) [سورة الانفال]

نبي لره نه دي په کار چي د ځان سره وساتي قيديان تر څو چي ښه خونرېزي ونکړي په ملک کي، تاسي غواړئ اسباب د دنيا او الله جل جلاله غواړي آخرت او الله جل جلاله زورور دئ حکمت والا دئ.

۞ ...لَّوْلاَ كِتَابٌ مِّنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (68) [سورة الانفال]

که نه وای يوه خبره چي ليکلې ده الله جل جلاله د مخکي څخه نو تاسي ته به رسېدلې وای په دې اخيستو کي عذاب لوی.

۞ ...إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ (7)مَا لَهُ مِن دَافِعٍ (8)

[سورة الطور]

بېشکه عذاب د رب ستا واقع کېدونکی دئ، نسته څوک د دې دفع کوونکی.

﴿...لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ (58) [سورة اليونس]

نستـه دغـه لره د الله جل جلالـه څخه ماسوا څوک ښکاره کوونکی .

﴿...لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ (16)إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ (17)فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ (18)ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ (19) [سورة القيامة]

مـه چلـوه بهـانـې ، مـه چلـوه په دې خپله ژبه سره چي تلوار وكړي، ددې پـه زده كـولـو باندي، پر موږ دئ د دې جمع كول ستا په سينه كي، او ويـل ستـا پـه ژبـه ، پس كله چي موږ دا ووايو د ملائيكي په ژبه، نو تـه يې ورسره وايه، بيا زموږ پر ذمه دئ د دې بيانول .



د انبياؤ بشريت

﴿...وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (23) [سورة البقرة]

كـه چيـري تـاسـي په شک كي ياست د دغـه كلام په باره كي چي موږ نـازل كـړی دی پـر خپـل بـنده بـانـدي ، نـو تـاسـي يو سورة د ده پـه شان راوړئ او د دې لپـاره راوبـولـئ خپل مرستيالان د الله څخه ماسوا ، كه تاسو رښتيني ياست .

خـلاصـه دسوره البـقـره آيت ۲۳ څـخـه بيـا تر سوره علق آيت ۱۰ پوري تـقـريبـاً ۲۵ آيـاتـه دي دا ټولـه آياتونه دنبی دبشريت دلائل دي چي پـه يوه آيت كـي صـريـح بشـريت لفظ ذكر سوی دی او پـه بل آيت كي ا خ لفظ ذكر دی .

مولانا رومي ؒ څه ښه فرمايي:

خود چه جائی جنگ و جدل نیک و بد
کین الم از صلحها هم میر مد

...... ☆ ......

ترجمه: د داسي خلکو د چا د جنګ او جګړو سره څه کار وي دوی ته خو دومره فرصت هم نه وي چي د خلکو اصلاح او دوستي پکښي وکړي.

۞ ...كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ (151) [سورة البقرة]

لکه څنګه چي رالېږلئ موږ په تاسي کي پېغمبر ستاسو څخه چي وايي پر تاسو باندي زموږ آيتونه او پاکوي تاسي او دربښيي تاسي ته کتاب او د هغه رازونه او دربښيي تاسي ته يې علم نسته.

۞ ...مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ اللّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَاداً لِّي مِن دُونِ اللّهِ وَلَـكِن كُونُواْ رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ (79) [سورة آل عمران]

د يو بشر کار نه دی، چي الله جل جلاله ده ته ورکړ کتاب او حکمت، او پېغمبري يې کړي، بيا هغه وايي خلکو ته چي تاسي بندګان سئ زما د الله جل جلاله څخه ماسوا ليکن داسي وايي چي تاسي الله والا سئ لکه څنګه چي تاسي زده کوئ کتاب او لکه څنګه چي تاسي به هغه په خپله واست.

۞ ...وَهَـذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ

يُحَافِظُونَ (92) [سورة الانعام]

او دا قرآن کتاب دی چې موږ نازل کړیدی برکت والا، تصدیق کوونکی د هغه چې تر ده مخکي دی او چې وبېروي مکې والا، او د دې شاوخوا ماحول والا او د چا چې یقین دی په آخرت هغوی په دې ایمان راوړي او هغوی دي د خپلو لمونځونو حفاظت کوونکي .

۞ ...أُبَلِّغُكُمْ رِسَالاَتِ رَبِّى وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ (62) [سورة الاعراف]

پیغام رسوم تاسي ته د خپل ربّ د طرف څخه، او نصیحت کوم تاسي ته، او پېژنم د الله جل جلاله د طرف څخه هغه خبري کومي چي تاسي نه پېژنئ .

۞ ...وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُوداً قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ أَفَلاَ تَتَّقُونَ (65) [سورة الاعراف]

او د عاد قوم طرف ته مو لېږلی وو د دوی ورور هود، و یې ویل اې زما قومه بندګي کوئ د الله جل جلاله، نسته څوک تاسي لره معبود د هغه څخه ماسوا، آیا تاسي نه بېرېږئ .

۞ ...أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَاذكُرُواْ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاء مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَسْطَةً فَاذْكُرُواْ آلاء اللّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (69) [سورة الاعراف]

آیا تاسي تعجب کوئ چي راغئ تاسي ته نصیحت ستاسي د ربّ د طرف څخه د یو سړي په ژبه چي تاسي څخه دی چي تاسي وبېروي او یاد کړئ کله چي یې تاسي سرداران کړاست، وروسته تر قوم د نوح علیه السلام او زیات یې کړئ ستاسي د بدن غټوالی، پس یاد کړئ د

الله جل جلاله احسان چي ستاسي لپاره بنه سي .

﴿...وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحاً قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ هَـذِهِ نَاقَةُ اللّهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللّهِ وَلاَ تَمَسُّوهَا بِسُوَءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ(73) [سورة الاعراف]

او ثموديانو ته مو لېږلی وو د دوی ورور صالح عليه السلام و يې ويل اې زما قومه! بندګي کوئ د الله جل جلاله، نسته تاسي لره معبود د هغه څخه ماسوا، تاسي ته راغلی دی دليل ستاسي د رب د طرف څخه دا، او بنه د الله جل جلاله ده، ستاسي لپاره نښانه پس دا پرېږدئ چي خوري د الله جل جلاله په مځکه کي، او دې ته لاس مه وروړئ په بدنيت بيا به تاسي ونيسئ عذاب دردناک .

﴿...وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْباً قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَوْفُواْ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاَحِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ(85) [سورة الاعراف]

او د مدين طرف ته مو لېږلي وو د دوی ورور شعيب و يې ويل اې زما قومه ! بندګي کوئ د الله جل جلاله، نسته څوک تاسي لره معبود د هغه څخه ماسوا، تاسي رسېدلی دی دليل، ستاسي د رب د طرف څخه، پس پوره کړئ ناپ او تول او مه کموئ خلکو ته د هغو د شيانو، او خرابي مه کوئ په مځکه کي، د دې تر اصلاح وروسته، دا بنه ده ستاسي لپار که تاسي ايماندار ياست .

﴿...وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُوداً قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ (50) [سورة الهود]

او عادیانو ته ولیږی موږ وروړ د دوی هود علیه السلام، و ییویل ای قومه، بندګي کوئ د الله څوک ستاسي حاکم نسته، ماسوا د هغه څخه، تاسي ټول دروغ وایاست.

۞ ...وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ الْقُرَى أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِي الأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَدَارُ الآخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ اتَّقَواْ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ (109) [سورة يوسف]

او څومره چې لیږلي دي موږ ستا څخه مخکي دغه ټول سړي وو، چي وحي لیږلي وه موږ دوی ته د کلو او سیدونکي وو، پس آیا دا خلګ نه دي تللي په ملک کي، لیدلی یې وای چي څنګه سو انجام د هغو خلګو، کوم چي تر دوی وړاندي وو، او د آخرت کور غوره دئ د پرهیز کوونکو لپاره، آیا اوس هم نه پوهیږئ.

۞ ...قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى قَالُواْ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ (10) [سورة ابراهيم]

وویل د دوی رسولانو، آیا په الله جل جلاله کي شک دئ، چا چي جوړ کړیدي آسمانونه او مځکه، هغه تاسو رابولي چي وبخښي تاسي ته ګناهونه ستاسو، او وروسته کړي تاسو تر یوې وعدې پوري، چي مقرره سوې ده، و یې ویل چي تاسو خو زموږ په شان بني آدم یاست، تاسي غواړئ چي منع کړئ موږ د هغو شیانو څخه د کومو چي عبادت کاوه زموږ پلار نیکه، پس راوړئ څه سند ښکاره.

۞ ...قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ عَلَى مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَمَا كَانَ لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (11) [سورة ابراهيم]

وويل دوی ته رسولانو د دوی، موږ خو دغه شان بني آدم يو لکه تاسي ليکن الله جل جلاله احسان کوي په خپلو بندګانو کي پر چا چي وغواړي او زموږ کار نه دی، چي راوړي تاسي ته سند مګر د الله جل جلاله په حکم او پر الله جل جلاله باندي تکيه پکار ده ايماندارانو لره.

۞ ...وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (43) [سورة النحل]

او ستا څخه مخکي هم موږ دغه سړی لېږلی وو چي حکم لېږی موږ دوی ته، پس پوښتنه وکړئ دياد ساتونکو څخه که تاسي ته معلومه نه وي.

۞ ...سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (1) [سورة بنی اسرائيل]

پاک دی هغه ذات چي بو يې تلی بنده خپل د شپې د مسجد حرام څخه مسجد اقصیٰ ته، کوم چي ګير کړيدی زموږ برکت وښنوده ده ته ته د خپل قدرت ځيني نمونې، هغه دی اوريدونکی ليدونکی.

۞ ...ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا (3) [سورة بنی اسرائيل]

اولاد ياست د هغو خلکو کوم چي سپاره کړل موږ د نوح عليه

السلام سره، ببشکه هغه وو بنده حق منونکی .

﴿...أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَى فِي السَّمَاءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَاباً نَّقْرَؤُهُ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَراً رَّسُولاً (93) [سورة بني اسرائيل]

ستا لپاره یو کور د سرو زرو یاو خیژې ته آسمان ته، او موږ نه منو ستا ختل تر څو چي نازل نکړې پر موږ یو کتاب چي موږ یې ووایو، ته ووایه پاک دی رب زما، زه نه یم مګر یو سړی یم رالیږل سوی .

﴿...وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَن يُؤْمِنُواْ إِذْ جَاءهُمُ الْهُدَى إِلَّا أَن قَالُواْ أَبَعَثَ اللّهُ بَشَراً رَّسُولاً (94) [سورة بني اسرائيل]

او خلک نه دي منع کړي د ایمان راوړلو څخه کله چي ورسیدی دوی ته هدایت مګر دې خبري چي وایي آیا الله جل جلاله راولیږئ سړی پیغمبر .

﴿...الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجَا (1) [سورة الكهف]

ټول صفتونه الله جل جلاله لره دي، چا چي نازل کړ پر بنده خپل باندي کتاب او نه یې دی جوړ کړی په دې کي څه کوږوالی، صحیح یې نازل کړ .

﴿...فَوَجَدَا عَبْداً مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْماً (65) [سورة الكهف]

بیا یې پیدا کړ یو بنده زموږ د بندګانو څخه کوم ته چي ورکړی وو موږ رحمت د خپل طرف څخه او ښوولی وو ورته موږ د خپل طرف څخه یو علم .

۞...ذِكْرُ رَحْمَةِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا (2) [سورة مريم]

دا ذکر دئ ستا د ربّ د رحمت پر خپل بنده زکریا علیه السلام باندي .

۞...إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ (124) [سورة الشعراء]

کله چي وویل دوی ته ورور ددوی هود علیه السلام آیا تاسي نه ببرېږئ ؟ زه تاسي ته پیغام راوړونکی امانتدار یم .

۞...إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ (142) [سورة الشعراء]

کله چي وویل دوی ته ورور ددوی صالح علیه السلام آیا تاسي نه ببرېږئ ؟ زه تاسي ته پیغام راوړونکی امانتدار یم .

۞...مَا أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِآيَةٍ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (154) [سورة الشعراء]

ته نه يې ، مګر ته هم یو سړی يې زموږ په شان ، پس راوړه یوه نښانه که ته رښتینی يې .

۞...إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ (161) [سورة الشعراء]

کله چي وویل دوی ته ددوی ورور لوط علیه السلام آیا تاسي نه ببرېږئ ؟ زه تاسي ته پیغام راوړونکی امانتدار یم .

۞...وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْباً فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْآخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (36)
[سورة العنكبوت]

او ولېږئ موږ و مدین ته د دوی ورور شعیب علیه پس ده وویل اې قومه ! بندګي کوئ د الله جل جلاله او امید ساتئ د ورځي د آخرت او مه ګرځئ په مځکه کي فساد غوړونکي .

۞ ...وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَراً زَوَّجْنَاكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَراً وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولاً (37)

[سورة الاحزاب]

او كله چي تا وويل هغه سړي ته پر كوم چي الله جل جلاله احسان وكړ، پاتــه كړه د خپل ځان سره خپله بي بي او بېره وكړه د الله جل جلاله څخه او تا پټوى په خپل زړه كي يو شى د كوم چي الله جل جلاله ښكاره كول غواړي، او بېرېدې د خلكو څخه او د الله جل جلاله زياته ښكار ده بېره تا لره بيا، بيا كله چي زيد تمام كړ د هغه ښځي سره خپل غرض موږ هغه ستاپه نكاح كي دركړه چي پاته نه سي پر مسلمانانو گناه په نكاح كولو كي د خپل متبني د ښځو سره، كله چي هغوى پوره كړي د هغوى سره خپل غرض او . . . . د الله جل جلاله حكم پوره كړل سي .

۞ ...قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَىَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ (6)

[سورة حم سجده]

ته ووايه زه هم بنده يم ستاسي په شان، حكم راځي ما ته چي پر تاسي بندگي ديوه حاكم ده، پس برابر او سېږئ د هغه طرف ته، او د هغه څخه بخښنه غواړئ، او خرابي ده مشركانو لره كوم چي نه وركوي زكوة، او هغوى د آخرت څخه منكر دي .

۞ ...عَبْداً إِذَا صَلَّى (10) [سورة العلق]

یو بنده کله چې هغه لمونځ کوي .



په شرک کې د مور او پلار حکم مه منئ

﴿...وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْناً وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (8)) [سورة العنكبوت]

او موږ تاکید کړیدی انسان ته د خپل مور و پلار سره د ښه کولو، او که هغوی پر تا زور راولي چې ته شرک وکړه زما سره ذکوم چې تا ته خبر نسته نو د وی خبره مه منه، ما ته ستاسي واپسي ده، خبر به کړم تاسي په هغه چې تاسي کول، او کوم خلک چې ایمان راوړي، او نیک عملونه کوي موږ به داخل کړو دوی په نیکو خلکو کې .

خلاصه دسوره العنکبوت آیت ۸ څخه بیا تر سوره لقمان آیت ۱۵ پوري خلاصه داده چې دمور او پلار حکم منل هر ځای لازم دی قول دشرک څخه یعني په شرک به ئې قول نه منې .

یو ښایسته نظم:

وَإِذَا حَلَّت الحَلَاوَةُ قَلْباً

نَشَطَتْ فِي العِبَادَةِ الأَعْضَاءِ



ترجمه: کله چې په زړه کې خوږوالی د ایمان ځای ونیسي نو د ده لاس او پښې او ټول اندامونه به په عبادت کې راحت او مزه محسوسوي .

﴿...وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا

وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفاً وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (15) [سورة لقمان]

او كه دغه دواړه ټينګ سي تا ته په دې خبره چي شريک ومنه زما هغه شى چي تا ته معلوم نه دى نو د دوى دا مه منه او ملګرتيا كوه د دوى په دنيا كي د دستور موافق او تابعداري كوه د لاري د هغه چا چي رجوع كړې ما ته بيا ماته ده ستاسو واپسي، پس زه به خبر كړم تاسي په هغه څه چي تاسو كول .



د الله ماسوا يو كار جوړوونكى، مشكل كشا او حاجت روا نسته

...قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ (64) [سورة آل عمران]

ته ووايه چي اهل كتابو راسئ د يوې خبري طرف ته چي برابره ده په مينځ كي زموږ او ستاسي چي بندګي به نه كوو مګر د الله جل جلاله، او شريک به نه جوړوو د هغه هيڅوک، او نه به جوړوي يو څوک بل څوک رب، ماسوا د الله جل جلاله څخه، بيا كه دوى قبوله نه كړي دا خبره نو ووايه چي شاهدان سئ چي موږ د حكم تابعدار يو .

خلاصه دسوره آل عمران آيت ۸۴ څخه بيا تر سوره المزمل پوري تقريباً اوه آياته دلائل او خلاصه ددې خبري ده چي دالله څخه سوا بل

څوک نه حاجت روا دی او نه مشکل کشا دی .

﴿...وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (51) [سورة الانعام]

او وبېروه په دې قرآن کریم سره هغه خلګ کوم چې بېربېږي ددې څخه چې دوی به جمع سي د خپل ربّ په مخکې داسې چې نه به وي دوی لره د الله جل جلاله څخه ماسوا نه څوک حمایتي او نه سفارش کوونکی، ددې لپاره چې دوی ځان وساتي د ګناه څخه .

﴿...لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِّن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللّهِ إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللّهُ بِقَوْمٍ سُوءاً فَلاَ مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ (11) [سورة الرعد]

د بنده څخه مخکې او شا څخه د ده حفاظت کوي د الله جل جلاله په حکم سره، الله جل جلاله نه بدلوي دیو قوم حالت تر څو چې دوی بدل نکړي هغه چې په نفسونو د دوی کې دي، او کله چې الله جل جلاله اراده وکړي پر قوم د آفت بیا نه ورڅخه دفع کیږي، او نسته دوی ته د هغه څخه ماسوا مددګار .

﴿... لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيْءٍ إِلاَّ كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَمَا دُعَاء الْكَافِرِينَ إِلاَّ فِي ضَلاَلٍ (14)

[سورة الرعد]

د هغه بلنه رښتیا ده او کوم خلګ چې بولي د الله جل جلاله ماسوا هغه په کار نه ورځي دوی ته هیڅ هم، مګر داسې لکه چې اوږد کړي وي چا لاسونه خپل او بوته چې ورسیږي د ده خولې ته او دغه

هيڅکله نه رسيږي ده ته، او څو مره بلنې چې کوي کافران ټول له ګمراهان دي يعني په ګمراهي کي دي.

۞ ...(س (قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ قُلِ اللّهُ قُلْ أَفَاتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِ أَوْلِيَاء لاَ يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعاً وَلاَ ضَرّاً قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ أَمْ جَعَلُواْ لِلّهِ شُرَكَاء خَلَقُواْ كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ قُلِ اللّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ(16)

[سورة الرعد]

پوښتنه وکړه چې څوک دئ ربّ د آسمانونو او د مځکي، ووايه چې الله جل جلاله، ووايه چې بيا تاسي نيولی دی د هغه څخه ماسوا داسي مددګار چې مالکان نه دي د خپلو ځانو، لپاره د نفعي او نقصان، ووايه آيا برابر دي ړوند او ليدونکی يا آيا برابره ده تياره او رڼا، آيا جوړ کړيدي دوی د الله جل جلاله لپاره شريکان چې هغوی څه پيدا کړيدي لکه چې پيدا کړيدي الله جل جلاله، پس مشتبه سو پيدايش ددوی په نظر کي، ووايه الله جل جلاله پيدا کوونکی د هر شي دئ او هغه دئ زبردست.

مولانا جامي ؒ څه ښه فرمايي:

همه اندر زمن ترا زين است
که تو طفلی و خانه رنگين است

ترجمه: د دنيا دا ټول هر څه ستا دپاره ځکه دي چې ته کوچنی يې او د دنيا کور رنګين دی. او دا مضمون حضرت مجذوب ؒ داسي بيان کړی دئ:

کچھ بھی مجنون جو بصیرت تجھے حاصل ہوجائے

تو نے لیلیٰ جیسی سمجھا ہے وہ --- ہوجائے

ترجمه: مجنون که یو څه لږ ډېر بصیرت تا ته حاصل شي نو کوم شی چې ته نن لیلیٰ ګڼې دا به سبا د لړګو بوډۍ وي .

بھول کر بیٹھا ہے یورپ آسمانی باپ کو

بس خدا سمجھا ہے اس نے برق کو اور بھاپ کو

......☆......

ترجمه: یعني اروپا والا وو آسماني طاقت هېر کړی دی، بس برق او برېښنا او بخار یې طاقت ګڼلی دئ . (معارف القرآن ج۲/ ص ۱۵۵)

۞ ...وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (9) [سورة الشوریٰ]

بېشکه ربّ ستا چې دئ غالب دئ او مهربانه دئ .

۞ ...قَالَ فَأْتِ بِهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (31) [سورة الشوری]

وویل ته راتګ وکړه په دې قرآن سره که چیرې ته یې له رښتینو څخه .

۞ ...رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا (9) [سورة المزمل]

او ربّ مالک د مشرق او د مغرب دئ نشته لایق د عبادت د هغه ماسوا، پس ونیسه هغه کارساز .

.۞۞۞.

د الله سره شریک نیول

۞ ...اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَاباً مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ

وَمَا أُمِرُواْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ إِلَـهاً وَاحِداً لَّا إِلَـهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (31) [سورة التوبة]

ونيولي دي دوى خپل عالمان او پيران آلهه د الله جل جلاله څخه ماسواء، او مسيح عليه السلام د مريم زوى هم او دوى ته حكم دا سوى دى چي بندګي كوئ د يو معبود، نسته لائق د بندګي د هغه څخه ماسوا، هغه پاک دى د دوى د شريک جوړولو څخه .

خلاصه دسوره التوبه آيت ۳۱ څخه بيا تر سوره حم السجده آيت ۴۸ پوري خلاصه داده چي دالله شريک نيول جرم عظيم دى او غټه ګمراهي ده .

مولانا رومیؒ څه ښه فرمايي:

هر کجا پستی است آب آنجا رود
هر کجا مشکل جواب آنجا رود

..... ☆ .....

ترجمه: كوم ځاى چي كښته وي او به هغه طرف ته ځي، او كوم ځاى چي مشكل وي حل كول او جواب كول د هغه ځاى كول كيږي .

۞ ...وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُواْ شُرَكَاءهُمْ قَالُواْ رَبَّنَا هَـؤُلاء شُرَكَآؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوْ مِن دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ (86) [سورة النحل]

او لكه چي وويني مشركان خپل شريكان و به وايي اې ربه دا زموږ شريكان دي كوم چي موږ بلل ستا څخه ماسوا، پس و به غورځوي دوى ته خبره چي تاسو دروغجن ياست .

۞ ...قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ مَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَداً (26) [سورة الكهف]

تـه و وايـه چي الله جل جلاله ته ښه علم دئ چي څه موده پر دوی تېره سوه د هغه سره دي پټ رازونه د آسمانونو او د مځکي، څه عجيبه وينې او اوري، نسته بندګانو لره ماسوا د ده څخه څوک مختار او نه شريکوي په خپل حکم کي هيڅوک .

۞ ...يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَاباً وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئاً لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ (73) [سورة الحج]

اې خلکو ! يو مثال بيانيږي پس دې ته غوږ کښېږدئ د کومو چي تاسو عبادت کوئ د الله جل جلاله څخه ماسوا، هيڅکله نه سي جوړولی يو مچ، که څه هم چي ټول جمع سي او که چيري و تښتوي د دوی څخه مچ يو شی نو نه يې سي ورڅخه خلاصولی، بې کاره دی عبادت کوونکی او بې کاره دی معبود، د الله جل جلاله قدر دوی و نه پېژندی څنګه چي د هغه قدر دئ، بېشکه الله جل جلاله زورور دئ زبردست .

مولانا روميؒ څه ښه فرمايي:

☆ ......هر خيال شهوتی در راه دين بتی است

يعني د خواهشاتو هر يو خيال په لاره د دين کي بُت دئ .

۞ ...اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَلِكُم مِّن شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ (40) [سورة الروم]

الله جل جلاله هغه ذات دی چي تاسو يې پيدا کړاست بيا يې رزق درکړ بيا به تاسي مړه کوي بيا به تاسي ژوندي کړي، آيا څوک ستاسو

ستـاسـو پـه شـريـكـانـو كـي چـي وكړي ددې كارونو څخه يو كار؛ هغه پاك دئ او ډېر لوى دئ د هغو څخه چي تاسي يې ورسره شريكوئ .

۞ ...هَـٰذَا خَـلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ بَلِ الظَّالِمُونَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ (11) [سورة لقمان]

دا هُـر څـه پيـدا كـړي دي الله جـل جـلالـه، پس وښياست ما ته چي څه پيـدا كـړي دي نـورو چـي مـاسـوا د هـغـه څـخـه دي، داسي نـه ده بلكي ظالمان په ښكاره ګمراهي كي دي .

۞ ...ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ (30) [سورة لقمان]

د دې لپـاره وويـل چـي هـم هـغـه الله جل جلالـه دئ حق او څوك چي دوى بولي د هغه څخه ماسوا نو هغه دي درواغ او الله جل جلاله هغه دئ د ټولو څخه پورته او لوى دئ .

۞ ...قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ (22) [سورة السبأ]

تـه وورايـه را وبـولـئ هـغـه چـي ګمان پر كوئ ماسوا د الله جل جلالـه څـخـه، هـغـه مالكان نه دي په قدر د يوې ذرې پـه آسمانونو كي او نه په مـځـكـه كـي او نـه دوى تـه پـه دې دواړو كـي څـه شركت شته، او نه په دوى كي د هغه څوك مددګار شته .

۞ ...وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ (45) [سورة الزمر]

او کلـه چـي يـاد سـي خـالـص الله جـل جـلالـه نو فـه سي زړو نه د هغه کسـانـو چـي ايمان نه راوړي په آخرت او کله چي نوم واخيستل سي د هغه چي ماسوا د هغـه
څخه دي نو دوی خوشحالي کوونکي سي .

﴿ ...ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ (12)[سورة غافر]

دا هـمېشـه عـذاب پـر تاسي په دې وجه دئ چي کله به باله چا الله جل جلالـه يـوازي نـو تـاسي به انکار کاوه او کله چي بلل کېدل د هغه سره شريکان نو تاسو يقين کاوه، اوس حکم هغه دی کوم چي کوي الله جل جلاله د ټولو څخه لوی لوړ دئ .

﴿ ...وَاللَّهُ يَقْضِي بِالْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَقْضُونَ بِشَيْءٍ إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (20) [سورة غافر]

او الله جـل جـلالـه فيصله کوي په انصاف سره او کوم چي دوی بولي مـاسـوا د هـغـه څـخـه فيـصـلـه نه سي کولی د هيڅ شي، بېشـکه الله جل جلاله هغه دئ اورېدونکی او ليدونکی .

﴿ ...ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ (73) [سورة غافر]

بيـا بـه وويـل سي دوی تـه څـه سـول هـغـه کوم چي تاسو شريکان جوړول .

﴿ ...مِن دُونِ اللَّهِ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُو مِن قَبْلُ شَيْئًا كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ (74) [سورة غافر]

مـاسـوا د الله جـل جـلالـه څـخه و به وايي هغه زموږ څخه ورک سول

بلکي نه وو موږ چي بلل مو يو شی د مخکي څخه، دا رنګه بې لاري کوي الله جل جلاله کافران .

﴿...إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَاتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَى وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ (47) [سورة حم سجده]

هغه ته حواله دی خبر د قيامت او نه راوزي څخه ميوې د خپل غلاف څخه او نه پاته کيږي حمل د يوې ښځي او نه هغه زېږوي مګر د هغه په علم سره، او په کومه ورځ چي دوی ته آواز وسي چيري دي زما شريکان وبه وايی چي موږ خو تا ته وويل په موږ کي هيڅوک د دې اقرار نه کوي .

﴿...وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ مِن قَبْلُ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ (48) [سورة حم سجده]

او ورک سول ددوی څخه کوم چي يې بلل د مخکي څخه او پوه سول چي دوی ته هيڅکله نسته خلاصوالی .

د مومن لپاره آخرت او د کافر لپاره دنيا

﴿...وَلَوْلَا أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ (33) [سورة الزخرف]

او که دا خبره نه وای چي ټول خلک به سي پر يو دين باندي نو موږ به ورکړی وای هغو خلکو ته چي منکران دي د رحمٰن څخه، د هغوی د کورونو لپاره چتونه د سپينو زرو او ځينې چي پر هغه خيژي .

خلاصه دسوره التوبه آيت ۳۱ څخه بيا تر سوره الزخرف آيت ۳۵ پوري

خلاصه داده چي ددنيا زينت او نعمتونه دکفارو لپاره دي او دآخرت زينت او نعمتونه دمسلمان لپاره دي .

مولانا روميؒ څه ښه فرمايي:

هر کجا پستي است آب آنجا رود

هر کجا مشکل جواب آنجا رود

...... ☆ ......

ترجمه: کوم ځای چي کښته وي او به هغه طرف ته ځي، او کوم ځای چي مشکل وي حل کول او جواب کول د هغه ځای کول کيږي .

۞ ...وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَاباً وَسُرُراً عَلَيْهَا يَتَّكِؤُونَ (34) [سورة الزخرف]

او د هغوی د کورونو لپاره دروازې او تختونه چي تکيه وهلې وي پر ناست وي .

۞ ...وَزُخْرُفاً وَإِن كُلُّ ذَلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ (35) [سورة الزخرف]

او د سرو زرو او دا ټول نه دي مګر سامان د دنيا د ژوند دئ او آخرت ستا د ربّ په نزد د هغو لپاره دئ چي ببرېږي .

.۞۞۞.

شيطان د خپلو دوستانو طرف ته وحي کوي

۞ ...أَوَمَن كَانَ مَيْتاً فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُوراً يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا كَذَلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ (122) [سورة الانعام]

آيا هغه څوک کوم چي مړ وو بيا موږ دی ژوندی کړ او موږ ده ته

ورکړه ربنا چې ګرځي په دې سره په خلکو کې برابرېدی سي هغه سره چې حال یې داوي چې پروت وو دی په تیارو کې، د هغه څخه نسي وتلی، دغه ډول ښایسته سوي دي د کافرانو په نظر کي د دوی کارونه .

خلاصه داده چې الله دکافر او مسلمان برابر والی نفي کړی دی یعني کم چاته چې الله هدایت کړی دی هغه دهغه چا سره برابر نه دی چې هغه کفر غوره کړی دی .



الله(ج) او فرشتې پر مومنانو باندي هم درود لیږي

﴿... هُوَ الَّذِیْ یُصَلِّیْ عَلَیْکُمْ وَمَلَائِکَتُهُ لِیُخْرِجَکُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَی النُّورِ وَکَانَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَحِیْماً(43) [سورة الاحزاب]

هغه دئ چې رحمت لیږي پر تاسي او د هغه ملائیکي چې راباسي تاسي د تیارو څخه رڼا ته او دئ پر ایماندارو باندي ډېر مهربان .

خلاصه داده چې په دغه آیت کریمه کي مسلمانانو ته زېری دی په دې خبره چې دالله رحمت په دوی باندي دی او فرشتې درحمت دعاوي ورته کوي تفسیر عثمانی .



هر قسم اختياريوازي

الله(ج) لره خاص دئ



فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُواْ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُواْ مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ سَبِيلاً (88) [سورة النساء]

نـن تـاسي ته څه وسوه چې د منافقانو په باره کې دوې ډلې کېږئ او الله جل جلالـه دوی چپـه کـړيدي پـه سبب د دوی د عملونو، آيا تاسي غـواړئ چې پـر لار کـړي هغه چې ګمراه يې کړي الله جل جلاله، او څوک چې ګمراه کړي الله جل جلاله، هيڅکله به پيدا نه کړي ده لره کومه لار.

خلاصه دسوره النساء آيت ۸۸ څخه بيا تر سوره الاعلىٰ آيت ۷ پوري تقريباً اته ويشت نه ويشت يا دېرش ځايه الله فرمايي چې مختار کل او بادشاه کل يو الله دی دټولو آياتو دغه خلاصه ده تفسير عثماني.

۞ ...لَّقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَآلُواْ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ اللَّهِ شَيْئاً إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ وَمَن فِي الأَرْضِ جَمِيعاً وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ(17) [سورة المائده]

بېشکـه کـافـر سو چا چې وويل چې الله جل جلالـه خو مسيح دئ، زوی د مريمي تـه وو ايـه نو د چا واک چلېدی سي د الله په وړاندي، که هغـه وغـواړي چې هـلاک کـړي مسيح د مريمي زوی او د ده مور، او ټـو مـره خـلک چې پـه مـځـکه کي دي ټول، او د الله جل جلالـه لپاره دی

حـکـومـت دآسـمـانونو او د مځکو، او څه چي په مینځ د دې دواړو کي دي، پیدا کوي څه چي غواړي، او الله جل جلاله پر هر شي قادر دئ.

مولانا رومیؒ څه ښه فرمایي:

رشته در گردنم افکنده دوست

می برد هر جا که خاطر خواه اوست

...... ☆ ......

۞ ...وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ(18) [سورة المائده]

او وایـي یهـودیـان او نـصـاریٰ چي مـوږ زامـن یـو د الله جـل جلالـه (الـعـیـاذ بالله؛ او د هغه دوستان یو، ته ووایه بیا ولي په عذابوي تاسي پـر ګـناهونو ستاسي، هیڅ شک نسته بلکه تاسي هم انسانان یاست د هـغه په مخلوق کي، بخښنه کوي چا ته چي وغواړي او عذاب ورکوي چا ته چي وغواړي، او د الله جل جلاله لپاره دئ حکومت د آسمانونو،

۞...

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (40)[سورة المائده]

آیـا تـا تـه مـعـلـومـه نـه ده چي د الله جل جلالـه لپاره دئ حکومت د آسـمـانـونـو او د مـځـکـي، عـذاب ورکوي هغـه چا لره چي وغواړي او بخښي هغه څوک چي وغواړي، او الله جل جلاله پر هر څه باندي قادر دئ.

۞...

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لاَ يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُواْ آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ وَمِنَ الَّذِينَ هِادُواْ سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِن بَعْدِ مَوَاضِعِهِ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَـذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُواْ وَمَن يُرِدِ اللّهُ فِتْنَتَهُ فَلَن تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللّهِ شَيْئاً أُوْلَـئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ(41) [سورة المائده]

اې رسوله! غم مه کوه د هغوی چې په ځغاسته لوېږي په کفر کې، هغه خلک چې وايي موږ مسلمانان يو په خپلو خولو سره او زړونو يې مسلمانان نه دي او هغه چې يهوديان دي جاسوسي کوي د درواغو ويلو دپاره دوی جاسوسان دي د بلې ټولۍ چې تا ته نه دي راغلي، بدلوي خبري د خپل ځای څخه، وايي که چيري تاسو ته دا حکم ورسيدی نو قبول يې کړئ، او که دا حکم و نه رسيدی نو ځان ورڅخه وساتئ، او د چا چې الله جل جلاله ګمراه کول وغوښتل نو ته (اې رسوله) د هغه لپاره هيڅ نه سې کوی، د الله جل جلاله په نزد دا هغه خلک دي چې الله جل جلاله نه دي غوښتي چې د دوی زړونه پاک کړي، دوی ته په دنيا کي ذلت دئ او دوی ته په آخرت کي لوی عذاب دئ .



قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرّاً وَلاَ نَفْعاً وَاللّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ(76)[سورة المائده]

ته ووايه چې آيا تاسي عبادت کوئ د داسي شي د الله جل جلاله څخه ماسوا، کوم چې مالک نه دئ ستاسي د بد او نه د ښو، او الله جل جلاله

دئ او ر پدونى پو هېدونکى .

۞ ...وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَـٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ (116)[سورة المائده]

او هغـه وخت چي ووايى الله جل جلالـه اې عيسىٰ عليـه السلام د مـريـم زويـه! آيا تـا ويلي وو خلـكو ته چي ونيسئ ما او زما مور دوه معبودان ماسوا د الله جل جلاله څخه، و به وايى چي پاک يې ته په څه لايق دئ ما لره چي ووايم داسي خبره چي ما لره د هغه حق نستـه، كه ما داسي ويلي وي نو تا ته به خامخا معلومه وه، ته پوهېږې په هغه چي زما پـه زړه كـي دي، او زه نـه پـوهېږم پـه هغه چي ستا په زړه كي دي، بېشكه ته پوهېږې په پټو خبرو .

۞ ...

قُلْ إِنِّي عَلَى بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ (57) [سورة الانعام]

تـه ووايـه مـا تـه دليـل راغـلى دئ د ربّ زما څخه او تاسي درواغجن كـړئ، نستـه زمـا سره هـغـه شي چي تاسي يې تلوار كوئ، نه دئ حكم مـګـر د الله جـل جـلالـه سره دئ، بيانوي حقه خبره، او هغه تر ټولو ښه فيصله كوونكى دئ، ته ووايه كه واى زما سره هغه شي چي تاسي يې تـلـوار كـوئ نو ختمه سوې به واى جګړه په مينځ زما او ستاسي كي، او الله جل جلاله په پېژني ظالمان .

۞...
قُل لَّوْ أَنَّ عِندِی مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِیَ الأَمْرُ بَيْنِی وَبَيْنَكُمْ وَاللّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ (58) [سورة الانعام]

ته و وایه که وای زما سره هغه شی چي تاسي يې تلوار کوئ نو ختمه سوې به وای جګړه په مینځ زما او ستاسي کي او الله جل جلاله ښه پېژني ظالمان.

۞...
وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُواْ بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ(110)[سورة الانعام]

او موږ چپه کوو ددوی زړونه او د دوی سترګي لکه چي ایمان نه راوړي په نخښنو باندي، اول وار، او موږ پرېښي دي دوی د دوی په سر کي سرګردانه.

۞...
اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللّهُ لَهُمْ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (80)[سورة التوبه]

که ته د دوی لپاره بخښنه وغواړې یا که یې و نه غواړې که ته د دوی لپاره اویا واري بخښنه وغواړې نو هم به هیڅکله و نه بخښي الله جل جلاله دوی، دا په دې وجه چي دوی منکره سول د الله جل جلاله او د رسول د هغه څخه، او الله جل جلاله لار نه ښيي نافرمانو خلکو ته.

۞...وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لاَ يَرْجُونَ لِقَاءنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَاء نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ

إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّيْ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (15)[سورة اليونس]

او کله چي ویل کیږي پر دوی باندي آیتونه زموږ واضح وایی هغه خلګ د کومو چي امید نسته زموږ سره د ملاقات، راوړه یو قرآن د دې څخه ماسوا، یا یې بدل کړه، ته ووایه چي زما کار نه دئ چي دا بدل کړم د خپل طرف څخه، زه تابعداري کوم د هغه چي کوم حکم راسي ما ته، زه بېرېږم که نافرماني وکړم د خپل ربّ د عذاب د ورځي لویی څخه .

...

قُل لَّوْ شَاء اللّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلاَ أَدْرَاكُم بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُراً مِّن قَبْلِهِ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ (16) [سورة اليونس]

ته ووایه که الله جل جلاله غوښتلی نو ما به نه وای ویلي دا تاسي ته، او نه به مو خبر کړي وای تاسي په دې، ځکه چي زه پاته سوی یم په تاسو کي یو عمر د دې څخه مخکي، آیا بیا تاسي نه پوهېږئ .

...

قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرّاً وَلاَ نَفْعاً إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ إِذَا جَاء أَجَلُهُمْ فَلاَ يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلاَ يَسْتَقْدِمُونَ (49)[سورة اليونس]

ته ووایه زه مالک نه یم د ځان لپاره د ضرر او نه د نفعي مګر کوم چي وغواړي الله جل جلاله، د هري فرقې یوه وعده ده، کله چي راسي د دوی وعده بیا به نه وروسته کیږي یو ساعت او مخکي کیږي .

...

وَلَوْ شَاء رَبُّكَ لآمَنَ مَن فِي الأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعاً أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ (99) [سورة اليونس]

او که ستا ربّ غوښتل نو بېشکه ایمان به راوړی وای ټول مره خلک
چې په مځکه کي دي، ټولو په جمعه، آیا ته به مجبوره کوې خلک چې
سي دوی مومنان، او د ځا شخه داسي نه سي کېدی چې ایمان راوړي
مګر د الله جل جلاله په حکم سره، او هغه غورځوي ګندګي په هغو
باندي کوم چې سوچ نه کوي .

...

قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم بِهِ اللّهُ إِن شَاء وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ (33)[سورة الهود]

ویل چې را به ولي دغه الله جل جلاله که وغواړي او تاسي یې نسی
سترۍ کولی په تښتېدو سره .

...

قَالَ سَآوِي إِلَى جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاء قَالَ لاَ عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللّهِ إِلاَّ
مَن رَّحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ (43)[سورة الهود]

ویې ویل و به خېژم یو غره ته چې خلاص به کړي ما د اوبو څخه، و
یې ویل نسته څوک خلاصوونکی نن د الله جل جلاله د حکم څخه
،مګر پر چاچي هغه رحم وکړي او مائله سوه د دواړو په مینځ کي څپه
، بیا سوو د ډوبېدونکي څخه .

...

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجاً وَذُرِّيَّةً وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن
يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ (38)[سورة الرعد]

په تحقیق سره او مسخرې سویدي په ټول مره رسولانو پوري ستا
څخه مخکي پس مهلت ورکړ موږ منکرانو ته بیا مو هغوی ونیول

پس څنګه وو زما عذاب .

۞ ...

رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلاً (54)[سورة بنی اسرائیل]

ربّ ستاسو ښه پوه دئ په تاسې که وغواړي پر تاسو به رحم وکړي او که وغواړي تاسو ته به عذاب درکړي، او ته نه یې لیږلی موږ پر دوی باندي ذمه واره .

۞ ...

قُلِ ادْعُواْ الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلاَ يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلاَ تَحْوِيلاً (56)[سورة بنی اسرائیل]

ووایه ! راوبولئ کوم چي تاسي ګڼئ د هغه څخه ماسوا، دوی اختیار نلري چي لیري کړي تکلیف او نه یې بدلولی سي .

۞ ...

وَإِن كَادُواْ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذاً لاَّتَّخَذُوكَ خَلِيلاً(73)[سورة بنی اسرائیل]

او دغه خلک خو غواړي چي واړوي تا د هغه څه څخه چي وحي رالیږي تا ته جوړ کړي پر موږ بغیر د هغه څخه او دغه وخت به جوړ کړي تا دوست .

۞ ...

وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئاً قَلِيلاً (74)[سورة بنی اسرائیل]

بیا به خامخا موږ څکو و تا ته دو چند عذاب په ژوند کي او دو چنده

پــه مــرګ کــې، بیــا بــه نــه وای پیــدا کــړی تــا د ځــان لپــاره پــر مــوږ مددکوونکی .

۞...

قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّى وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْباً وَلَمْ أَكُن بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيّاً (4)[سورة المريم]

ده وویـل اې زمـا ربـه! سُسـت سـول زمـا هډوکي او شـعله بـکاره سو زمـا سـر د زوړوالـي څـخه، او ستا څخه په سوال کول اې زما ربه! هیڅکله نه یم محروم سوی .

۞...

إِن كُلُّ مَن فِى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِى الرَّحْمَنِ عَبْداً (93) [سورة المريم]

ټـوک نسـتـه پـه آسـمـانـو او مـځـکـه کي مګر راځي رحمٰن لره بنده جوړ سوی .

۞...

فَأَمَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحاً فَعَسَى أَن يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ (67) [سورة القصص]

چـا چي تـوبـه وکـښـلـه او ایـمـان يې راوړی او نيک عـمـل يې وکړ نو امید دی چي سي به د کامیابو څخه .

۞...

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَداً إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاءٍ أَفَلَا تَسْمَعُونَ (71) [سورة القصص]

تـه ووایه ! وګوري کـه الله جل جلالـه کښېږدي پر تاسو باندي شپـه د

همېشه دپاره تر ورځې د قيامته پورې، څوک دئ حاکم د الله څخه ماسوا چې راوړي تاسو ته څه رڼا، آيا پس تاسو نه اورئ .

۞ ...

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَداً إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلَا تُبْصِرُونَ (72) [سورة القصص]

ته ووايه! وګورئ که کښېږدئ الله جل جلاله پر تاسو ورځ د همېشه لپاره تر ورځې د قيامت پورې څوک دئ حاکم بغير د الله جل جلاله څخه چې راوړي تاسو ته شپه، چې تاسو پکښې آرام وکړئ، آيا تاسو نه وينئ .

● ...

قَالُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِّن رَّبِّهِ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ (50) [سورة العنكبوت]

او وايي ولې نه نازلېږي پر ده باندې څه نښانې د ده د ربّ څخه، ته ووايه نښانې خو د الله جل جلاله په اختيار کې دي او زه خو بس بېرووونکی يم ښکاره .

۞ ...

سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (6)[سورة المنافقون]

برابره ده په حق د دوی کې که ته بخښنه وغواړې دوی لره، او که بخښنه نه وغواړې دوی لره، بخښنه نه کوي الله جل جلاله دوی ته، بېشکه الله جل جلاله لار نه ښيي نافرمانو خلکو ته .

﴿...
قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرّاً وَلَا رَشَداً (21) [سورة الجن]
ته ووايه زما په اختيار کې نه دي ستاسو بد او نه پر لار کول .

﴿...
إِلَّا مَا شَاء اللَّهُ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَى (7)[سورة الاعلیٰ]
مګر څه چې وغواړي الله جل جلاله هغه پېژني ښکاره او پټه .

.❁❁❁.

انبياؤ ته په ټوله قرآن کې يو ځای هم نُور نه دي ويل سوي بلکه بشر ، انسان ورته ويل سوي ، الله جل جلاله قرآن او آسماني کتابو ته نُور ويلي دي

﴿...فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُواْ بِاللّهِ وَاعْتَصَمُواْ بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطاً مُّسْتَقِيماً(175) [سورة النساء]
نو کومو خلکو چې ايمان راوړی پر الله جل جلاله باندي ،او دی يې محکمه ونيوی نو داخل به کړي دوی په خپل رحمت کي، او په فضل کي ، او وبه رسوي دوی د خپل طرف څخه سيده لاري ته .
خلاصه دسوره النساء آيت ۱۷۵ څخه بيا تر سوره التغابن آيت ۸ پوري خلاصه داده چي دنبی ﷺ بشريت په اعتبار دذات ثابت دی او نورانيت ئې په اعتبار دذات نه دی ثابت بلکه په اعتبار دعلم او هدايت ثابت دی قال والاولیٰ ان يقال هی مستعارة للعلم والهداية کما قال تعالیٰ : (فهو علیٰ نور من ربه) فتح الباري ج ۱۱ ص ۱۱۸ کتاب

النوازل ص۱۸۰ ج ۲ .

مولانا رومیؒ څه ښه فرمایی:

بسودایی جانان ز جان مشتغل

بذکر حبیب از جهان مشتغل

...... ☆ ......

ترجمه : د دوست او حبیب په فکر کې د ځان څخه ناخبره وي او د حبیب په یاد کې د دنیا څخه ناخبره وي .

...

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيراً مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ قَدْ جَاءكُم مِّنَ اللّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ(15) [سورة المائده]

اې اهل کتابو! په تحقیق سره راغلی دئ تاسو ته رسول زموږ، ښکاره کوي تاسو ته ډېر شیان کوم چې تاسو پټول د کتاب څخه، او عفوه کوي د ډېرو شیانو څخه، بېشکه تاسو ته راغلی دئ د الله جل جلاله له طرف څخه رڼا او کتاب ښکاره کوونکی .

...

يَهْدِي بِهِ اللّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلاَمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنِ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ (16)[سورة المائده]

په دې سره الله جل جلاله هدایت کوي هغه چا ته چې تابع سو د هغه د رضا د سلامتي د لارو، او راباسي دوی د تاریکیو څخه د رڼا و طرف ته، په خپل حکم سره، او دوی ته هدایت کوي د سیده لارې .

...

إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُواْ مِن كِتَابِ اللّهِ وَكَانُواْ عَلَيْهِ شُهَدَاء فَلاَ تَخْشَوُاْ النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَناً قَلِيلاً وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (44)[سورة المائده]

موږ نازل کړی دئ تورات چې په دې کې هدايت او رڼا حکم دئ، حکم کاوه په دې سره پېغمبرانو کوم چې حکم منونکي وو د الله جل جلاله، يهودو ته، او حکم کوي الله جل جلاله والا خلکو او عالمانو، په دې وجه چې دوی حفاظت کوونکي مقرر شوي وو د الله جل جلاله د کتاب او دده په خبر اخيستلو مقرر وو، نو تاسو بېره مه کوئ د خلکو څخه، او زما څخه بېره کوئ او مه اخلئ زما په آيتونو قيمت لږ، او څوک چې حکم نه کوي د دې موافق، کوم چې الله جل جلاله نازل کړي دي نو دغه خلک کافران دي .

﴿...وَقَفَّيْنَا عَلَى آثَارِهِم بِعَيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَآتَيْنَاهُ الإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ (46) [سورة المائده]

او وروسته ولېږی موږ د دوی پر قدمونو عيسیٰ عليه السلام د مريمې زوی، تصديق کوونکی د تورات. چې د مخکې څخه ورکړ موږ ده ته انجيل، چې په دې کې هدايت او رڼا وه او تصديق کوونکی وو د هغه کتاب تورات چې تر ده مخکې وو او لارښوونکی او نصيحت وو ېرېدونکو ته .

...

وَهٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ (92)[سورة الانعام]

او دا قرآن کتاب دئ چي موږ نازل کړی دئ برکت والا، تصدیق کوونکی د هغه چي تر ده مخکي دئ او چي وبېروي مکې والا، او د دې شاوخوا ماحول والا او د چا چي یقین دئ په آخرت هغوی په دې ایمان راوړي او هغوی د خپلو لمونځونو حفاظت کوونکي دي .

...

الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنزِلَ مَعَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (157) [سورة الاعراف]

هغه خلک چي پیروي کوي د دې رسول چي اُمي نبي دئ، کوم چي پیدا کوي دوی لیکل سوی د خپل ځان سره، په تورات او انجیل کي دي، حکم کوي دوی ته د نیک کار او منع کوي دوی د بد کار څخه، حلالوي د دوی لپاره ټول پاک شیان، او حراموي پر دوی حرام شیان، او ایسته کوي د دوی څخه د دوی بار، او هغه قیدونه چي پر دوی وو، پس کوم خلک چي پر ده ایمان راوړي او د ده ملګرتیا وکړي، او د ده مدد وکړي، او تابع سي د هغه نور چي د ده سره نازل سوی دئ، دغه خلک و رسېدل خپل مراد ته .

۞ ...وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحاً مِّنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ نُوراً نَّهْدِي بِهِ مَنْ نَّشَاء مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ (52) [سورة الشورىٰ]

او دغـه شـان لېـږلـې ده مـوږ تا ته يوه فرشته، په حكم خپل سره، څه چې غـواړي بېشـكـه هـغـه د ټولو څخه لوړ حكمتونو والا دئ، او دغه شـان لېـږلـې ده مـوږ تا ته يوه فرشته، په حكم خپل سره، ته نه وې پوه چې څـه دئ كتـاب، او نـه ايمـان، او ليكن موږ كړى دئ دا رڼا، لار بـه ښيـو چـا تـه چې وغـواړو د بندګانو خپلو څخه، او بېشـكه چې تـه ښيې سيده لار . «الكشف والبيان (۸/۳۲۶)»

۞ ...فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالنُّورِ الَّذِي أَنزَلْنَا وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (8) [سورة التغابن]

ايمـان راوړئ! پر الله جل جلاله باندي، او د هغـه پر رسول باندي، او پـر هـغـه نُـور كـوم چې مـوږ نـازل كړ، او الله جل جلالـه ستـاسو د ټولو كارونو څخه خبردار دئ .



دیو بندیت

دبریلویانو جوابونه

په فقه حنفی سره

دبریلویانو جوابونه په فقه حنفیه کي

بعضی مسلمانان وایي دا کار وکړه ولی یو

مستحب کار خو دیدا خبره غلطه ده

☆...☆...☆

ولی چي استحباب یو حکم شرعی دی:

شرعي حکم صرف هغه امر سوی شئ دی کوم ته چي شریعت امر ورکړی دی وروسته هر سړي چي د یو شي مستحب کېدو دعویٰ کوي نو د دې دپاره شرعي دلیل راوړل ضروري دی . څنګه چي الله تعالی وایي: ﴿ قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ (البقرة:۱۱۱)

ته و دوی ته ووایه که چیري تاسو رښتیا یاست نو یو دلیل راته پېش کړئ .

(۱) دفقه مشهور کتاب رد المحتار کي علامه ابن عابدین الشامیؒ په محققانه انداز کي د دې خبري و طرف ته اشاره کړې ده : **لا یجوز اعتقاد استحباب شئ بدون دلیل** . (الشامي:۵/۲۲۸)

د دلیل شرعي بغیر و یو شي ته مستحب کېدو عقیده لرل جائز نه ده . (شامي: ۵/۲۲۸)

د دې وجه دا ده چې ديو شي جائز كول، حرام كول او دغه رنګه فرض كول واجب كول سنت كول او مستحب درول د شريعت كار دى . خپله د خپل خوا څخه د يو شي واجب يا مستحب كول داسي دي لكه شارع كېدلو دعوىٰ كول دي . او پر الله تعالى باندي دروغ ويل .

(۲) علامه حضرت شاه ولي الله محدث دهلويؒ فرمايلي دي: و ان الله حكم بالواجب والمندوب والمباح و المكروه والحرام فمن اخبر بان هذا واجب او حرام من غير ثبت و ثقة افترىٰ على الله الكذب . (التفهيمات: ۱/ ۲۱۱)

چې الله تعالى واجب، مستحب، مباح، مكروه او حرام په باره كي فيصله فرمايلې ده چې سړى امر وركړي چې پلانى خبره واجب يا حرام (يا مستحب) ده نو ده په الله تعالى باندي درواغ وتړل . (تفهيمات :۱/ ۲۱۱)

(۳) علامه شيخ الاسلام ابن تيميه ويلي دي: و لا يجوز ان يقال هذا مستحب او مشروع الا بدليل شرعى و لا يجوز ان يثبت شريعة بحديث ضعيف (منهاج السنة :۴/ ۱۸)

ديو شرعي دليل بغيره يو شي ته جائز يامستحب ويل هر وخت جائز نه دي او نه دا خبره دائز ده چې د يو ضعيف حديث باندي د شريعت يو حكم ثابت كړي . (منهاج السنة :۲/ ۱۸)

مستحب چې كوم شرعي دى نو بغير دليل هر شي ته مستحب ويل ګناه كبيره ده او دغه رنګه دا هم جائز نه ده چې عمومات او مطلقات څخه خپل استدلال وكړي .

(۴) فخر علمائې ديوبند علامه شاه انور شاه كشميريؒ د شاګرد رشيد علامه محمد يوسف بنوريؒ دعا بعد السنة باندي بحث كوي ليكلي دي:

فلا يكفى العموم فى مثل هذه المواقع الخاصة و كذلک افادنى شيخنا رحمه الله مدة فى كشمير ۱۳۴۸هج . (معارف السنن :۲/ ۱۲۴)

چې د دغـه خاص موقعې دپاره عمومات کافي نه دي . (او بیا و ایي) او دا رنـګـه زما شیـخ شاه کشـمیريؒ و مـاته یو وار په کشمیر کي ۱۳۴۸ھ کي ویلي وو .

(۵) مـحـدث کبیـر عـلامـه مـحـمـد انور شاه کشمیريؒ په خپله عرف الشذي شرح صحیح جامع ترمذي کي باب قائم کړی دی . (باب ما جاء فی کراهیة ان یختص الامام نفسه بالدعاء) څخه لاندي لیکي:

و لکن الاحتیاج بالعموم والاطلاقات انما یکون فیما لم یرد حکمه الخاص . (العرف الشذي علی الجامع الترمذي:۸٦)

حافظ ابن دقیق العیدؒ لیکي:

لأن الحکم باستحبابه علی تلک الهیئة الخاصة یحتاج دلیلاً شرعیاً علیه و لا بد . (احکام الاحکام:۱/۵۱)

د داغـه دپاره چې دیو شي یو خاص هیئت سره پر مستحب کېدو باندي ضروري او لا بدي دی . چې دلیل شرعي موجود وي . (احکام الاحکام :۱/۵)

قارئین کرام !

دا بـاب پـه ډېر اختـصـار سره د دې دپـاره نقل سوی دی چې دا یو داسي بنـکـاره خبره ده چې ډېر وضاحت ضرورت نسته د پوهي والا ته دومره کافي دی .

﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ (سورة حشر :۷)

او تـا تـه کـوم څـه رسول الله ﷺ در کړي دي واخله او د کومه څخه دروي ودرېږه او د الله څخه و بېرېږه یقیناً الله تعالی سخت عذاب والا دی .



نذر لغير الله:

د الله تـعـالی څخه ما سوا ديو چا په نامه شی په نيت تقريب يعني ثواب ورکول يا حلالول حرام او کفر دی .

نـذر يـو عبـادت دی د الله تـعـالـی پـر نـامـه نذر منل او خيـرات ورکول فـقيـرانـو او مـسـکيـنـانـو تـه دا يـو ښـه او مسـتـحسن امر دی . ليکن پـه بد قسـمتـي سره نن سبا د قرآني او آسماني علومو څخه نا خبري په وجه علماء حقـانـي د نيستئ په وجه او شکم پرست علماوو د زياتوب په وجه خلک الله څخه بغير پپير او اولياء او بزرګانو په نامه خيرات او نذر مني . او و دې ته خيـرات او ثـواب وايي . خصوصاً قبرو ته ولاړ سي او حيوان د ثـواب پـه نيت حـلالـوي . او يـا د دې بـغيـره شيـرني ميتهايی، چاکليټ، پلئ او بل خوړ شی هلتـه د ثـواب پـه نيـت وېشـي . يـا پـه کور کي ناست وي د لـيـري څخـه د بزرګانو او ولیانو پر نامه نذر او خيرات مني . يا ددې په نامه پوښ او جنډئ يـو بـل شـی نـذر کـوي . دا کـرده د اسـلام دعـويـدار د الله تعـالـی د راضي کېدو دپاره کوي . ليکن په حقيقت سره نا خبره عوام بلکه بعض خواص خلکو ته دا خبر نه وي . چي په دغه کار سره انسان د الله تعالی څخه دوري کيږي . دا د خـوبـي دعـوه هـم نـه بـلـکـه په قرآن او حديث او فقه حنفي کي پر دې باندي مضبوط دلائل موجود دي .

زمـا مـحتـرمـو ورونـو! دا رنـګـه کارونه کوچني مه ګڼئ . بلکه په دې سره بعض اوقات انسان مرتد کيږي او ماينې نکاح ختميږي .

(۱) پـه قـرآن کـريـم کـي بـل ځای د دهغه شي حرمت بيانوي وايي: ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ﴾ (المائدة: ۳)

پـر تـا بـانـدي حـرام کـړې مـرداري او ويـنـي د خنزير غـوښـي او کـوم باندي چي د الله ما سوا بل نوم ياد سوی وي (المائدة:٣)

(٢) ﴿وَجَعَلُواْ لِلّهِ مِمِّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالأَنْعَامِ نَصِيباً فَقَالُواْ هَـذَا لِلّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَـذَا لِشُرَكَآئِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلاَ يَصِلُ إِلَى اللّهِ وَمَا كَانَ لِلّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَآئِهِمْ سَاء مَا يَحْكُمُونَ﴾ (الانعام:١٣٦)

او الله تـعـالـی چـي کـومـي کـښـت او مـالونه پيدا کړي د هغه خلکو د الله دپاره مقرر کړی ده او خپله وايی چي دا خو د الله دي او دا زموږ



د الله څخه ما سوا حلالولو والا کافر او مرتد دی:

(١) امام فخر الدين الرازي او علامه نيشاپوريؒ او نور ليکي:

قـال الـعـلـمـاء لو أن مسلماً ذبح ذبيحة و قصد بذبحها التقرب الی غير الله صار مـرتـداً و ذبيـحتـه ذبيـحة مـرتـدٍ (تفسير کبير :٢:٨١) (نيشاپوري: ٢/١٥٢)

عـلـمـاء ويـلـي دي چـي مـسـلـمـان يـو حـلالـونـکـی حلال کـړي او دی دا حـلالـيـدونـکـی د غيـر الله پـه تقريب د نيژدې والي يا خوشحالي اراده وکړي هغه مرتد سولو . د ده حلالونکی د يو مرتد حلاليده سوه . يعني د دې خوړل حرام دي .

(٢) محيط غرائب القرآن حاشيه شيخ زاده علی البيضاوي .

(٣) تفسير روح البيان .

(۴) فـتـوحـات ربـانـيـه او نـور کي تقريبًا دغه الفاظ دي . فـتـوحات او غـرائب الـقرآن څخه ماسوا درو سره کتابو کي اخيري الفاظ (ذبيحته ذبيحة مرتد)

پـر ځـای ذبيـحة ميتـة يـعـنـي د ده ذبيـحـه مرداره ده . فـتـوحات الربانيـه كي دا الفاظ زيات دي لا يحل اكلها يعني د دې خوړل حلال نه دي .
(الدر الفريد:۹۱ . توحيد او شرک حقيقت :۳۴۵)

(۵) امام نووىؒ ليكلي دي:
چي د لـغيـر الله څخه مراد دا دى چي د الله ما سوا د يو بل چا په نامه حلال كـړي د پيـر دپـاره يې حـلال كـړي يـا د صليب دپاره يا د حضرت موسى عليه السـلام يـا حـضـرت عيـسـى عـليـه السلام يا دغه رنګه د يو بل چا دپاره حلال كړي بس دا كړده حرام دي . او ددې حلالونكي خوړل حلال نه دي .
حـلالـونـكى كه مسلمان وي كه نصراني وي كه يهودي وي . پر دې باندي اتـفـاق كـړى دى . او كـه چيـري د دې سره سره مذبوحـه چي د چا دپاره حلال كړل سوى دى چي تعظيم و عبادت مقصود وي نو دا كافر دى . ليـكـي:
فان كان الذابح مسلماً قبل ذالک صار مرتداً . (شر ح مسلم ۱۶۵/۲)
كـه چيـري حـلالـونـكـى اول مسـلـمـان وي نو د حلالېدو سره مرتد سو .
(شر ح مسلم ۱۶۵/۲)
د مړو دپـاره پـر قبـر بـانـدي حـلالـول هم دغــه حكم دى . كـه څـه هم د حلالېدو په وخت كي زر (۱۰۰۰) واره بسم الله الله اكبر و وايي .
(۶) علامه ابن الهمام فتح القدير كي ليكلي دي:
و مثـلـه مـا يـذبـح مـن المعتقدين للاموات من الذبح على قبورهم فانه مـمـا اهـل به لغير الله و لا فرق بينه و بين الذابح للوثن . (فتح البيان : الدر الفريد: ۹۱)
د مـړه سـوو بزرګانو د جاهلو محبانو د دې پر قـبرو باندي د حلالولو دغه حـكـم دى . بېشـكـه و ما اهل به په غير الله كي داخل وي . او د دغـه او د پيري دپاره حلالول هيڅ فرق نستـه . (فتح البيان : الدر الفريد:۹۱)

(۷) علامه ابن قیمؒ لیکي:

نهیٰ رسول الله ﷺ عن اتخاذ القبور مساجد و اقیاد السرج علیهما . (زاد المعاد :۱/۱٤٦)

چي نبیؐ و قبرو ته سجده کول او چراغ لګول څخه منع کړې ده .

(۸) علامه سید محمود آلوسي الحنفيؒ لیکي:

و تجب ازالة کل قندیل او سراج علی قبر و لا یجوز وقفه و نذره . (روح المعاني : ۱٥/ ۲۳۸۱)

واجب دی چي پر قبر قندیل یا چراغ وي هغه لیري کړي او د دې وقف او نذر هم جائز نه دی . (روح المعاني :۱٥/۲۳۸)

(۹) په فقه حنفي کي مشهور کتاب درالمختار کي دي:

و اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام و ما یؤخذ من الدراهم و الشمع و الزیت ونحوها الیٰ ضرائع الاولیاء الکرام تقرباً الیهم بالاجماع باطل و حرام . (الشامي:۲/ ٤۳۹)

امام ابن نجیم مصري الحنفيؒ او علامه عابدین الشامي لیکي:

انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة و العبادة لا تکون للمخلوق و منها انه ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دو ن الله تعالی و اعتقاده ذالک کفر . (البحر الرائق : ۲/ ۲۹۸) (رد المختار :۲/ ٤۳۹)

چي دا نذر دی د مخلوق لپاره او د مخلوق لپاره نذر نه دی جائز ولي چي دا عبادت دی او عبادت د مخلوق نه کیږي او که د نذر کولو والا دا ګمان او عقیده وه چي دا مړی په امور کي تصرف کوي د الله تعالی ما سوا زما کار را کولای سي نو دا عقیده کفر ده . (البحر الرائق : ۲/ ۲۹۸) (رد المختار :۲/ ٤۳۹)

النذر لغیر الله حرام لأنه من انواع الکفر لأن هذا عبادة و العبادة لغیر الله

کفر . (خلاصة الفتاوی: ۳۷۸/۴)

عن ثابت ابن ضحاکؓ قال نذر رجل ان ینحر بدناً ببوانة فسأل النبیؐ فقال هل کان فیها وثن من اوثان الجاهلية يعبد؟ قالوا لا قال فهل کان فیها عید من اعیادهم؟ قالوا لا فقال رسول الله ﷺ اوف بنذرک فانه لا وفاء لنذر فی معصیة الله .

(رواه ابو داؤد، قرة العین: ۱۹۸/۱، مشکوة: ۲٦ ص ۲۹۸)

د حضرت ثابت بن ضحاکؓ څخه روایت دی هغه وایي چي یو سړي نذر ومنئ چي هغه به د بُوانه په نامه یو مقام دی هغه له به ځم او ښ به حلالوم د دا نذر منلو والا د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي داسي کول صحیح دي؟ نو رسول الله ﷺ د صحابه وو څخه پوښتنه وکړه چي آیا هلته په زمانه جاهلیت کي یو بت وو چي د هغه عباد کړل سوی وي؟ صحابهِ کراموؓ عرض وکی چي یا نه وو . نبی علیه السلام بیا پوښتنه وکړه چي هلته د مشریکانو میلیه کېدله؟ صحابه کراموؓ وویل چي یا نو رسول الله ﷺ وفرمایل چي خپل نذر پره که خو دا په یاد لره چي د الله په نافرماني کي نذر پوره کول صحیح نه دي . (ابو داؤد شریف دا رویات کړی دی)

(قرة العیون: ۱۹۸/۱، مشکوة ج ۲/ص ۲۹۸)



د انبیاء علیهم السلام پر نامه نذر کول هم حرام دی:

په فتاوی کامله کي راځي:

سئلت عن النذر للانبیاء والاولیاء هل یجوز أم لا؟ فالجواب أي باطل و حرام لأن النذر انما یکون لله تعالی . (الدر الفرید: ۹۸)

زما څخه سوال وسو چي د انبیاوو اولیاوو پر نامه باندي نذر کول جائز

دی که نه؟

د دې جواب دا دی چې باطل او حرام دی ولې چې نذر یوائې د الله تعالی لپاره دی . (الدر الفرید:۹۸)

قال صاحب الروض ان المسلم اذا ذبح للنبیّ کفر قال الشوکانی رحمة الله فاذا کان لسید الرسل کفراً عنده فکیف بالذبح لسائر الاموت . (الدر الفرید:۹۱)

علامه نور الحسن شاه صاحب لیکي:

چې حضرات فقهاء اسلام د هر رنګه مخلوق نذر او منت بالاجماع باطل او حرام لیکلي دي نو اوس د اولیاء الله نذر منل او د هغو پر نامه باندي حیوان حلالول او دغه فعل ته چې باجماع المسلمین حرام دی نه یوائې مباح و حلال بلکي د عبادت ذریعه بلل خو کفر کیږي ولي چې و حلال ته حرام ویل خو په شریعت کي کفر دی . (توحید او شرک حقیقت: ۳۴۷)

خلاصه کلام دا راووتی چې د الله تعالی ما سوا دیو چا د تعظیم دپاره خیرات ذبح او داسي نور حرام دي او د غیر الله پر مشهورو ما سوا پر هغو پر نامه باندي خیرات ذبح او داسي نور څه کول حرام دي او د داسي کارو ته حلال بللو والا کافر دی .

په فتاوی عالمګیري خلاصه الفتاوی او شرح فقه اکبر کي دي:

من اعتقد الحرام حلالاً او علی قلب یکفر :(شرح فقه اکبر : ۲۳۷)

چا چې حرام د حلال په یقین وکی هغه بلا شبه کافر سو .(شرح اکبر:۲۳۷)

علامه شامي الحنفي په کتاب الذبائح کي لیکي:

ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء یحرم لأنه اهل به لغیر الله و لو ذکر اسم الله تعالی و لو ذبح للضیف لا یحرم لأنه سنة الخلیل علیه السلام و اکرام الضیف اکرام الله تعالی . (جامع الرموز :۴۴۹، مجمع الانهر

:۲/ ۴۹۰)

حاکم اعلی او داسي نور دیو غټ سړي پر راتللو يې ذبح وکړ نو حرامیږي ولي چي دا د غیر الله پر تعظیم باندي وغوښتل سو که څه هم د حلالېدو پر وخت د الله نوم واخیستی او که يې مېلمنو دپاره حلال کئ نو نه حرامیږي ولي چي د مېلمستیا خو د حضرت ابراهیم علیه السلام سنت ده او د مېلمه عزت د الله تعالی اکرام دی . (جامع الرموز :۴۴۹، مجمع الانهر :۲/ ۴۹۰)

(۲) امام ابو حنیفه ثاني علامه ابن نجیم مصری الحنفیؒ لیکي:

لـو ذبح لأجل قدوم الامیر او قدوم واحد من العظماء و ذکر اسم الله یحرم اکله لأنه ذبحها لأجله تعظیماً . (البحر الرائق :۸/ ۱۹۲)

چي د باچا یا یو غټ سړي را تلو ته یو حیوان حلال کړي که څه هم د حلالېدو په وخت کي د الله تعالی نوم واخلي نو بیا هم د دې خوړل حرام دي . ولي چي دا د باچا یا د نورو د راتګ او د تعظیم دپاره حلال سوی دی .

(۳) د پیرانانو دپاره حلالول حرام دي علامه دمیريؒ لیکلي دي:

روی ابـو عبیده فی کتاب الاموال والبیهقی عن الزهري عن النبی ﷺ انـه نهـی عـن ذبائـح الجن و ذبائح الجن أن یشتری الرجل الدار او یستخرج العیـن او ما اشبه ذالک فیذبح لها ذبیحته للطیرة و کانو فی الجاهلیة یقولون اذا فعل ذلک لم یضر اهلها الجن فابطله ﷺ . (حیواة الحیوان :۱/ ۳۰۲)

عـلامـه عبیـد اللهؒ پـه کتـاب الامـوال کي او عـلامـه بیـهقيؒ د امام زهريؒ څخه روایت کړی دی چي نبي اکرم ﷺ پر پیرانانو حلالول منع کړي دي او د پیرانانو په نامه حلاول دغه دي چي یو سړی سرای رانیسي یا چشـه یا یو څا یعني تالاب یا یو بل شی وکاږي نو د دې دپاره حیوان حلال کړي په زمانه جاهلیت کي خلکو دغسي کول او ویل به يې چي بیا پیرانان خلکو ته نقصان نه رسوي . نبي اکرم ﷺ دغه کار باطل کړی دی . (حیواة الحیوان :۱/ ۳۰۲)

(۲) امام رباني شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثانیؒ ليکي:
وحیوان را کہ نذر مشائخ می کنند و بر سر قبر ہائے ایشان رفتہ ان حیوانات را ذبح می نمائند در روایت فقہیہ این عمل را نیز داخل شرک ساختہ اند و درین باب مبالغہ نمودہ و این ذبح را از جنس ذبائح جن انگاشتہ اند کہ ممنوع شرعی است و داخل دائرہ شرک ۔ (مکتوبات امام ربانی:۳/۴۱)
د جانور حيوانان د بزرګانو نذر کوي او دوی قبرو ته ولاړ سي حيوانان حلالوي په فقهي روايت کي دغه عمل په شرک کي داخل سوی دی . بلکه دغه ذبح يې د جنس د پيرانانو ګرځولې ده . (مکتوبات امام ربانی:۳ / ۴۱)



يوه عبرتناکه واقعه

امام نسائی په يوه مرفوع روايت کي ليکي چي يو سړی د غير الله په نامه د يوه مچ په وجه جهنم ته واچول سو . عن طارق ابن شهاب يرفعه قال دخل رجل الجنة فی ذباب و دخل رجل النار فی ذباب قالوا و کيف ذلک يا رسول الله قال مر رجلان علی قوم لهم صنم لايجوز احد حتی يقرب له شيئاً فقالوا لاحدهما قرِّب فقال ليس عند شيئ قالوا اقرب و لو ذباباً فقرب ذباباً فخلوا سبيله فدخل النار و قالوا للآخر قرِّب فقال ما کنت لا قرب شيئاً دون الله عزوجل فضربوه عنقه فدخل الجنة .
(رواه احمد الجواب الکافی ۴۱/ ترجمان السنة ۴/ ۳۴۴: حديث ٦٦٢٨)
په يو ځای دوه کسان تېرېدل نو د هغه علاقې خلکو يو بت درلودی چي هر څوک به تېرېدل نو دوی به خامخا د بت په نامه يو شی په خيرات ورکوی نو دا دوه کسان چي راغله نو هغو خلکو يوه ته وويل چي خيرات وکړه هغه ورته وويل زه شی نه لرم دوی ورته وويل چي خيرات وکړه که څه هم مچ وي هغه سړي مچ خيرات کړی د بت په نامه دوی ايله کړی الله و جهنم ته

واچوی . دا بل ته یې وویل چې خیرات وکړه هغه ورته وویل چې زه د الله څخه ماسوا د بل چا پر نامه خیرات نه کوم دوی غاړه ور پرې کړه شهید یې کړی الله جنت ته بوتی الله دې موږ د اهل توحید څخه حساب کړي .

او دا ذکر کول:

امداد کن امداد کن ازرد بین و دنیا یاد کن یا غوث الاعظم دستگیر۔

ژباړه: مدد وکړه کومک وکړه په دین او دنیا کې مې یاد کړه د دې ذکر جواز شته یا نه؟

جواب: و لا یصح الذکر باسماء الاولیاء علی سبیل الوظیفة او السیفی لقضاء الحاجة کما یقرؤ ان الجهال .

(الجنة لاهل السنة ص ٧) واختلاف امت اور صراط مستقیم ص ۱۱ للعلامة محمد یوسف بنوری کراچی)



حاضر و ناظر کېدل د ایمان بالغیب منافي دي:

الذین یؤمنون بالغیب په الذین یؤمنون بالغیب کښې رسول ﷺ هم داخل دی معنی دا چې رسول الله ته هم د قیامت علم نسته .

په عقیده حاضر و ناظر او په عالم الغیب کې تضاد دی:

یعني چې څوک عالم بالغیب وي بیا نو و یؤمنون بالغیب څه مطلب شو چې عالم په غیب وي نو بیا ایمان بالغیب څه معنا لري؟

په عقیده حاضر و ناظر او په مختار کل کې ضد دی ولې چې نبیؐ حاضر ناظر شي او عالم بالغیب شي نو بیا نبیؐ ولې د ګناهو والا مخ نه نیوی نه کوي که ته وایې چې قدرت یې نه وو نو مختار کل نه دی او که خبر نه وي نو عالم بالغیب نه سو؟

حاضر و ناظر د سوارۍ محتاج نه دی:

او نبي علیـه السلام او ښه درلوده او قچر يعني غاطر يې وه سپرلي يې پر کوله او بل نبئ و ایي من صلي علیه عند قبري سمعته القول بدیع ۳۱۳ نو نبي عليـه السـلام واي چي من صـلي علیّ عند قبري حاظر او ناظر هر ځای اوري .عقیده حاضر و ناظر بدیهی البطلان ده:

ولي نبي علیه السلام چي کوم ځای کي ناست وي نو هغه يې مصروف کړی اوس بـه بـل ځـای هـم وي کـه وي يوه جسم دوه مکان مشغول کړه او يو جسم دوه ځـايـه وجـود بـدهـی البـطـلا ن دی او کـه بـل ځـای نـه وي حـاظر نـه سو .ناظر نه سو نو عقیده د حاضر ناظر عقیده باطل ده .



په غوښو کي د زهرو اچولو واقعه:

نبـي عـلـيـه السـلام ته يې په پسـه کي زهر ورکړه او نبي علیـه السلام نه وو خبـر کـه حـاضـر او نـاظـر سي نو بيا ولي د زهرو ډک پسـه غـوښـه خوري؟ حـاضـر و نـاظـر دهـو کـه نـه خوري نبي عليـه السـلام ته دوه کسان راغله نبي فيـصـلـه وکړه يوه نبي عليـه السلام ته وويل ما ته چي څوک راسي زه دليـل ته ګـورم مـعـنـا زه تيـز دلیـل تـه وګـورم ما ته دوکه مه راکوئ . (بخاري ج ۲ / ص۶۱۲)

حاضر و ناظر او سواري:

يـو وار تېر سو حـاضـر و ناظر و سپرلي ته څه ضرورت ولي دی هلتـه سه موجود دی نو څه سورلي کوي .

حـاضـر و نـاظـر تـه د تجسس حاجت نستـه . معنی حاضر هر ځای موجود او ليـدونـکـي د هـر شـی . هـغـه تـه ضـرورت نـسـتـه د جاسوس استولو چي په سخت يخ کي به يې صحابه استول .

د حاضر و ناظر څخه هيڅ شی نه پټيږي په صحيح مسلم کي راځي چي نبي عليه السلام د مريانو سره بيعت نه کوي يو مريی راغی نبي عليه السلام ته يې ځان آزاد ښکاره کړی بيا يې مالک راغلی ويل يا رسول الله دا زما مريی دی نو ده عالم الغيب ولي شی پټ شي نو معلوم سوه حاضر ناظر عالم الغيب نه وو .

حاضر و ناظر څخه شی نه پټيږي . د نبی عليه السلام يو مريی وو ما بور نومېدی يهود وويل چي مابور د ماريه سره زنا کړې ده نبي حضرت علي واستوی چي ورسه رجم يې کړه عليؓ ورغلی هغه يې يو کډي کي پټه شو حضرت علي راکش کړی د هغه کمر بند پرېږسو علی و کتل د هغه بلکل ذکر وو نه مسلم کتاب . . .

د حاضر و ناظر څخه د کور حالات هم مخفي دي . د نبی عليه السلام تر کټ لاندي د سپي کتری پټ وو نبي عليه السلام نه وو خبر جبرئيلؑ بند سو رسول الله وويل جبرئيل ته ولي نه راغلې هغه ويل چي زه نه ځم هغه ځای چي سپی يا تصوير وي . (مسلم کتاب لباس ج ۲ ص ۱۹۹)

د حاضر و ناظر کېدلو باوجود د حضرت عليؓ تلاش کول . نبي عليه السلام راغلی د فاطمېؓ کور ته عليؓ نه وو په کور کي په مسجد کي بيده وو نبي عليه السلام پسې ووتی د عليؓ تلاش يې کوی . (بخاري ج ۱ / ص ۶۳ . باب نوم الرجل فی المسجد)

حاضر و ناظر ته د خورما علم نسته . نبي عليه السلام ته يې خورما راوړه نبيٌ ورته وويل اکل تمر خيبر هکذا صحابي ورته ويل نه يا رسول الله ولي حاضر ناظر پوښتنه کوي . (بخاري ج۲ ص۶۰۹)

د حاضر و ناظر کېدلو باوجود د حضرت ابو هريرهؓ تلاښ کول حضرت ابو هريره و نبي عليه السلام ته په مخ ورغلی بيا نبیؐ دی کښېنوی هغه

وايي زه جنب وم ولاړم غسل مي وكړى چي راغلى نبيؑ راته وويل چيري وې ابو هريرةؓ وويل جنب وم غسل مي وكړى كه نبيؑ په پټو خبر واى نو يې ولي پوښتنه كوله آيا تو نه دليل پر نه علم غيب د عليه السلام يعني په پټو نه وو خبر په يؤمنون بالغيب كي حضرت محمد ﷺ هم داخل دى .

معنى هغه شيان چي ايمان په پټه دى هغه نبيؑ نه دى خبر د هم په پټو ايمان راوړى دى .

دليل ۲:

لو كنت اعلم الغيب (الاية) نبي عليه السلام وايي چي زه په پټو نه يم خبر كه خبر واى ما په ځان خير ډېر كړى واى او په احد كي به يې ملكري نه شهيدان كېداى او غاښو نه مباركان به يې نه زخم كيداى .

دليل ۳:

يسئلونك عن الساعة (الاية) دوى ستا څخه د قيامت پوښتنه كوي ته ورته ووايه چي علم يې د الله څخه دى زه په قيامت نه يم خبر .

دليل ۴:

و ما تدرى نفس ما ذا تكسب غداً (الاية) نه دى خبر هيڅوك چي زه به صبا څه كوم او چيري به مرم نبيؑ هم په نفس كي داخل دى نه دى خبر په خپل مرګ او ځاى د مرګ .

دليل ۵:

لا أقول لكم عند خزائن الله (الاية) زه نه وايم چي زما سره خزانې دي د الله زه د الله په خزانو نه يم خبر .الله په خپلو خزانو خبر دى كه په پټو خبر واى نو نه يې ويل چي زما سره د الله خزانې نسته او نه په پټو خبر يم (سورة انعام)

دليل٦:

قـل مـا کـنـت بـدعـاً مـن الـرسـل و مـا ادری مـا یـفـعـل بی و لا بکم (الایة) (الاحقاف)

زه نـوی پیـغـمـبر نه یم نور هم تېر سوي دي او نه یم خبر چي څه به په ما کیږي معني زه په ځان نه یم خبر نه په تاسو خبر یم .

دلیـل۷:

لا تـعـلـمـهـم نحن نعلمهم) تاسو نه يې خبر موږ خبر یو یعني ته په پټو نـه يې خبر زه خبر یم بل دلیـل پر دې چي نبي ؑ بشر دی نور نه دی ولې که نور سـي ازواجـی يې بشـر دي .د مخالف جنس سره نکا ح نه ده جائز نو معلومه سـوه چي نبي عـلیه السلام بشر دی نور نه دی معنی ماهیت يې نور دی په اعتبـار د هـدایـت و خـلـکـو یـعـنـي په اعتبار حقیقت بشر په اعـتـبـار د هدایت نور .

د دیوبندي حضراتو دلائل :

دلیـل : ۱ .

صـراط الـذیـن انـعـمت علیهم . یعني یهود او نصاری مغضوب عـلـیـهـم او مـقـابـل يې انـعـمـت عـلـیـهـم دی دواړه جـانـبیـن مـکلف دي مولانا حماد الله هـالـجـوي چي زمـا د استـاذ استـاذ دی وایـي چـي بریلوي حضرات د نبي ؑ و انسـانـیـت تـه نـه دي تیـار نبـي صـدیـق نه دی و لی هغه بشر وي شهید نه دی اصـطـلاحـي شهید ولي هغه بشر دی او ملائکه نه دی ولي نبي ؑ يې خپـل نفي کوي چي زه ملکه نه یم بلکه بشر یم .

صـراط الـذیـن انـعـمـت علیهم دا ښایي چي پېغمبر ؑ او ټول انبیاء عـلـیـهـم الـسـلام انسانان دي ملائکه نه دي .

دلـیـل ۲:

هـدی للمتقیـن الذین یؤمنون بالغیب . (البقرة) معنـي متقي هغه دی

چې ایمان یې بالغیب وي لکه جنت دوزخ د الله ذات ټوله پټ شیانو متقي ایمان راوړی وي بریلویان وایي نبي ځخه هیڅ شی پټ نه دی نو علیه السلام یصدق بالغیب نه سو او متقي هغه دي چې ایمان یې بالغیب وي .

دلیل ۳:

انی خالق بشراً من طین . زه پیدا کونکی د بشر یم بابا آدمؑ معني والد او مولود بشر دی چې بابا آدم بشر سو نو ټوله اولاد یې بشر دی .

قاضي عیاضؒ وایي قد قدمنا انه ﷺ و سائر الانبیاء و الرسول من البشر . (شرح شفاء ج۲ ص ۳۲٦)

دلیل ۴:

انما أنا بشر مثلکم . زه هم ستاسو په شان بشر یم بشر معنی د بدن پوست او هډوکي ځخه جوړ ، دې ته بشر وایي آیا بشر د انسان علاوه بل شی سته چې انبیاء بشر سوه نو رسول الله خود بخود بشر دی .

دلیل ۵:

فامنوا بالله و رسوله النور الذی انزلنا تغابن: ایمان راوړئ پر الله او پر رسول د الله او پر هغه نور چې الله نازل کړی دی نور یې عطف کړی پر رسول نو نور قرآن دی لهذا لقد جائکم من الله نور و کتاب مبین (مائده) نو دالته هم د نور قرآن مراد دی .

دلیل٦:

لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم . الله انسان په ښه صورت کي پیدا کړیدی دا معلوم سوه چې انسان کامل تر ټول انبیاء دی نو دا آیت هم دلالت کوي چې نبي علیه السلام انسان او بشر دی .

دلیل ۷:

ما کان بشر أن یکلمه الله الا وحیاً . نه دی الله چې خبري وکړي مګر نه

وحي نو عليه السلام بشر دی .

دليل ٨:

هـل كـنـت الا بشـرا رسـولًا . نه يم زه مكر بشر رسول ولي يې نه ويل هل كنت الا نور رسولًا عليه السلام بشر دی رسول دی .

دليل ٩:

الله يصطفى من الملائكة رسلا و من الناس . الله مختار كوي د ملائكه وو او د خلكو رسول معلوم شوه چې نبي د ملائكو نه دی بشر دی ځكه يې عطف د من الناس وكړی پر ملائكو .

دليل ١٠:

و ما جعلنا هم جسدًا لا يأكلون الطعام . الله فرمايي ما نه دی استولي انبياء چې جسد وي او خوراكه نه كوي معنی ملائكه خوراكه نه كوي .

دليل ١١:

ما أنزل الله على بشر من شئى . الله نه دی نازل كړی په بشر كتاب معني كافران وايي چې رسول به بشر نه وي او دوی پوهېده رسول الله بشر دی انسان دی .

دليل١٢:

رسول الله ﷺ بشر يتكلم فى الغضب و الرضا . (سنن ابى داؤد كتاب العلم)

صحابي مبارک وايي رسول الله بشر انسان دی په خوښي او غضب كي خبري كوي .

دليل ١٣:

د علامه ولي الدين عراقي فتوىٰ : قد سئل الشيخ ولي الدين العراقي هل العلم بكونه عليه السلام بشراً و من العرب شرط الايمان فاجاب بانه

شـرط تـعـلـیـم الـسـلام لیـکـي که سړي ته بشریت د رسول نه وو معلوم کافر دی .

دلیـل ۱۴:

قـد جـاء کـم مـن الله نـور و کـتـاب مبین . مراد دلته د نور او کتاب دواړو یو ه معنی ده .

دلیـل ۱۵:

و لا أقـول انـی مـلـک (انـعـام) عـلـیـه الـسـلام فـرمـایی چي زه ملکه نه یم معنی نور نه یم نو څه پاته شو مګر بشریت . فمبلغ العلم فیه انه بشر .

دلیـل۱٦:

انـمـا أنـا بشـر . زه انسان یم ما ته خلک فیصله راوړي زه دلیل ته ګورم مـعـنـی زه انسان یم بشر یم او عالم الغیب معنی په پټو نه یم خبر فیصله په دلیـل کوم .

او س هسـي بـریلوي حضراتو دې ته سر نیولی دی چي نبي علیـه الـسـلام بشر نه دی په پټو خبر دی .

بیان دموضوعي دځانه جوړ سوي قصو او د هغوی جوابونه:

روایت کړی دی امام سیوطي په در منثور کي په تفسیر کي د دې قول د الله تـعـالی (و ما انزل علی الملکین ببابل هاروت و ماروت) ډېر روایتونه و عـجـائـب قـصـې خـلاصـه دا ده چي انسانانو پر مخ د ځمکي فسادونه شروع کړل ملائکو الله (ج) ته وویل چي دا خلق خو تا د عبادت دپاره پیدا کړه او س دوی کـفـر اوقـتـلـونـه او مـال حـرام خوړل او غلاوي زنـاوي شراب خوړل یې

شروع کړه نو الله (ج) ورته وویل که تاسو پر ځای د دوی وای تاسو به هم داغسي ګناهونه کول نو ملائکو ورته وویل سبحانه الله موږ داغسي ګناهونه نه کول الله (ج) ورته وویل تاسو دوې ملائکي معلوم کړئ چي زما اوامر به پر ځای کوئ او د نواهي وو څخه به ځان ګورئ نو دوی هاروت و ماروت غوره کړه نو الله (ج) په دوی کي شهوت پیدا کړ او دوی ته يې امر وکړی چي د الله (ج) عبادت به کوئ شریک به د الله (ج) سره نه نسئ او منعه يې کړه له قتل څخه او له مال حرام څخه او له غلا څخه او د زنا څخه او د شرابو څخه په دغه زمانه کي یوه ډېر ښایسته ښځه وه دی ورته راغې طلب د زنا يې ځیني وکړی هغې ښځي چي زهره نومېده منعه وکړه ورته و يې ویل چي یا به د بت عبادت کوئ یا به قتل کوئ یا به شراب خورئ نو دا هاروت و ماروت هغه سپک شی غوره کړ لکه شراب چښل نو شراب يې وچښل بیا يې د هغې سره زنا وکړه یو سړی تېرېدی دوی يې ولیدې هغه سړی يې قتل کړ بیا دوی اراده وکړه چي آسمان ته پورته سي قدرت د پورته کېدو يې نه وو . او د آسمانو ملائکو دوی ولیدلې بیا و دوی ته وویل سو چي د دنیا عذاب مو خوښ دی که د آخیرت نو دوی وویل چي یا الله (ج) د دنیا عذاب تېرېدونکی دی د دنیا عذاب مو خوښ دی با نو دوی د بابل په شهر کي په پښو راوځړېدې اوس هم هغه ملائکه چي هاروت و ماروت نو میږي د بابل په ښار کي په خپلو پښو ځړېږي .

(الدر المنثور ص ۱۰۱ ، تفسیر الطبري ج ۱ ص ۳٦٦ ، تفسیر ابن جریر ج ۱ ص ۳٦۷)

نو محترمینو دا ټول خرافات او درواغ دي د بني اسرائیلو نه عقل دا مني نه نقل او نه شرعه دا د بني اسرائیلو درواغ دي چي په ملائکه علیهم السلام باندي يې ویلي دي ملائکه علیهم السلام د الله (ج) هیڅ نافرماني نه کوي هغه کوي چي الله (ج) ورته وایي .

(الاسرائيليات والموضوعات فی کتب التفسير ص ١٦١)
نو صحيح تفسير دا وايي:
چي د رسول الله ﷺ تر رالېږلو مخکي شيطانان آسمانو ته ختل هلته به يې غوږ نيولی وو چي الله (ج) به هر امر ملائکو ته کاوئ دوی به واورېدی بيا به يې دا خبره ساحرانو ته راوړه بيا به ساحرانو نور درواغ هم پسې وتړل تر زمانې د سليمان عليه السلام بيا خلقو سليمان عليه السلام ته د سحر نسبت کاوه چي سليمان عليه السلام چي دا بادشاهي کوي په سحر يې کوي نعوذ بالله بيا نو الله (ج) دا ملائکه راولېږلې چي فرق راسي په مابين کي د سحر او نبوت چي د حضرت سليمان عليه السلام دا نبوة دی سحر نه دی. (الاسرائيليات والموضوعات ص ١٦٥)
د حضرت عمر بن خطاب ؓ څخه روايت دی چي جبرائيل عليه السلام و رسول الله ﷺ ته راغلی بې له خپله وخته بيا يې بيان کړه اوږده قصه په بيان کي د جهنم نو نبي کريم ﷺ وژړل او جبرئيل عليه السلام هم وژړل بيا يو غيبي اواز ورته وسو تاسو مه بېرېږئ الله (ج) تاسو ساتلي ياست د نافرماني د الله (ج) څخه. (الدر المنثور ج١ ص ١٠٢، ١٠٣)
دا قصه هم د اسرائيلياتو څخه ده. و انه من الاسرائيليات التی دست فی الرواية الاسلامية. (الاسرائيليات والموضوعات ص ١٦٨)
و اذ يرفع ابراهيم القواعد من البيت و اسماعيل ربنا تقبل منا انک انت السميع العلم.
د عبد الله بن عمرو بن العاص څخه روايت دی چي الله (ج) آدم عليه السلام د جنته را کښته کئ نو الله (ج) ورته وويل چي زه له تا سره بيت الله کښته کوم چي ته به پر هغه طواف کوې لکه څرنګه چي دي پر عرش طواف کاوئ او لمونځ به ورته کوې لکه څنګه چي دي و عرش ته کاوئ چي زمانه

د طوفان د نوح علیه السلام راغله نو بیت الله پورته سوه او د انبیاؤ څخه پټه سوه ورکه سوه او دوی نه وو خبر په ځای د بیت الله تر څو چي الله (ج) علم ورکړی ابراهیم علیه السلام ته او خبر یې کئ په ځای د بیت الله نو ابراهیم علیه السلام جوړه کړه د پنځو غرو: اول حراء، دوم ثبیر، دریم لبنان، څلورم جبل الطور، پنځم جبل خمر او په بل رویات کي راځي چي آدم علیه السلام الله (ج) له جنته را کښته کړی نو پښې یې پر ځمکه وې او سر یې پر آسمان وو نو آدم علیه السلام واورېدې خبري د اهل سماء او دعاوي د دوی نو آدم علیه السلام رجوع وکړه و دوی ته نو ملائکو و الله (ج) ته شکایت وکړی او زاری یې وکړې نو بیا الله (ج) یاقوت را ولېږل له یاقوتو د جنت نو بیت الله ځني جوړه سوه بیا چي طوفان راغلی نو دا یاقوت یې پورته کړو بیا الله (ج) ابراهیم علیه السلام را ولېږئ هغه جوړه کړه نو محترمو! دا ټول خرافات او اسرائیلیات دي اخبار د بني اسرائیلو دئ.

(الدر المنثور ج۱/ ۱۰۳/ الدر المنثور ج۱/ ص ۱۲۵ تر ۱۳۷// تفسیر ابن جریر ج ۱ ص ۴۲۸ او ۴۲۹/ تفسیر ابن کثیر البغوي ج ۱/ ص ۳۱٦/ المنار فتح الباري ج ٦/ ص ۳۱۵/ البدایة والنهایة ج ۱/ ص ۱٦۳: ج ۲/ ص ۲۹۹) او دا ټول په الاسرائیلیات والموضوعات ص/ ۱٦۸/ ۱٦۹.



الاسرائيليات فى قصة التابوت:

ذکر کې ده ډېرو مفسرینو په شان د تابوت کي چي تابوت د شمشاد د لرګي جوړ سوی وو درې ګزه په دوه ګزه کي. دا د آدم علیه السلام سره تر څو چي مړ سو بیا د شیث علیه السلام سره وو. بیا په میراث کي ابراهیم علیه السلام ته را ورسېدی بیا د اسماعیل علیه السلام سره وو بیا د یعقوب علیه السلام سره وو تر څو چي موسی علیه السلام ته را ورسېدی

موسى عليه السلام تورات او د ده خپل سامان كي كنبيښنودى چي موسى عليه السلام مړ سو بيا په بني اسرائيلو كي انبياؤ لاس پر لاس كئ تر وخت د شمويل عليه السلام او بعضو مفسرينو ويلي دي چي تابوت په بني اسرائيلو كي وو د آدم عليه السلام سره نه وو . دا حق خبره ده . چي په قرآن شريف كي راغلي ده او سكينه ده علي ابن ابي طالب وايي چي دا باد تېز وو دو ه يې سره وو او مخ يې لكه مخ د انسان او مجاهد وايي حيوان وو لكه پشي دوه وزره يې وو لكى يې وه او د ستركو داسي شعلې يې وې چي لښكر ته به يې وكتل هغه به يې مات كړ او وهب بن منبه وايي چي سر يې د پشي وو چي ناره به يې كړه لكه ناره د پشي د دوى به يقيني سو په نصرت سره دا ټول خرافات او درواغ د بني اسرائيلو دي په صحابه وو پسي، صحيح خبره چي سكينه اطمينان د زړه ته وايي نه پشي وه نه بل شى وو .
(الاسرائيليات و الموضوعات فى كتاب التفسير ص ١٧٠، ١٧١)

په ځينو تفاسيرو كي واقعه د طالوت او داود عليهما السلام چي طالوت و داؤد عليه السلام ته وويل چي كه تا جالوت مړ كړى نو بيا به زه تا ته لور دركړم او په بادشاهي دي راګډ كړم نو حضرت داؤد عليه السلام را روان وو يوار يوې ډبري پسي نارې كړې يا داؤد عليه السلام ما در سره واخله زه ډبره د هارون عليه السلام يم چي په ما يې فلانى باچا مړ كړو دا يې په مچلوزغه كي واچوله بيا بلي ډبري پر ناره كړه چي اې داؤد عليه السلام ما درسره واخله زه هغه ډبره يم چي موسى عليه السلام په ما سره فلانى باچا مړ كړى دا يې هم په مچلوزغه كي واچوله بيا بلي ډبري پسي نارې كړې چي ما درسره واخله زه هغه ډبره يم چي ته به په ماسره جالوت وژني دا درې سره ډبري يې را واخيستې را روان سو چي د جالوت لښكر ته را ورسېدى نو طالوت خپله زغره خپل آس خپله سلاح و داؤد عليه السلام ته

ورکړه نو داؤد علیه السلام ورته وویل دې ته زه ضرورت نلرم نو جالوت زغره اغوستې وه او پر سر یې خول وو درې سوه کیلو وزن یې وو او مقابلې ته راووتی نو داؤد علیه السلام ور مخ ته سو او ډبري یې په سچلوزغه کي واچولې او جالوت یې په وویشتی پر دا سر یې وویشتی مړ یې کړی .

نو بیا طالوت و داؤد علیه السلام ته لور ورکړه او نعمتونه یې ورکړو بیا طالوت قصد وکړ چي داؤد علیه السلام مړ کړي بیا د داؤد علیه السلام ښځي داؤد علیه السلام خبر کړی بیا داؤد علیه السلام وتښتېدی و صحرا ته ولاړی بیا یووخت طالوت ولیدی نو داؤد علیه السلام و یو غار ته ننوتی او غنې تال پر جوړ کړ آخیر طالوت دې ته متوجه سو چي توبه وکاږي بیا راغلی یوې ښځي ته د هغې ښځي اسم اعظم زده وو بیا یې طالوت ته وویل چي و قبر د شمویل ته راځه هلته یې قبر د شمویل ته وروستی شمویل د خپله قبره راووت ورته ویل یې چي ستا توبه قبلیږي په دې شرط چي ځان او زوی دواړه جهاد فی سبیل الله ته ولاړ سئ تر څو چي قتل سئ نو چي طالوت قتل سو نو قاتل د طالوت راغلی پر داؤد علیه السلام ی زېری وکړئ بیا نو د بنو اسرائیل بادشاهي او خزانې تولي و داؤد علیه السلام ته تسلیم کړو نو دا د اسرائیلیاتو څخه ده یو چا ته چي الله (ج) ولایت او نبوت ورکړي له هغه سره دا افعال نه ښایي . (تفسیر ابن کثیر والبغوي ج ۱ / ص ٦٠۴ ، ٦٠٨) (الاسرائیلیات والموضوعات فی کتب التفسیر ص ۱۷۴ ، ۱۷۷)



قصة آدم

حضرت جریرؒ وایي چي حضرت آدم علیه السلام چي الله (ج) پیدا کړ او جنت ته یې داخل کړ نو ورته ویل یې چي له دغه درختي څخه به ته او ستا ښځه خوراک نه کوي او دا داسي درختي وې چي ښاخلې یې یو تر بله تیري

وې بيا شيطان په نس د مار ننوتی چي د دا مار ځلور پښې وې لکه د اوښ نو کوم وخت چي دا مار په جنت ننوتی ابليس عليه اللعنة ځني را ووتی نو يې يو څه مېوه يا يو بل جز د هغې درختي چي الله (ج) ځني منعه کړی وو را واخيستې او حواء انا ته راغلی ورته ويل يې چي ته يې بوی کړه څنګه ښه بوی يې ځي او څنګه ښه خوند يې دئ نو حواء انا خوراک ځني وکړی او آدم عليه السلام هم خوراک ځني وکړ بيا آدم عليه السلام په يوه درخته ننوتی الله (ج) ورته وويل چي چيري يې آدم عليه السلام ورته وويل په دا درخته کي يم الله (ج) ورته وويل چي را ووزه هغه ځمکه لا ملعونه ده چي ته ځني پيدا سوی يې او حواء ته الله (ج) وويل چي ته به حامله کيږې او حمل به دي په مجبوري وي او پيدايش د کوچني به دي داسي سخت وي لکه مرګ او مار ته يې وويل چي پښې دي په نس ننوزه او خوراک دي خاوري سه . دا ټول اسرائيليات او اکاذيب د بني اسرائيلو دي .

(تفسير ابن جرير ج ١ / ص ٢٨٦، ٧٨١، الدر المنثور ج١/ ص ٥٣، الاسرائيليات والموضوعات ص ١٧٨، ١٧٩)

و من الاسرائيليات:

له حضرت عمر بن خطاب رض څخه روايت ده چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي حضرت آدم عليه السلام چي ګناه کوله يعني وکړه چي د غنم دانه يې وخوړله نو سر يې و آسمان ته پورته کړی ويل يې يا الله په حق او حرمت د محمد ﷺ ما ته مغفرت وکړه الله (ج) ورته وويل چي ته محمد ﷺ څه پېژنې هغه خو ما نه دی پيدا کړی حضرت آدم عليه السلام ورته وويل چي تازه پيدا کړم نو ما سر و آسمان ته پورته کړو ما وليدل چي پر عرش ليکلي وو لا اله الا الله محمد رسول الله نو ما ته معلومه سوه چي ته نه نزدې کوې و خپل نامه ته مګر د هغه چا نوم چي پر تا ډېر ګران وي نو الله (ج)

ورتـه وویـل چي یا آدم که محمد ﷺ نه وای ته مي نه پیدا کولې . نو دا هم د اسرائیلیاتو څخه ده .

(الاسرائیلیات والموضوعات ص ۱۷۹، ۱۸۰، الدر المنثور ج ۱/ ص ۵۸)

د حضرت آدم علیه السلام زوی قابیل چي هابیل یې شهید کړی نو بیا قابیل پر څمکه لعنت ووایه او بیا یې د ده بدن یو کال په شا گرزاوه تر څو چي بوی یې و کړی ده ته نه معلومېده چي څه به و کړم بیا الله (ج) دوه مرغان را ولېږل یوه هغه بل مړ کړی بیا یې کډی ورته و کینې ښخ یې کړی نو بیا قابل را ولاړ سو هابیل یې ښخ کړی په بل روایت کي راځي چي قابیل کوم وخت هابیل شهید کړی مخ یې تور سو بیا آدم علیه السلام پوښتنه څیني و کړه ده ورتـه وویـل چي ما خپل ورور مړ کړی آدم علیه السلام ورته وویل له دغه وجهي دي مخ تور دی او صورت دي تور دی دا هم د اسرائیلیاتو څخه ده . (الاسرائیلیات والموضوعات ص ۱۸۲، تفسیر ابن جریر، الدر المنثور ج ۱ ص ۱۷۰)

او بل د اسرائیلیاتو څخه هغه قصه ده چي قابیل کوم وخت هابیل شهید کړی نو حضرت آدم علیه السلام سل کاله نه دي خندلي بیا پر حضرت آدم علیه السلام د بل زوی زېری وسو چي زوی دي پیدا سو نو حضرت آدم علیه السلام وخندل او شعرونه یې وویل .

او له ابن عباس ؓ څخه روایت سوی ده چي قابیل هابیل شهید کړی نو حضرت آدم علیه السلام بیتونه وویل .

محترمو! دا ټول اسرائیلیات دي .

(الاسرائیلیات والموضوعات ص ص ۱۸۲، ۱۸۳، الدر المنثور ص ۲۷٦، ۲۷۷، میزان الاعتدال ج:۱: ص ۷۳، تفسیر الکشاف ج ۱/ ص ۴۳۱)



اسرائیلیات په غټ والي کې د جبابره قوم:

لـه حـضرت ابن عباسؓ څخه روایت سوی ده چې موسی علیه السلام امر وکړ چې داخـل سـي ښـار د جبابره وو ته نو دوی ولاړو چې نزدې سو و ښار د جبابـر وو تـه چې اربحاء نومېدی نو دوولس کسان یې ور ولېږل چې حال د جبابر وو را وړي دا خلق چې ورغلو د دوی غټ والی یې ولیدی نو یو باغ ته ننـوتـل هغه د باغ مالک د دوی پلونه د پښو ولیدل پسي ورغلی نو دوی یې ونیـول او لستـوڼي ته یې واچول او بادشاه مشر د دوی ته یې یو وړ د بادشاه پـه مـخ کـې یې وغورځول بادشاه ورته وویل پرې یې ږدئ چې هغه نورو ته زمـوږ د قـوت او طاقت او غټوالي حال یوسي هغه به وبېرېږي نه به راځي نو دوی راغـلـو دا حـال یې مـوسی عـلیـه السلام ته راوړی موسی علیه السلام ورتـه وویـل چې حـال مـه وایاست نو دوو کسانو حال پټ کړ هغه نورو حال ووایه دا قصـه د اسرائیلیاتو څخه ده .

او بـعـض مـفـسـریـن د عـوج بن عنو ق بیان کوي چې اوږدوالی یې درې زره گزه وو ماهي به یې ونیوی و لمر ته به یې کباب کړ د نو ح علیه السلام د طـوفـان او بـه د ده تـر زنـکـنـو وې او پـه بـل روایت کې راځي چې حضرت مـوسی علیه السلام چې خپل قاصدان ور ولېږل نو عوج په پټو کې واچول پـه شـا یـې کـور تـه یـووړو و خپلي ښځي ته یې وویل یو وارپر وخېژم هغې ورتـه وویـل پـرې یـې ږده چې هـغـه نـورو تـه حـال یـوسي هغه به وبېرېږي دا تولي قصې د اسرائیلیاتو څخه دي .

(تـفـسـیـر ابن جـریـر ج ٦ : ص ١١٢، الـدر المـنثـور ج ١: ص ٢٧٠ ، تـفـسـیـر ابن کـثـیـر ج ٢: ص ١١٥، الاسرائیلیات والموضوعات ص ١٨٤ بیا تر ١٨٧)



اسرائیلیات په قصه کي د التیه د میدان:

روایت کړی ده جریر په سند سره د ربیع څخه چي حضرت موسی علیه السلام ښرا وکړه و بنو اسرائیلو ته نو الله (ج) وحي وکړه و موسی علیه السلام ته چي دا د بیت المقدس ځمکه پر دوی حرامه ده څلوېښت کاله دوی دلته تعداد شپږ لکه کسان جنګیان وو دوی به قصد وکړو چي له سرای څخه ووځي تر سهار به روان وو سهار چي به یې وکتل په هغه ځای کي به وو بیا دوی شکایت وکړو و موسی علیه السلام ته بیا موسی علیه السلام دعا ورته وکړه بیا الله (ج) و دوی ته (من و سلویٰ) ورکړه بیا ورته وویل چي موږ تږي سوو بیا موسی علیه السلام سوال دعا وکړه بیا د کوه طور څخه ډبره راغله بیا موسی علیه السلام په لکړه دا ډبره ووهله دوولس چینې ځیني راوغورځېدې او الله (ج) و دوی ته جامې ورکړې چي نه زړېدې او نه خرابېدې او د دوی تعداد شپږ لکه کسان وو او څوک وایي چي دا ډبره د جنته راغلې وه د ځمکي ډبره نه وه او څوک وایي چي پر شکل د سر د انسان وه او څوک وایي چي په شکل د سر د پسه وه او اوږدوالی یې لس ګزه وو او دوې ښاخلې یې درلودې چي خلق به یې تر سایه لاندي بیدېدل دا تعداد د بني اسرائیلو او بیان د ډبري دا ټول اسرائیلیات دي د دوی تعداد دغو نه وو او دا ډبره مطلق ډبره وه .

(مقدمه ابن خلدون ص ۷، ۹) (الاسرائیلیات والموضوعات ص ۱۸۸، ۱۸۹)



اسرائیلیات په نزول کي د مائدې:

د عمار بن یاسر څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي نازل سو پر بني اسرائیلو باندي ډوډۍ او غوښه او و دوی ته یې امر وکړو چي نه به خیانت کوئ او نه به یې ساتئ د بلې ورځي لپاره نو دوی خیانت شروع

کړ او ساتل يې د سهار لپاره نو الله (ج) له دوی څخه بيزوګيان او خنزيران جوړ کړه د دوی بدنونه خراب او مسخ سوه او په بل روايت کې راځي چې بني اسرائيلو سوال وکړی و موسی عليه السلام ته چې زموږ لپاره د الله (ج) څخه رزق وغواړه بيا دوی شکونه او نسبت د دروغو نعوذبالله و موسی عليه السلام ته کاوه دا هم ټولې قصې اسرائيليات دي ولې چې دوی يواړې سوال کاوه بيا يې نو شکونه او نسبتونه د دروغو ولې کول .

(تفسير ابن کثير والبغوي ج ۳ ، ص ۲۷۴ ، والالوسی ج ۷، ص ٦٣،، والقرطبي ج ٦، ص ٣٦٩،، الاسرائيليات والموضوعات ص ۱۹۴، ۱۹۵)



اسرائيليات په سوال کې د موسیٰ عليه السلام د الله(ج) د ديدار

ذکر کړی ده الثعلبي والبغوي چې کوم وخت سوال وکړ موسی عليه السلام د الله څخه د ديدار او ليدل د الله (ج) ورته راولېږل تاريکي تنا او برېښنا که موسی عليه السلام پر هغه غره له هره طرفه څخه راوګرزېدی الله (ج) امر وکړ ملائکو د آسمانو ته چې عارضي سي پر موسی عليه السلام د اول آسمان ملائکه راغلې د دنيا د آسمان په شکل د غويانو العياذ بالله داسې تسبيح يې ويلې لکه اواز د سختې تنا حضرت موسی عليه السلام وبېرېدی بيا امر وکړ الله (ج) د دويم آسمان ملائکو ته چې پر ور شوه سئ هغه راشوه سوې په تور شکل کې هغو هم په ډېر زور د الله (ج) تسبيح ويلې بيا وبېرېدی موسی عليه السلام د ټول بدن ويښتان يې جګ جګ ودرېدل حضرت جبريل عليه السلام ورته وويل چې صبر کوه يا موسی کليم الله دا لږ دي نور ډېر راروان دي بيا يې د دريم آسمان ملائکو ته امر وکړ چې ور شوه سئ هغه هم راشوه سوې سخت اوازونه يې وو او رنګونه

يې داسې وو لكه د اور شغلې . موسى عليه وبېرېدى سخت وبېرېدى او د ژونده نااميده سو جبرئيل عليه السلام ورته وويل چې پر خپل ځاى ودرېږه هغه شيان به لا وويني چي ته به صبر نسي كولاى بيا يې د څلورم آسمان ملائكو ته امر وكړ چي پر ور كښته سئ هغه چي را كښته سوې داسې شكلونه يې وو چي هغه تيري سوي ملائيكو سره يې هيڅ مشابهت نه وو رنګونه يې لكه د اور شغلې او داسې هټ غټ صوتونه يې كول په تسبيحو سره . حضرت موسى عليه وبېرېدى بدن يې حركت شروع كړ ژړا يې زياته سوه حضرت جبرئيل عليه السلام ورته ويل صبر كوه دا لږ دي بيا الله (ج) امر وكړ د پنځم آسمان و ملائكو ته چي پر ور كښته سئ هغه را كښته سوې اووه رنګه يې وو د حضرت موسى عليه السلام قدرت نه وو چي ورته وګوري او نه يې مثل د دوى ليدلى وو او نه يې د دوى په مثل اوازونه اورېدلي وو نس د بېري ډک سو غم يې ډېر سو ژړا يې زياته سوه حضرت جبرئيل عليه السلام ورته وويل پر خپل ځاى قرار سه هغه شيان به ووينې چي ته به يې د صبر طاقت نلرې بيا يې د شپږم آسمان ملائيكي را ولېږلې هغه را كښته سوې د هري يوې په لاس كي دونه اور وو لكه د خرما درخته روښني يې زياته وه تر روښني د لمر او جامې يې داسې وې لكه د اور لمبې يا شغلې هغو ملائكو چي په زوره تسبيح شروع كړې هغه د نورو آسمانو ملائيكي هم ورته راغلې موسى عليه السلام هم تسبيح ورسره شروع كړې او ژړل يې حضرت جبرئيل عليه السلام ورته وويل چي صبر كوه د هغه لپاره چي تا غوښتل بيا الله (ج) امر وكړ داووم آسمان ملائيكو ته چي عرش واخلي دسره چي كوم وخت د عرش نور ښكاره سو غر په حركت كي سو او ملائيكو اوازونه پورته كړل ويل يې سبحان الملك القدوس رب العزة ابدا لا يموت په سخت اوازو سره په حركت كي سو غر او پايمال سوي

درختي موسى عليه السلام بې هوښه سو او روح ځني ولاړى بيا الله (ج) په خپل رحمت سره روح ورته راولېږى بيا موسى عليه السلام توبه وكښه .

نو محترمو! دا ټول اسرائيليات دي او دروغ د بني اسرائيلو دي .
(التفسير البغوي على هامش تفسير ابن كثير ج ۳/ ص ۵۴۷، ۵۵۰، الاسرائيليات والموضوعات ص ۱۹۹، ۲۰۰)



اسرائيليات په تختو د تورات كي

و كتبناه له فى الالواح (الاية)

ويلي دي ابن عباسؓ چې مراد د تختو څخه تختې د تورات دي او په حديث كي راغلي دي چې تختې د تورات له تختو د جنته وې او اوږدوالى يې دوولس گزه وو او په حديث كي راغلي دي چې آدم عليه السلام الله (ج) په خپل لاس پيدا كړ او تورات يې په خپل لاس نويشته كړ او درخته د طوبىٰ يې په خپل لاس ولگوله او حسن ويلي دي چې تختې د لرگو وې او كلبي ويلي دي د زبرجدو شنو څخه وې او سعيد بن جبير ويلي دي د سرو ياقوتو وې او ربيع ويلي دي چې الواح د چادره وې او ربيع بن انس ويلي دي چې تورات اويا باره د اوښ وو معنى تورات دونه غټ وو چې پر اويا اوښانو به يې بار كړى وو . دا ټول اسرائيليات د ښو اسرائيلو دي چې نسبت يې و معصوم ﷺ ته كړى دى .

وتفصيلا لكل شئ(الاية):

او تورات مشتمل وو پر ټولو هغو شيانو چې سوي دي او كيږي او كعب ويلي دي چې نه ده يوه لوښت ځمكه چې هر څه را باسي يا يې شنه كوي تر ورځي د قيامته دا ټول نويشته دي په تورات كي . دا اسرائيليات

دي . اصل مراد د آيت شريف چي (و تفصيلا لكل شيئ) حلال او حرام روا او ناروا دي ولي په قرآن كريم كي داسي بيانونه او احكام راغلي دي چي په تورات كي نه وو .
(تفسير الوسی ص ۵۷، ج ۷) (الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۰۱، ۲۰۲)



اسرائيليات په سبب كي د غضب

د موسى عليه السلام چي تختې يې وغورزولې:

له قتادةؒ څخه روايت سوی دی چي موسى عليه السلام په تورات كي وكتل نو يې وويل چي يا الله چي ما په تختو د تورات كي وليدل چي يو امت به وي چي امر به په ښو كارو كوي او خلك به د بدو كارو څخه راګرزوي آيا دا زما امت دئ الله (ج) ورته وويل نه، دا امت د محمد ﷺ ده بيا يې وويل چي يا الله (ج) ما وليدل په تختو كي چي آخير به وي په پيدايش كي او اول به وي په داخليدو كي و جنت ته آيا دا زما امت دئ الله (ج) ورته وويل نه دا امت د محمد ﷺ ده . بيا يې وويل چي يا الله ما وليدل او ما پيدا كړو په تختو د تورات كي چي دا نورو امتو به كِتاب وايو او يادېدو يې نه دا امت ب كتاب وايي او يادېږي به يې يا الله دا زما امت دئ ؟ الله (ج) ورته ويل چي نه دا امت د عليه الصلوة و السلام مبارك ده او بيا وويل چي يا الله ما پيدا كړو په تختو د تورات كي چي يو امت دئ چي پر اول كتاب به هم ايمان لري او پر آخيري كتاب به هم ايمان لري او جنګونه به كوي له ګمرهانو سره حتى چي دوی به جنګ كوي له دجال درواغن سره آيا دا زما امت دئ ؟ الله (ج) ورته وويل چي نه دا امت د عليه السلام مبارك دئ او ما وليدل په تورات كي چي دا امت به صدقه او خيرات په خپله خوري او ثواب به هم الله (ج) وركوي نورو امتو به صدقه كښېښوده چي قبوله به وه له آسمانه به اور راغلى

پورته به یې کړه او چې قبوله به نه وه دالته به پاته سوه آیا دا زما امت دئ ؟ الله (ج) ورته وویل چې نه دا امت د علیه الصلوة والسلام مبارک دئ بیا وویل چې یا الله (ج) ما ولیدل په تورات کې چې یو امت دی چې قصد د نېکي وکوي او نېکي نه وکړي هم ده ته ثواب ورکوي او که یې نېکي وکړه دا ویا نېکیو ثواب ورکوي آیا دا زما امت دئ ؟ الله (ج) ورته وویل چې نه دا امت د علیه الصلوة والسلام مبارک دئ بیا وویل چې یا الله (ج) ما ولیدل په تختو کي د تورات چې یو امت دی، چې هم یې شفاعت قبلیږي او هم به د دوی لپاره شفاعت کیږي یا الله (ا) دا زما امت دئ ؟ الله (ج) ورته وویل چې نه دا امت د علیه الصلوة والسلام مبارک دئ .

قتادهؒ وایئ چې موسی نبی الله ﷺ تختې وغورزولې او ویل یې چې یا الله ما امتي د محمد ﷺ وګرزوه .

محترمینو ! دا ټول اسرائیلیات دي حقیقت خبره دا ده چې موسی علیه السلام د خپل امت بې امري او د غوایي عبادت ولیدی نو تختې یې کښېښودلې پر خپل امت غمجن سو . (تفسیر ابن کثیر والبغوي ج ۲، ص ۷۵۵،، تفسیر قرطبي ج ۷، ص ۲۸۸،، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲۰۴ بیا تر ۲۰۵)



اسرائیلیات و خرافات په بني اسرائیلو کي:

ذکر کړي دي بغوي په تفسیر کي د دې قول د الله (ج) (و من قوم موسی امة یهدون بالحق و به یعدلون) (الآیة)

چې بني اسرائیل چې دوی قتل کړه انبیاء علیهم السلام دوی دوولس فرقې وو نو یوې پارټۍ یعني یوې فریقې توبه وکښله او سوال یې وکړ چې یا الله زموږ او د دوی په مابین کي جلا والی را وله بیا دوی ولاړو و طرفته د

چينې هلته يې زموږ د قبلې پر طرف عبادت كاوه .

او بغوي وايي چې يو قوم وو تر شا د چينې په پاى كې د شرق پر لويه واله چې جاري وه په ريګ كې او جبرئيل عليه السلام چې په شپه د معراج رسول ﷺ د الله و حضورته وروړى نو پر دا قوم ورغلو دوى د رسول الله ﷺ سره خبري كولې جبرئيل عليه السلام ورته وويل تا سو يې پيژنئ دا څوک دئ چې تا سو خبري ورسره كوئ دوى ورته وويل چې نه يې پيژنو جبرئيل عليه السلام ورته وويل چې دا محمد ﷺ دئ دوى ورته وويل چې يا محمدً حضرت موسى عليه السلام و موږ ته وويل كه تاسو محمدً وليدى زما له طرفه سلام ورباندي واياست محمد ﷺ جواب د سلام ورکړ بيا يې لس سورة د قرآن كريم ورته وويل چې په مكه كې نازل سو بيا يې دوى امر په لمانځه او روژه او زكوة كړو بيا يې ورته وويل چې دالته په خپل ځاى كې استقامت وكړئ او ستاسو هفته ختم سوه اوس به د جمعې د ورځې تعظيم كوئ هفته به پرېږدئ . نو دا ټول خرافات د بني اسرائيلو دي .

صحيح تفسير دا دى چې دا قوم وو چې الله (ج) و دوى ته هدايت كړى ؤ دا قوم تر زمانې د محمد ﷺ را ورسېدو چې عبد الله بن سلام پر رسول الله ﷺ ايمان راوړي سره د ملګرو .

(تفسير ابن كثير والبغوي ج ٣ / ص ٢٧٢، ص ٢٧٣،، تفسير الوسى ج ٩ / ص ٨٤، ٨٥،، الاسرائيليات والموضوعات ص ٢٠٦، ٢٠٧)



الاسرائيليات فى نسبة الشرک الى آدم و حواء

د سمرة بن جندب څخه روايت سوى ده چې د حواء زوى پيدا سو هغه ته شيطان راغلى مړ يې كړي بيا به يې بلزوى پيدا سو هغه هم مړ سو بيا شيطا نورته راغلى چې زه يو شى در وبنيم كه تاسو هغه كار وكړئ ستاسو

زوى بـه ژونـدى پـاتـه سـي تـاسـو چـي زوى پـيـدا سـي نـوم عبـد الحـارث پـر كښېږدئ دوى چـي زوى پـيـدا سـو نـوم يې عبـد الحـارث پـر كښېښـود نـو ځكه الله (ج) فـرمـايي و جعلا لـه شركا، دا د اسرائيلياتو څخه ده تفسير صحيح دا دئ چـي الله (ج) فـرمـايي چـي ستـاسـو چـي زوى پـيـدا سـي نـو تـاسـو يې يـا يهـودي كـړئ يـا نـصـراني نـو الله (ج) فـرمايي چي ستاسو زوى پيداسي تاسو يې د خداى (ج) سره دښمن كړئ هغه نو مشرک سي . (تفسير قرطبي ج ۷ ص ۳۳۸، تـفـسـيـر آلـوسـي ج ۹ ص ۱۲۹، تـفـسـيـر الـقـرطـبـي ج ۷، ص ۳۳۸، اسرائيليات والموضوعات ص ۲۱۰، ۲۱۱)



اسرائيليات په كښتۍ كي د نوح عليه السلام:

د ابـن عـبـاسؓ څـخـه روايت دى چي حواريون حضرت عيسى ابن مريم ته وويـل چـي يـو سـړى را حـاضـر كـړه چي د نوح عليه السلام د كښتۍ حال را كـړي نـو عـيـسـى عـلـيـه الـسـلام دوى راوستـل يو كوټه د خاوري ته نو يو موټ خـاوره عـيـسـى عـلـيـه الـسـلام ځـيـنـي را واخيستـه عيسى عليه السلام ورته وويـل چـي دا قـبـر پـېـژنـې دا د چا دئ دوى ورتـه وويل الله او رسول په خبر دي عيـسـى عـلـيـه الـسـلام ورتـه وويـل چـي دا قـبـر د حـام بن نوح دئ حضرت عيـسـى عـلـيـه السلام دا غونډۍ د خاورو په لكړه ووهله ويل يې ولاړ سه په اذن د خداى (ج) هغه را ولاړ سو خاوري يې له سره او ږيري څخه صفا كولې . دى سپـيـن ږيرى سوى وو نو حضرت عيسى عليه السلام ورته وويل چي ته داغـسـي سپين ږيرى مړ سوى وې ده ورتـه وويل چي زه ځوان مړ سوم چي د قبـر دربـى ما واورېدى نو زما دا خيال سو چي قيامت سوى ده ډېري بېري او وهـم مـي ږيـره او سـر سـپـيـن سـو . بيـا دوى ورتـه وويـل چي د نوح عليـه الـسـلام د كـښـتـۍ حال راكه ده ورته وويل چي اوږدوالى يې دوولس سوه گزه

وو او ساره يې شپږ. سوه ګزره وو درې طبقې وې په يوه طبقه کې حيوانان وو او په په بلـه طبقه کې انسانان وو او په بل چت کې مرغان وو چې کوم وخت ډېر سو مرداري د حيوانانو نو الله (ج) امر وکړو نوح عليه السلام ته چې ور وپېچه لکۍ د فيل، نوح عليه السلام چې لکۍ د فيل ور وپېچله نو يو خنزير او بلـه خنزيره څني پيدا سو هغو مخ را وګرزاوه پر مرداريو، مرداري يې وخوړله بيا موږک راغلی کښتۍ يې خرابه وله سرۍ کوله يې نو نوح عليه السلام ته الله (ج) وويل چې زمری پر تندي ووه له هغه څخه پيشو پيدا سوه موږک يې وخوړ . دا ټول اسرائيليات دي .

(تفسير ابن جرير للطبري ص ۲۲، ۲۹ ج ۱۲،، الدر المنثور ص ۳۲۷، ج ۳،، الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۱٦، ۲۱۷)



اسرائيليات په قصه کې او ليدلو کې د يوسف عليه السلام

روايت سوى دى ابن عباسؓ څخه، سوال وسو له قصد د يوسف عليه السلام حضرت ابن عباسؓ ورته وويل چې پرتوګ يې خلاص کړی او کښېنستی پر ځای د خائن پر ده ناره وسوه چې اې يوسف مه کوه لکه مرغه چې زنا وکړي بنې يې توى سي او وخېژي داسي روايت د حضرت علیؓ څخه سويدى او روايست سوى دى په ليدو کې د حضرت يوسف عليه السلام چې قصد د بدکاري يې وکئ حضرت يعقوب عليه السلام يې وليدى چې ګوته يې په غاښ نيولې وه نو حضرت يعقوب عليه السلام يوسف عليه السلام وواهه چې شهوت يې د ګوتو تر سرو ووتی بيا د حضرت يعقوب عليه السلام د هغه نورو زامنو د هر يوه دوولس زامن وو د يوسف عليه السلام يو زوى کم سو يوولس زامن يې پيدا سوه دا د اسرائيلياتو څخه دي .

(تفسير ابن کثير للبغوي ج ۴ / ص ۴۱۴ ،، ميزان الاعتدال ج ۱، ص ۲٦۸ ،، اسرائيليات

والموضوعات ص ۲۲۰)



اسرائيليات په قصد د يوسف عليه السلام كي:

د جبار بن عبد الله ؓ څخه روايت دی چي يو يهودي و رسول الله ﷺ ته راغلی چي يا رسول الله ؐ ته ما خبر كړه هغه ستوری چي و يوسف عليه السلام ته يې سجده وكړه د هغو ستورو نومان څه وه ؟ رسول الله ﷺ ساكت سو پته خوله سو جبرئيل عليه السلام راغلی رسول الله ﷺ ته يې نومان ور وښوده رسول الله ﷺ هغه يهودي را طلب كړ ورته يې وويل چي نومان در ښيم بيا به ايمان راوړې يهودي ورته وويل صحيح ده رسول الله ﷺ ورته وويل چي يو حرثان وو بل طارق بل ذيال بل ذوالكفتان بل قابس بل دنان بل هودان بل فيلق بل مصبح بل ضروح بل فريخ بل ضياء بل النور وو بيا يهودی وويل زما دي قسم په الله (ج) وي دغه يې نومان وو.

(تفسير ابن جرير ص ۹۰، ۹۱،، الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۱۹)



اسرائيليات په سبب د څنډېدلو د يوسف عليه السلام په بند كي:

حسن بصريؒ ويليٰ دي راغلی جبرئيلؑ و يوسفؑ ته په بندي خانه كي يو يوسفؑ چي وليدی و يې پېژندی يوسف عليه السلام ورته وويل اې وروره د بهرونكو زه تا وينم په مابين د ګناهګارانو كي حضرت جبرئيل عليه السلام ورته وويل اې صفا انسانه اې زويه د صفا خلكو الله رب العلمين پر تا سلام وايئ آيا تا ته حيا نه درځي چي طلب د شفاعت كوې په انسانانو سره زما دي قسم په خپل عزت وي زه به تا وڅنډوم اووه كاله پهجېل كي، حضرت يوسف عليه السلام ورته وويل الله (ج) په داغه له ما راضي كيږي

. جبرئيـل عليـه السلام ورتـه وويل هو . حضرت يوسف عليـه السلام ورتـه وويل چي الله (ج) راضي دى زه هيڅ باک نه کوم .

او کلبي ويلي دي چي دا اووه کاله بې له هغهٔ پنځو کلو وو چي د مخه يې په بند کي تېر کړي وو .

دا محترمينو اسرائيليات دي حق خبره دا ده چي دا بند د الله (ج) امتحانوو نوري قيصې چي مفسرين بيانوي هغه اسرائيليات دي .

(تفسير البغوي ج۴/ ص ۴۴۴، الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۳۰)



اسرائيليات په درخته کي د طوبى:

روايت کړى دى ابن جرير چي طوبى درخته دونه غټه ده چي پر سوارلى سپور سړى چي سل کاله په سايه د دې درختي کي وي پاى ته به نه ورسيږي ښاخلې يې د عنبرو دي او تنه يې د ياقوت ده او خاوري يې د کافرو دي او بوى يې د م شکو دى او بېخ يې د شرابه او عسلو او شيدو ولې يعني بيالې راوزي دا ځاى مجلس جنتيانو دى جنتيان به دالته مجلس کوي ملائکه به ورته راسي سپارلى اوښان د جنتو به ورته راولي چي ځنځيران به يې د سرو زرو وي کجاوې به پر پرتې وي بيا به جنتيان پر سپاره کړي بيايي يې د الله (ج) ديدار ته . دوى به داسي تېز روان وي خو د يوې سوارلۍ غوږ به د هغې بلي سوارلۍ له غوږ سره نه لګيږي او نه به د يوې سنيه د هغې بلي د سينې سره لګيږي او د طوبى له درختي سره به روان وي چي يو له بله سره جلا نسي تر څو چي الله (ج) ته را ورسېږي دا ټول اسرائيليات دي د طوبى په درخته کي، د طوبى درخته خو سته خو دا زيادات د وهب اسرائيليات دي .

(تفسير ابن کثير ، البغوي ج ۴ ص ۴۱۴ ، اسرائيليات والموضوعات ص ۲۲۳)



اسرائيليات په فساد د بني اسرائيلو کي

حضرت جرير روايت کوي چي په بني اسرائيلو کي گناهونه او فسادونه ډېر وه الله (ج) به معافي ورته کوله الله (ج) پر دوی ډېر مهربانه وو او ډېر احسان يې ورسره کاوئ چي د دوی د گناهو په سبب به يو عذاب نازلېدی د حضرت موسی عليه السلام پر زبان به الله (ج) دوی دمخه خبر کړو چي هر باچا به په دوی کي راتلی الله (ج) به يو نبي هم ورسره را ولېږی دې باچا ته به يې لار د هدايت ورښوده دا نبي به د باچا او د الله (ج) په مابين کي يو واسطه وو دوی ته به يې امر کاوه په اتباع د تورات او د احکامو د تورات او دوی به يې منعه کول د گناهونو څخه .

په بني اسرائيلو کي يو باچا راغلی د دې باچا سره الله (ج) شعيأ بن أمعيا را وليږی دا د زکريا عليه السلام تر بعثت دمخه وو دغه نبي شعيأ بن امعيا دوی ته زېربی ورکړ په راتگ د محمدؐ او عيسیٰؑ دغه باچا بادشاهي کوله د بيت المقدس او بني اسرائيلو بل وخت دا باچا ناجوړه سو الله (ج) پر دوی سنجاريب د بابل بادشاه راوليږی له هغه سره شپږ لکه نفر وو هغه د وخت نبي راغلی بادشاه يې خبر کړ بادشاه مريض وو نبي ته يې وويل چي الله (ج) په دې هکله تا ته څه ويلي دي هغه نبي ورته وويل چي هيڅ يې نه دي راته ويلي بيا الله (ج) د هغه نبي د وخت ته وويل چي بادشاه ته ووايه چي وصيت وکړه او خپل خليفه معلوم کړه ته به مرې مړ کېږې نو کوم چي الله (ج) ذکر کړی دی د اولی بأسٍ شديد د هغه تفسير ځيني مفسرين داسي کوي چي هغه دغه باچا وو چي شپږ لکه نفر يې درلودل او پر بيت المقدس يې حمله وکړه نو دا اخبار او قصې د بني اسرائيلو دي، دې ته اسرائيليات ويل کيږي .

(تـفسير ابن جرير ج ۱۵ ، ص ۲۹) الدر المنثور ج ۴ ، ص۱٦۲ ، الاسرائيليات والموضوعات فى كتب التفسير ص ۲۳۵ ، ۲۳٦)



اسرائيليات په قصه كي د اصحابه كهف :

ډېرو مفسرينو بيان كړى دا اصحاب كهفو د دوى له ذاته دوى څوك وه په كومه زمانه كي وه په كوم ځاى كي وه نومان يې څه وو د دوى سپى قطمير نومېدى او كه يې بل نوم وو د سپي به څنګه رنګ وو سور وو ژړ وو څنګه وو ابن ابي حاتم لـه سفيـان روايت كـوي چي يو سړي په كوفه كي ويل چي ما د اصحاب كهفـو سپـى وليدى چي سور سپى وو او كعب احبار وايي چي دا يوه شله وه په فلسطين كي نزدې و ايله ته خو په دغو شيانو كي احتمال د صدق هم سته او احتمال د كذب هم سته ښه خبره دا ده چي سړى احتياط كي وكړي سړى ځان باندي مشغول نه كړي . (الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۴۰)

اسرائيليات په قصه كي د ذى القرنين:

ذكـر كـړى دى ابن جـريـر لـه وَهـب بن منبـه اليمـاني ، دى وايي چي ذوالقـرنـين يـو سړى وو د روم زوى ديـو سپيـن سري وو بـل زوى يـې نـه درلـودى او نـوم يې اسكندر وو ذوالقرنين يې ولي بولي ځكه د ده په سر كي د ژړو دوه ښكـران وو . ډېر صالـح او نېک سړى وو بيا الله (ج) ورتـه وويـل چي اې ذوالقرنين زه تا لېږم و امتو د ځمكي ته چي ژبا سرنه يې سره مختلف دي او تـول اهـل د ځمـكي ته دي لېږم چي په ما بين د ځمكي كي د دوى څخه انسانان او پيريانان او ياجوج او ماجوج دي .

محترمينو ! دابيـان پـه قـرآن كريم كي او په احاديث صحيحه وو كي نستـه دا اسرائيليات دي ذوالقرنين نېک صالح سړى وو الله (ج) رالېږلى وو او الله (ج) باچاهي د مشرق او مغرب ده ته وركړې وه .

(الاسرائیلیات والموضوعات فی کتب التفسیر ص ۲۴۴، ۲۴۵)



اسرائیلیات په قصه کې د یاجوج و ماجوج:

د حذیفهؓ څخه روایت دی چې ما سوال وکړ د رسول الله ﷺ په د یاجوج و ماجوج کې، رسول الله ﷺ وفرمایل یاجوج و ماجوج قومونه دي هر قوم له دوی څلور لکه امت دی تر هغو یو هم نه مړ کیږي چې زر کسان له خپلې ملا څخه و نه وینې د ټولو سره به سلاح وي. حضرت حذیفهؓ ورته وویل رسول الله نو بیان یې وکړه و موږ ته رسول الله ﷺ ورته وویل چې د دوی درې صنفه دي یو قسم په مثال د آزر دی آزر یوه درخته په شام کې اوږدوالی یې یوسل شل گزه دی دا هغه قسم چې نه به ودریږي و دوی ته نه غر نه اوسپینه بل قسم یې داسې قسم دی چې غټ غوږونه یې دي دا یو غوږ چې وغوړوي پر پرېوزي دا بل پر اچوي دوی که پر فیل یا وحشي حیوان یا اوښ یا خنزیر تیریږي هغه وخوري که یو مړ سي له دوی څخه هغه وخوري دا فتنه د شام د طرفه راځي چې دوی به چیښي ولي د مشرق او دریاب د طبریه او ابن عباسؓ فرمایي چې یاجوج و ماجوج یوه لوېښت یا دوې لوېښتې دي اوږدوالی یې دی لویشتې ده او دوی له اولادې د حضرت آدم علیه السلام څخه دي.

او ابن عباسؓ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې په شپه د معراج الله (ج) زه و یاجوج او ماجوج ته ور ولیږلم ما دوی را وبلل وین اسلام ته دوی انکار وکړو دین اسلام یې قبول نه کړو دوی په جهنم کې وي له هغه چا سره چې نافرماني کوي له اولادې د آدم علیه السلام او د شیطان سره

احضرت ابو هریرهؓ فرمای چې یاجوج او ماجوج بندیان دي په یو غره کې دوی دا غر سری کوي چې شعلې د لمر وویني دوی واي در ځئ ولاړ سو

سهار بـه يې سوری کړو انشاء الله نه ووايي دوی چي سهار راسي هغه بيرته ډک سوی وي لکه اول وار آخير دوی انشاء الله ووايي را ووزي بيا دوی خلک پـه عـذابوي او اوبـه تـولـي ځـنـي وچښـي ډېر تکليف جوړ کړي بيا الله (ج) چيـنـجـی پـر مـقـرر کړي پـه غاړو يې ننوزي هلک يې کړي دا ټول موضوعي احـاديـث دي او اسرائيليات دي حاصل دا دی چي اصحاب کهف او ذوالقرنين او يـاجوج و ماجود ذکر په قرآن کي راغلی دی خو دا قصې يې د اسرائيلياتو څخه دي .

(الدرالـمـنثـور ج ۴/ص ۲۵۱، تـفـسيـر ابـن کثـيـر لـلـبغـوی ج ۵/ ۳۳۲، الاسرائـيـلـيـات والموضوعات ص ۲۴٦، ۲۴۷)



اسرائيليات په قصه کي د بلقيس باچا د سبا قوم:

ذکر کـړيـده ابـن جرير او ثعلبي او بغوي او خازن وغيرهم چي سليمان عـلـيـه السـلام چي اراده وکړه چي پـه نکاح کړي بلقيس نو ده ته وويل سو چي پښـې يې داسي دي لـکـه ښـنـکري د خره او پر پښو ويښتان دي نو بيا حضـرت سـليمان عليه السلام امر وکړ چي يو واله جوړه کړي او به پکښي ايـلـه کـړي او پـر سـر يـې ښيښـه ور ولګوي نو دا چي راسي و دا ولې ته نو به پايڅې يـعـنـي پـرتـوګ بـه ور پـورته کړي نو به يې زه ووينم چي پښې يې ښېري دي کـه نـه هغـه چي وليده ډېري ښـايـسـتـه پښې يې وې خو پنډۍ يې ښېري وې بيا يې وويل چي د دې ويښتانو د لري کولو لپاره څه شی په کار دی بيـا انسـانـانـو ورتـه وويـل چـي چـاړه يې ښـه ده بلقيس وويل چي مـا هيـڅـکـلـه چاړه ځـان تـه نـه ده نږدې کـړې حضرت سليمان عليه السلام پر وبېرېدی چي پـنـډۍ بـه ور پـرې کـړي بيـا يـې پيـريانانو ته وويل چي د دې

وینبتـانو د لـري كـولو لپاره كوم شي پكار دئ چې ليري يې كړي هغو ويل موږ نـه يو خبر، بيا يې شيطانانو ته وويل هغو ورته وويل چې نوره يو قسم دوا ده چې وينبتـان ختموي پنډۍ به يې داسې صفا سي لكه سپين صفا زر .

مـحترميـنو! دا ټول اسـرائيـليـات دي د نبي د شانه سره داسي كار كول هيڅ اهميت نلري دا د نبي بې ادبي ده .

(تفسير ابن كثير للبغوي ج ٦ : ص ۲۸٦، ۲۸۹، الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۴۹، ۲۵۰)



اسرائيليات په تحفه كي د بلقيس و سليمان عليه السلام

حـضـرت ابـن عـبـاسؓ څـخـه روايت دی چې مينځي او غلمان يې ورته را وليږل يو قسم لباس يعني جامې يې ور واغوستې چې فرق يې نه كېدی نر او ښځي نـه سره پيژندل كېده او مجاهد وايي چې غلمانو ته يې د نجونو كالي ور واغوستل او نجونو ته يې د هلكانو كالي ور واغوستو .

ابن عباسؓ وايي چې سل خادمان وو او سل خادماني وې او مجاهد او مقاتل وايي چې دوه سوه غلامان وو او دوه سوه مينځي وې او قتادة و سعيد وايي چې تحفه يې خښتي د سرو زور په ورېښمو كي را وليږلې او وهب وايي چې پنځه سوه غلمان وو او پـنځـه سوه ميـنځـي وې و غلمانو يې د مينځو جامې ور اغوستي وې او مينځو ته يې د غلمانو جامې ور اغوستي وې او د غلمانو په لاسو كې باهوكان ور اچولي وو او پـه غوږو يې غوږوالي ور ځړولي وو او پښو تـه يې پايزيبونـه ور اچولي وو او ميـنځـه يې پر كچرانو را وليږلې او غلمان به پر ښځو كچرانو را وليږل او مشك عنبر عود او ډېري تحفې يې ورته

را ولیږلي قصه یې ډېره اوږده ده خو دا ټول اسرائیلیات ذي .
(تفسیر بغوي علی هامش تفسیر ابن کثیر ج ۶/۸۷۸، تفسیر ابن کثیر ج ۶ : ص ۲۸۱، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲۵۱، ۲۵۲)



اسرائیلیات په قصه کي د ذبح د اسحاق علیه السلام

روایت کړی دی ابن جریر او بغوي او صاحب الدر او کعب الاحبار چي ابراهیم علیه السلام چي حلالوي هغه اسحاق علیه السلام وو او روایت عباس بن عبد المطلب له نبي کریم ﷺ څخه چي ذبیح اسحاق علیه السلام وه او ده حضرت ابی سعید الخدريؓ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي سوال وکړ داؤد علیه السلام له رب العزة په یو مسئله کي نو یې وویل چي ما وګرزوه په مثل د ابراهیم او اسحاق او یعقوب علیهم السلام الله (ج) وحي ورته وکړه چي ما امتحان کي ابراهیم علیه السلام په اور سره هغه صبر وکړ او ما امتحان کړ اسحاق علیه السلام په حالېدو هغه صبر وکړ او ما امتحان کړ یعقوب علیه السلام هغه صبر وکړ او له عبد الله ابن مسعودؓ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي ذبیح اسحاق علیه السلام وو دا احادیث هیڅ صحت نلري او نه ثبوت لري او دا اسرائیلیات د اهل کتابو دي . ذبیح په صحیح روایت سره اسماعیل علیه السلام وو .
(تفسیر الوسی ج ۲۳/۱۳۵، تفسیر ابن کثیر ج ۷، ص ۱۵۴، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲۵۴)



اسرائيليات په قصه کې د الياس عليه السلام

لــه حســن رضـ صــاحـب در الـمـنـثـور روايت کړی دی چې الله (ج) اليـاس را وليـږئ و بعـلبک بـاچـا تــه او بـاچـاهـان د بـنـي اسـرائيلو سره جلا جلا وو پر اطـرافـو خـو دغـه بـاچـا چـې اليـاس عـليــه السلام ورسره وو دا پر هدايت وو اقـامـت د ده د امر يې کاوه او اقتداء يې په الياس پسې کوله، راغلو و دې باچا تـه يو قـوم چې عبادت د بتانو يې کاوه ورته ويل يې ته پر ضلالة او گمراهي بـاندې يې د دغـو بتانو عبادت شروع کړه چې دا نور باچهان يې عبادت کوي دوی ښې دنيـاوي لـري او ښـه پـه اسـتـراحـت کې دي او ښـه خوراک او ښـه چيښـاک کـوي . حـضـرت الياس عليه السلام انا لله و انا اليه راجعون ووايه او د سـر او بـدن ويښتـان يې جګ ودرېده خو دغه باچا چې کومه ښځه وه دغه ښـځـه د مـخـه د بـل بـاچـا وه هغـه د کفانيين ښځه وه ډېر ښايسته سړی وو بيا دغـه ښـځـې د هـغـه بـاچـا چې د دې اول ميړه وو پر شکل د زرو او جواهرو بت جوړ کړی وو او پر تخت يې ينبی وو او هر سهار به ورتـه راتـلـه خوشبويي بـه يې ور لګوله او سجده به يې ورته کوله او اويا خادمان يې ورته درولوي وو د دغـه بـت خـدمـت بـه يـې کـاوه خـو بـاچـا ډېر ورتـه قهرېده آخير الياس عليه الـسـلام ښيرا ورتـه وکړه بارانونه پر بند سو او روزي يې کمې سوې او الياس عـليـه الـسـلام تـه الله (ج) د غره په يو څوکه کې د اوبو چينه ورکړې وه او هم يـې د خـوراک شيـان ورکـول بيـا دغـه بـتـان را ويستـل او بـتـانو تـه يې زارۍ کولې چې پر موږ باران وکړې او پسنه يې ورتـه حلال کړه خو آخير دغه باچا ورتـه وويـل چـې ولاړ سـې اليـاس عليـه السلام پيدا کړې د الياس ع خدای ډېر ژر دعـا قبـلـوي بيا راغلو الياس ع ته بيا الياس ع دعـا ورتـه وکړه الله (ج) دستي باران پر شروع کړ بيا دوی تـوبـه وکښله او رجوع يې دين اسلام ته وکړه .

او حـضـرت حسن رضـ وايي چې الياس عـليـه السلام پر صحرا وو مقرر دی ا

و خضر علیه السلام پر غرو مقرر دی او دوی به تر قیامته ژوندي وي او دوی په یو موسم کي سره جمع کیږي او سره یو ځای کیږي .دا اسرائیلیات د بني اسرائیلو دي .

(الدر المنثور ج ٥/ ص ۲۸۰، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲٦٣)



اسرائیلیات په قصه کي د داؤد علیه السلام:

د عکب الاحبار او رسدي څخه روایت سوی ده چي حضرت داؤد علیه السلام یو وخت له خپله ځانه سره فیصله وکړه چي الله (ج) په ما باندي امتحان کړی وای او ما پخل ځان ساتلی وای ډېر به ښه وای نو و د ته وویل سو چي په تا الله (ج) امتحان کوي نو حضرت داؤد علیه السلام زبور ورسره واخیستی و محراب ته ننوتی و خادم ته یې وویل چي هیڅوک مه را پرېږده حضرت داؤد علیه السلام په محرام کي ناست وو دروازه بنده وه خادم ناست وو یو مرغه راغلی د ده په مخ کي په له او ښتی داؤد علیه السلام چي قصد وکړ چي و یې نسي هغه والوتی بیا راغلی بیا چي داؤد علیه السلام قصد وکړ چي را ګیر یې کړي هغه مرغه بیا والوتی حضرت داؤد علیه السلام چي پسي ور پورته سو چي ویې کتل یوه ښایسته ښځه وه په حوض کي غسل د حیض یې کاوه هغې ښځي دستي ځان په خپلو ویښتانو کي پټ کړ حضرت داؤد علیه السلام چي پوښتنه وکړه هغه د یو مجاهد ښځه وه دستي یې لښکر ته حال ور وکړی چي دغه مجاهد چي اوریا نومېدی تابوت په لاس ور کړي و جنګ ته یې ور مخته کړي د هغه تابوت دا عادت وو چي دغه تابوت والا به یا شهید کیدو یا به کامیابه کیدو هغه مجاهد ددغه ښایسته ښځي مېړه چي یې ور مخته کړی هغه شهید سو بیا هغه ښځي ته داؤد علیه السلام مرکه وکړه په نکاح یې کړه .

محترمينو ! دا د نبي معصوم توهين دئ او دا قصه د اسرائيلياتو څخه ده او احادي يې موضوعي دي .
(تفسير البغوي على هامش ابن كثير ج ۷، ص ۱۹۱ ،، تهذيب التهذيب ج ۱۱، ص ۳۰۹ ،، المنار ج ۷، ص ۱۸۹ ،، المرجع السابق ص ۱۹۵ ،، تفسير البغوي ج ۷، ص ۱۹۵ ،، الشفاء بالتعريف بحقوق المصطفى ج ۲/ ص ۱۸۵ ،، الاسرائيليات والموضوعات ص ۲٦۴ بيا تر ۲٦۷)



اسرئيليات په قصه کې د سليمان عليه السلام

ذکر کړی ده ابن جرير و ابن ابى الحاتم او ثعلبي او نورو مفسرينو چې حضرت سليمان عليه السلام يو وخت بيت الخلاء ته ننوتی نو د ده ګوتمۍ چې د باچاهي په کوله هغه يې و خپلي ښځي ته ورکړه چې (جراده) نومېده نو شيطان په شکل د سليمان عليه السلام کې ورته راغلی ورته و يې ويل چې ګوتمۍ راکړه هغې ګوتمۍ ورکړه هغه شيطان راغلی د حضرت سليمان عليه السلام پر تخت کښېنستی انسانانو پيريانانو ټولو و هغه شيطان ته ميلان وکړ حضرت سليمان و خپلي ښځي ته وويل چې ګوتمۍ راکړه هغې ورته وويل چې ته درواغ وايې ته کله سليمان عليه السلام وې هغه شيطان پر تخت کښېنستی او سحر يې شروع کړ خلکو ته يې ويل چې حضرت سليمان عليه السلام بادشاهي چې کوله هغه يې په سحر او جادو کوله بيا دغه شيطان هغه ګوتمۍ ولېږله په درياب کې وغورزوله حضرت سليمان د دغه درياب پر غاړه مزدوري کوله دغه ګوتمۍ يوه ماهي تېره کړه دغه ماهی يوه سړي ونيوی ښکار يې کړی حضرت سليمان عليه السلام ته يې راوړی حضرت سليمان هغه ماهی څني واخيستی کور ته يې راوړی چې نس يې ور څيري کړ هغه ګوتمۍ يې څني راوکښه بيرته خپل تحت ته وختی هغه شيطن وتښتېدی بيا يې ونيوی مړ يې کړی .

محترمینو ! دا ټول اسرائیلیات دي دا د نبي د شان سره مناسب نه دی تفسیر صحیح دا دی چې حضرت سلیمان علیه السّلام ویل نن به ټولو ښځو ته ورځم چې زامن یې پیدا سي ټول به مجاهدین سي . ان شاء الله یې نه وویله هغه ټولي نه سوې حاملې یوه حامله سوه هغې هم سقطه یعني بې مودې کوچنی وزیږاوه .

(الدر المنثور ج ۵/ ص ۳۰۹ ، المرجع السابق ص ۳۱۰ ، تفسیر البغوي علی هامش ابن کثیر ج ۷: ص ۲۰۱ ، الشفاء ج ۲ / ص ۱۶۲ ، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲۷۰ بیا تر ص ۲۷۵ ، آللائی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة ج ۲ : ص ۲۲۱)



اسرائیلیات په قصه کي د ایوب علیه السلام

د ابن عباسؓ څخه روایت دی چې شیطان پورته سوی آسمان ته، ویل یې یا الله ما مسلط که پر ایوب علیه السلام الله (ج) ورته وویل چې زه تا مسلط کوم د ده پر مال او اولاد باندي زه تا نه مسلط کوم د ده پر بدن باندي، شیطان راغلی خپل لښکر یې سره را جمع کړ بعضي یې د ده پر کښتو مسلط کړو د ده کښتونه یې خراب کړو بعضي نور یې د ده پر اوښانو مسلط کړو هغه یې هلاک کړو بعضي نور یې د ده پر غویانو مسلط کړو د ده غوایان یې هلاک کړو بیا د ده اهل اولادونه سره را جمع سوه په یوه کمره کي بادیې پر ار والوتی خونه یې پر ونړوله اولادونه یې هلته هلاک سوه بیا شیطان راغلی وایوب علیه السلام ته ویل یې اې ایوب علیه السلام ستا خدای ته وګوره چې ستا پر کښتو یې دښمن مقرر کړی هغه یې خراب کړي ستا پر مالو یې دښمن مسلط کړ هغه یې هلاک کړو ستا اولاد یې هلاک کړو حضرت ایوب علیه السلام ورته وویل زه نن هم داسي یم لکه کومه ورځ چې د موره پیدا سوم سر یې وخریي ولاړ سو لمونځ یې کاوه شیطان دونه چیغه وکړه چې اهل د آسمانو او ځمکو واوریده بیا شیطان ولاړی و

آسمان ته وختی بیا یې وویل یا الله اوس ما مسلط کړه د ده پر بدن الله (ج) ورته وویل د ده پر بدن دي مسلط کوم خو نه د ده پر زړه او ژبه باندي بیا شیطان راغلی د ده تر پښو لاندي یې ساه پوه کړه چي د ده مبارک بدن له پښو تر سره خراب سو چي بدن یې چینجي وکړو او خراب سو خلقو د کلي پسي واخیستی صحرا ته یې ویستی دی او د ده ښځه چي د حضرت یوسف علیه السلام له خاندانه وه سره پاته سوه بیا د ده ښځه کرزېده فقر یې کاوه آخر یې دوې کوڅې خرڅي کړې بیا حضرت جبرئیل علیه السلام راغلی د ده و ځنګ ته یې څمکه په وزر ووهله هغې څمکي چینه راوغورځوله بیا حضرت ایوب علیه السلام کي ولمبېدی جوړ سو بیا یې ښځه راغله دې نه پېژندو ورته ویل یې وورره دلته زما مریض پرو ت وو هغه څه سو ؟ سپیانو وخوړی که لېوانو یا حیوانانو وخوړی حضرت ایوب علیه السلام ورته وویل چي راسه زه حضرت ایوب علیه السلام یم .

محترمینو! دا قصه ټول سره اسرائیلیات دي دا د بني اسرائیلو دروا غ دي په انبیاؤ پسي ، چینجي کول یا بدن خرابېدل یا برص یا جذام مرض وهل دا عیب دی په نبي کي ، انبیاء علیهم السلام د عیبونو پاک دي .

(الدر المنثور ج ۵ / ۳۱۵ ، تفسیر البغوي علی هامش ابن کثیر ج ۵/ ص ۵۰۹ ، تفسیر الآلوسی ج ۲۳/ ص ۲۰۸ ، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲۷۵ الی ۲۸۲)



اسرائیلیات په قصه کي د 'ارم ذات العماد"

قوله تعالی : ارم ذات العماد التی لم یخلق مثلها فی البلاد (الآیة)

روایت کړی ده بعضي مفسرینو لکه الطبري والثعلبي والزمخشري چي ارم ښار دی دوی ذکر کړی دی په بناء د دې ښار کي او په ښایست د دې ښار کي چي هغه له قبیلې د خیال دی او دوی روایت کړی دی چي دعاد دوه

زامن وو یو شداد نومېدی بل شدید دوی دواړه باچهان و بیا شدید مړ سو او شداد د دنیا باچا سو بای يې وا وریدل چې داسي جنت دی داسي نعمتونه دي نو يې وویل چې زکه به داسي جنت جوړوم بیا يې دا جنت جوړ کړ چې خښتي يې د سرو او سپینو زرو وې، د ده عمر نهه سوه کاله وو او په درې سوه کاله کې يې جوړ کړو بیا دی ورته راروان وو دیوې شپې او ورځې مزل پاته وو هلته پر ده یو عذاب نازل سو دی يې مړ کړو او د ده لښکر هم ورسره هلاک سو .

روایت کړی ده وهب بن منبه له عبد الله بن قلابة چې عبد الله بن قلابة ولاړی په طلب کې د اوښ نو دی داخل سو د ارم ښار ته ده را بار کړه هغه چې د ده قدرت وو دا خبره معاویه ته ورسېده هغه دی را وغوښتی نو ده قصه ورته وکړه بیا يې دا ابن قلابة و کعب الاحبار ته ولېږی هغه ورته وویل چې پر دوی به یو مسلمان مقرر سي چې سور ګردی سړی به وي چې په تندي کې به يې خال وي .

محترمینو! دا هم موضوعات او اسرائیلیات دي . هغه خبر صحیح ده چې بیان يې په قرآن شریف کې سوی ده چې غټ قوي خلګ وو خاوندان د غټو غټو مکانو وو .

(الدر المنثور ج ٦ ص ٣٤٧، تفسیر ابن کثیر ج ٨، ص ١٩٦، الاسرائیلیات والموضوعات فی کتب التفسیر ص ٢٨٢، ٢٨٤)



اسرائیلیات په عمر کې د دنیا

ذکر کړی ده بعض مفسرینو چې د دنیا عمر اووه زره کاله دی معنی يې دا ده چې دنیا پیدا سوې ده اووه زره کاله يې کیږي او دوی دا خبره مرفوع ګرزوي و نبي کریم ﷺ ته او دا ابن جوزي موضوع ګرزولې ده په خپل

كتاب كي او دا خبره چي د دنيا اووه زره كاله كيږي او رسول الله ﷺ مبارك چي شپږ زره كاله پوره سوه په آخر كي رسول الله ﷺ راولېږل سو .

دا ټول اقوال موقوف تر ابن عباسؓ دي او امام سيوطي صحيح ورته ويلي دي خو دا ټول اسرائيليات دي او موضوعات دي د دنيا عمر معلوم نه دى په لكونو كلونه يې كيږي .

(نهافت الفلاسفة للامام الغزالي ص ۵،۴، الاسرائيليات والموضوعات ص ۲۸۹ ، ۲۹۱)

دابي مامة الباهل څخه روايت سوى دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي پر لمر نهه ملائيكي مسلطي دي هره ورځ يې په وولي كه چيري دغو ملائكو پـه واوره نـه ويشتـاى پـر هـر شـي چي لمر را ختلاى هغـه بـه يې سوځلاى دا حديث ضعيف دى .

لـه عبد الله بـن عـمرؓ څخـه روايت سوى دى چي د رسول الله ﷺ څخه پـوښتنه وسوه چي ځمكه پر څه شي ولاړه ده رسول الله ﷺ ورته وويل چي ځمكه پر اوبو ولاړه ده هغه ورته وويل چي اوبه پر څه شي ولاړي دي رسول الله ﷺ ورتـه وويـل چي پر ډبره ولاړي دي هغه ورته وويل چي ډبره پر څه شي ولاړه ده عـليـه السـلام ورتـه وويـل چي پر شا د ماهي پرته ده هغه ورته وويـل چي ماهي پر څه شي ولاړ دى عليه السلام ورته وويل چي هغه ماهي يـوې ملائيكي نيولى دى چي قدمونه يې په هوا دي الخ داحديث هم ضعيف دى .

لـه ربيـع بـن انـسؓ څخـه روايتْ سوى ده چي اول آسمان د خُك څخه جوړ سوى ده دويم آسمان د ډبري څخه جوړ سوى ده دريم آسمان د اوسپني څخه جوړ سوى ده څلورم آسمان د ژړو څخه جوړ سوى ده پنځم آسمان د سپينو زرو څخـه جوړ سوى ده شپږم آسمان د سرو زرو څخه جوړ سوى ده اووم

آسمـان د یاقوت څخه جوړ سوی ده خـودا حدیث هم نسائی ضعیفه کړی ده .
(مجمع الزوائد الهیثمي ص ۱۳۱ ج ۸) (الاسرائیلیات والموضوعات ص ۲۹۲)



اسرائیلیات په جبل قاف کي

(ق والقرآن المجید) د ابن عباسؓ څخه روایت دی چي الله (ج) یو دریاب پیدا کړ چي هغه دریاب را گرزېدلی وو پر دا ځمکه باندي بیا يې تر شا د هغه دریاب یو غر پیدا کړی چي قاف يې نوم دی آسمان د دنیا پورته سوی دی پر دا غره د قاف بیا الله (ج) کرداگرد پر دا غره یعني تر شا دې غره په مثال د دې ځمکي اووه واره نوره پیدا کړه نو اووه ځمکي سوې اووه دریابه سوه اووه غرونه سوه اووه آسمانونه سوه .

او ابن ابی الدنیا وایي چي الله (ج) یو غر پیدا کړ چي قاف يې نوم دئ دا غر را گرزېدلی دی پر تولي دنیا او ښاخلې يې په هغه ډېره پسي پیوسته دي چي ځمکه پر ولاړه ده نو چي الله (ج) اراده وکړي چي زلزله وسي نو امر کړي دا غر نو دا غر حرکت ورکړي هغه ښاخلې ته چي په هغه قریه یعني کلي پسي پیوسته دي نو هغه پر هغه کلي زلزله وسي نه پر بل کلي . دا حدیثونه او قولونه هیڅ وجود نلري دا اسرائیلیات دي .
(سنن الله الکوننیة ص ۱٦۲، الاسرائیلیات والموضوعات ص ۳۰۲)



اسرائیلیات په تفسیر کي د (ن والقلم):

ډېرو مفسرینو نقل کړی دی چي (ن) نوم د هغه ماهي دی چي ځمکه د هغه پر شا ولاړه ده او ابن عباسؓ څخه روایت سوی دی چي اول چي الله (ج) پیدا کړ هغه قلم دی بیا پورته سو بخار د ځمکي د هغه څخه آسمانونه پیدا سوه بیا يې پیدا کړ ماهی بیا يې ځمکه وغوړوله پر شا د دې ماهي، چي ماهي

به حرکت وکړ دې ځمکې حرکت ورسره کاوه بیا یې غرونه پر پیدا کړو او
ښکاره خبره دا ده چې دا اسرائیلیات دي . (الاسرائیلیات والموضوعات ص ۳۰۵)
امام احمد رضا اور اسرائیلی روایات امام کے نزدیک مردود اسرائیلی روایات قصہ ہاروت ماروت سے لیکر الی نٓ والقلم صفحہ (۹۲)
۲۱روایات اسرائیلی اور موضوع ہیں۔



کتاب الحِکم

﴿په عبادت کولو کي د حکمتو بیان﴾

(۱):سوال :......

څه حکمت دی چې کلمه د لا إِلٰه الا الله محمد رسول الله اوه (۷) کلمې سوې او (۲۴) څلرویشت حرفه سوه؟

جواب :......

ځکه اوه (۷) کلمې سوې چې د جهنم دروازې اوه (۷) دي هر څوک چې هره کلمه ووایي د جهنم د دروزاو له داخلېدو څخه به محفوظ سي . او ویلي دي اهل حکمت والا چې خدای (ج) کلمه ښایسته کړې ده په اوو (۷) کلمو سره لکه قرآن شریف چې یې ښایسته کړی دی په اوو لغاتو سره او سورة الفاتحة یې ښایسته کړی دی په اوو (۷) آیتو سره او علّو یې ښایسته کړی په اوو (۷) آسمانو سره او سفل یې ښایسته کړی په اوو (۷) مځکو سره او دنیا یې ښایسته کړې په اوو (۷) دریابو سره، نو پاکي دي وي هغه خدای (ج) لره چې د اوو (۷) په عدد کي یې داسي خاصیت یښي چې په بل عدد کي داسي خاصیت

نسته ځکه کلمه او ه (۷) کلمات سوه .

او ځکه (۲۴) حرفه سوه چي د حروفو د ورځي او شپې د ساعتو سره موافقت راسي او ساعات هم (۲۴) دي او شپه او ورځ جامع د ټولو عباداتو دی او کلمه خور د لمانځه بلل سوې ده، هغه لمونځ چي موظف په (۲۴) ساعتو کي دی نو له همدې وجهي چي کله خور د لمانځه وبلل سوه علماء دليل نيولی دی په اقامت د لمانځه سره په توحيد د خدای (ج) .

(۲):سوال :......

لم كانت كلمة لا إله إلا الله أفضل الكلمات كما قال رسول الله ﷺ أفضل ما قلت أنا والنبيون من قبلى لا إله إلا الله و لم كانت اثنى عشرة حرفاً۔

جواب :......

قال الشيخ الأكبر والمكبريت الاحمر فى الفتح المكى ما قال كلمة التوحيد أولا من البشر إلا نبى و هو أفضل جنس البشر و أول من أتى بكمال البشر لأنه لا يخبر عن الحق إلا نبى فهو كلام الحق على لسانه فهو اصل الاصول و الاحكام و العبادات رأسها و روحها فارفع الكلمات التى تلقاها آدم من ربه كلمة لا إله إلا الله و هى أربع كلمات نفى و منفى و ايجاب و موجب فالسر التربيعى سارفى۔

(۳):سوال :......

څه حکمت دی چي کلمه د لا إله إلا الله څلور جزء سوه؟

جواب :......

ورځ دوه نصف ده شپه هم دوه نصفه ده نو انصاف څلور سوه کلمه د انصاف سره په عدد کي برابره سوه هر څوک چي په شپه او ورځ کي

ګناهونه کوي د کلمې په ویلو سره به یې ګناهونه معاف سي ځکه إمام سمرقندي فی لباب الأربعین کي ویلي دي چي څوک کلمه د توحید ووایي څلور زره ګناهوي یې معاف کیږي .

"قال بعض العارفین سرا لتربیع فی کلمه لا إله إلا الله "دا دی چي کلمه حاملة عرش العلوم الالهیة والحقائق الرحمانیة لکه ملائکه چي حامله د عرش الرحمن دی، نو د دغه سر تربیعي په خاطر و ګرځاوی خدای (ج) زړه د انسان پر څلورو ارکانو او کعبه او حوض احمدي پر څلورو ارکانو سر تربیعي د کلمې اصل د اصول د کلمې سو ځکه کلمه د توحید څلور کلمې سوه .

☆ **فائده علمیه :** ویلي دي اهل العلم والحکمیه چي د اعداد لپاره خپل خواص سته په اجماع د عقلا سره چي د څلورو عدد لپاره خواص دا دي أفضل د موجوداتو چي انسان دی د څلورو عناصرو څخه مرکب دی او د انسان د افرادو تکمیل هم په څلورو اشیاؤ سره سوی دی چي روح قلب عقل نفس دی او د الله (ج) د اسماء الحسنی په مراتبو کي هم احاطه پر څلورو ده چي اول آخر ظاهر باطن .

(٤): **سوال :......**

څه حکمت دی، خدای (ج) نفي پر اثبات مختته کړې ده په دې آیت کي لا إله إلا الله او په بل آیت کي یې اثبات پر نفي مقدم کړی دی او ویلي یې دي الله لا إله إلا هو؟

جواب :......

بعضي عارفینو ویلي دي ځکه یې نفي پر اثبات مختته کړې چي رد پر

مشـرکینـو راسـي او اثبـات د مـدعـي پـه نـفـي سره یا نفي په اثبات سره ثابتول دا د اسرارو څخه د فصاحت او بلاغت دی او دوهمه وجه د تقدیم د نفـي پـه اثبـات دا ده چـي زړه د مـوحـد فـارغ سي د غیـر څخه او چي زړه فـارغ سـو د غیـر څـخه نو به زړه یوازي خدای (ج) ته فارغ سي او د زړه فـارغ کېدل یـوازي د خـدای (ج) لپـاره دا پـه تـقدیم د نفي سره پر اثبات سره راځي ځکه نفي پر اثبات مخکي سوې .

او پـه دوهـم آیت کي بیا اثبات پر نفي مخته سوی دی په دې آیت کي بیـا نـظـر و حقیقت د توحید نظر سوی دی ځکه موجود مطلق خو خدای (ج) دی او د خـدای (ج) څـخـه مـاسـوا ټول اشیـاء هلاکېدونکي دي إلا وجهـه، نـو د هـمـدې دلیـل په خاطر په دوهم آیت کي اثبات پر نفي مقدم سـو او د کـلمې لپاره خواص دا دي هر چا که پر دې کلمه دوام و کړ خدای (ج) به یې دسؤ خاتمې څخه وساتي او د فـتنې څخه د محیا او ممات په وخت د کنبـلـو د روح کـي و سـاتي او زړه به یې ثابت پر توحید سي او سـکـرات و مـوت بـه وربـانـدي سپک سي او خلاص بـه سي او نـواعـي د علوم الدینه او هوسا به سي عبادت بدني د کلمې په ویلو سره .

(۵): سوال :......

څـه حـکـمـت دی چـي کـلمـه دتوحید مشابه سوه د شجرې طیبې سره پـه قول د خدای (ج) کي : مثل کلمة طیبة کشجرة طیبة ؟

جواب :......

ځـکـه کـلمـه توحید مشابه سوه د شجرې طیبې سره شجره طیبـه دا هغـه درختـه ده چـي د کـومي ختـې څخه آدمؑ پیدا سو د ما بقی ختې څخه دغـه

درختـه پیـدا سوه نو دغه درختـه زمونږ عمه سوه نو دغه درختي پیدا کړ پـر نورو دختو لکه کلمه طیبه چې فوقیت لري پر نورو اذکارو کما فی قـوله علیه الصلاة والسلام: أفضل ما قلت انا و النبیون من قلبی لا إلٰه إلا الله . نـو تشبیـه د أفـضل د أفضل سره دا حکمت الٰهیه دی ځکه کلمه طیبه مشابه سوه د شجرې طیبې سره .

فائده:

د درختـي لپاره رګـونـه او تـنـه او لښتـي او پاڼي وي د کلمې طیبې رګـونـه تصدیق دی او تنه یې اخلاص دی او لښتي یې اعمال دی او پاڼي یـې اقـوال دی هـر هغه چا که دکلمې لأندې ژوندو وکئ هغه کامیاب دی او که یې نه وکئ هغه ناکام دی .

(٦): سوال :......

څـه حـکـمـت دی چې نبی ﷺ د کـلـمې طیبې څخه تعبیر کړی دی په احـادیثـو پـه قـلعـې سـره لکه چې ویلي دي: کلمه لا إلٰه الله حضی فمن دخل حضی امن من عذابی؟

جواب :......

ځـکـه پـه احـادیثو کي د کلمې طیبې څخه تعبیر په قلعه سره سوی دی چې کـلمه طبیـه قلعه أکبر ده . هر چا که په دغه قلعه کي ځان محفوظ کـړی د آخـرت د همېشـه عذاب څخه به محفوظ سي او پـه امان به سي، اهـل او مـال د ویـونـکي د کلمې، د قتل څخه ځکه نبی ﷺ ویلي دي زه امـر سـوی یـم چې قـتـل کـړم انسانان تر داسي وخته چې کلمه ووایي او دوهـم د قلعي لپاره څلور دېواله دي او د کلمې لپاره هم څلور ارکان دي

. صورةً چې هغه څلور کلمې دي او څلور ارکان لري معنیً چې هغه صلوة، زکوة، روژه، حج دی، نو د کلمې مشابهت ثابت سو ځکه يې د کلمې څخه تعبير وکړی په قلعه سره .

(۷):سوال :......

لما ركبت كلمة التوحيد من النفى والاثبات؟

جواب :......

قال اهل التحقيق هى مركبة من جزأين كالمعجون والشراب للمرض للمرضى لهما خواص و تأثير و لا إلٰه إلا الله خاصيتها فى ماسوى الله المحو عما سوى الله تعالى و كلمة الله خاصيتها فى التقوية والتنزيه فكاشف القلوب يقول لا إلٰه إلا الله كاشف الارواح يقول الله و كاشف الاسرار يقول هو لا إلٰه إلا الله قوت القلوب الله قول الارواح هو قوت الاسرار لا له الله مقناطيس القلوب الله مقناطيس الارواح هو مقناطيس الاسرار فلا إلٰه إلا لله نكتة فى الحقيقة ليست بناف و لا مثبت لأن المنفى لا ينفى و الثابت لا يثبت فان المنفى والثابت ثابت فالكلمة أربع كلمات حاصلها كلمة واحدة و هى اثنا عشر حرفا حاصلها أربع أحرف فالأربعة هى كلمة تركيب قولك الله و إلا الله اثبات محض و توحيد صدق من غير نفى و جحد و انما جاء ت كلمة لا إلٰه إلا الله نافية تنفى ما سوى الله تقدس و تعالى و تكنس غبار الاغيار عن وجوه الاسرار لصلح أن تكون عرشا لتجلى الله تعالى عليها و حلا لنظر الحق إليها كما ورد فى الخبر القدسى يا داود طهر لى بيتا أسكنه لم يسعنى أرضى و لا سمائى و وسعنى قلب عبدى المؤمن ۔

﴿نـكتة حكمية﴾... ما دمت ملوثا بالنظر إلى ما سواه فلا بد لك من نفى لا إلٰه و ما دمت تعتمد على رياستى العلم والجاه فلا بد لك من لا إلٰه فاذا غبت عن الكل اسرحت من نفى لا و وصلت باثبات الاقل الله ثم ذرهم متى تتخلص من ذكر من لم يكن و تشتغل بذكر من لم يزل تقول الله فتستريج مما سوى الله تعالى و كلمة الله أربع أحرف حاصلها ثلاثة أحرف ألف و لا و هاء فالالف اشارة إلى قيام الحق بذاته و انفراده عن مصنوعاته فان الالف لا تعلق له بغيره والحق تعالى لا تعلق له بغيره و اللام اشارة إلى انه مالك جميع المخلوقات و الهاء اشارة إلى أنه هادى من فى السموات و الأرض الله نور السموات و الأرض -(الآية)

(۸):سوال :...... لم لم تكن كلمة لا إلٰه إلا الله آية مستقلة من القرآن الكريم كانت جزأ من الآية فى قوله فاعلم انه لا إلٰه إلا الله؟

جواب :......

اشـــــارة سبحانه و تعالى إلى مراتب العلم فى التوحيد بقوله فاعلم أى بعلم اليقين أنه لا إلٰه بعين اليقين إلا الله بحق اليقين فاذا تجلى الله بصفة علمه للعبد الذاكر المستغرق بذكره الكثير فى الحالات كلها يعنى ظلمة جهولية بنور علمه فيعلم بعلم الله علم اليقين و عين اليقين و حق اليقين ان لا موجود إلا الله و انما لم تكن آية مستقلة ليكن العبد ذاكرا فى جميع الحالات و المواطن ليندرج تحت الذاكرين الله كثيرا والذاكرات قياما و قعودا فى حالة الوضوء والحدث و كان رسول الله ﷺ يذكر الله على كل حال كما ورد عنه ﷺ و قرنت كلمة التوحيد بالعلم فى قوله فاعلم اشارة إلى حقيقة العلم و مراتبه فى التوحيد أى إذا علمت يا

محمد عاقبة الامر من سعادة الموحدين و شقاوة الكافرين فاثبت على العلم و تحقق به بتوحيد اللّٰه تعالى و اثبت أيضا و دم على قول لا إلٰه إلا اللّٰه لدعوة الخلق إلى اللّٰه۔

(۹):.سوال: ......څه حکمت دی چې بسم الله الرحمن الرحيم (۱۹) حرفه سوه او اذان (۱۹) کلمې سو؟

جواب: ......

خدای (ج) پر جهنم (۱۹) ملائکه موظفي کړي دي د بسم الله الرحمن الرحيم د هر حرف په برکت سره به د جهنم موظفه ملائکه پر ده مسلطه نه سي او همدغه رقم د آذان په هره کلمه سره به د جهنم ملائکه پر ده مسلطه نسي . او إمام غزاليؒ په شرح جنة الاسماء کي ذکر کړي دي چې خزنة د جهنم (۱۹) هر عدد د حروف د آيت رحمت دی چې هغه (۱۹) حروف دي او خدای (ج) دغه آيت د رحمت سبب ګرځولی دی د د اخلېدو د جنت او پرده يې ګرځولې ده د عذاب څخه د جهنم نو ځکه بسم الله الرحمن الرحيم او اذان (۱۹) حرفه او کلمې سوو .

(۱۰):.سوال: ......څه حکمت دی چې خزنة دنيران (۱۹) سوی؟

جواب: ......

ځکه چې اسماء القهر و السطوه و الجلال (۱۹) دي چې هر نوم د خدای (ج) د قهر ليکل سوی دی په مخ د ملائکي چې خزنة د جهنم دي او هغه اسماء د قهر د خدای (ج) دا دي:

الملک العظيم الجبار المتکبر المهيمن القهار العلى الکبير المتعال القادر المقتدر الحکم العلى الحسيب الحکيم الخبير العزيز

المذل المنتقم .او دا خبره إمام غزالیؒ په ''جنة الاسماء'' کي هم ذکر کړې ده .

(۱۱):۔**سوال :**......

(من خواتم الحکم) هغه کوم آیت دی چي پر مخ د مځکي پر ژبه د نبي ﷺ اولا نازل سوی دی؟

جواب :......

کامل محقق په فی لباب شمس المعارف کي لیکلي دي : چي اول آیت بسم الله الرحمن الرحیم پر آدمؑ نازل سو بیا آدمؑ وویل چي زما اولاده د جهنم د اوره وساته ربه، تر څو چي بسم الله الرحمن الرحیم د مځکي پر مخ وي . بیا دغه آیت پر ابراهیمؑ نازل سو په منجنیق کي، بیا ابراهیمؑ ددغه آیت په برکت د اور څخه محفوظ سو، بیا دغه آیت پر موسیٰؑ نازل سو: ﴿فقهر بها فرعون و جنوده﴾ بیا دغه آیت پر نبيؑ نازل سو په سورة نمل کي : ﴿إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ﴾ بیا نبيؑ مامور سو په دې چي دغه آیت دي مکتوب وي په سر د سورتو کي او په سر د رسائلو کي او الله رب العزت قسم اخلي چي مومن بنده په هر مشروع کار بسم الله ووایي هغه به مبارک وي .

(۱۲):۔**سوال :**...... ما الحکمة فی ترك البسملة فی سورة براء ة؟

جواب :......

السر والحکمة فی ذلك ما ذکره الشیخ الأکبر والمسك الاذفر فی الفتوحات المکیة حیث قال اعلموا ان بسملة سورة براء ة هی التی فی سورة النمل فان الحق تعالی إذا وهب شیئا لم یرجع فیه و لا یرده إلی

العدم فلما حرجت سورة براء ة و هى البسملة حكم التبرى من أهلها برفع الرحـمة الاختـصـاصية عـنهم فوقب الملك بها لا يدرى أين يضعها لأن كل أمة مـن الامـم السـالـفة قـد اخـذت رحمتها بايمانها فقال تعالى اعطوا هذه البسـمـلة لـلبهائم التى آمنت بسليمان عليه السلام و هى لا يلزمها ايمان إلا برسـولها فـلـمـا عـرفـت قـدر سـليـمـان عـليه السلام و آمنت به أعطيت من الرحـمة الأنسانية خـطـأ و هـى بسم الله الرحمن الرحيم الذى سلب من الـمشـر كيـن فـلـمـا وسعت رحمة الرحمانية كل شيئ أقيمت الباء فى براء ة لأنها أول حروف آية الرحمة۔

والامان لأن كل شيئ من الوجود الكونى لا يخلو من رحمة الله عامة أو خاصة۔

(١٣): سوال :......

څـه حکمت دی د الله (ج) چي د خپل کتاب شروع يې په حرف الباء وکړه او حرف الباء يې مختاره کړه پر نورو حروفو . لا سيما على الالف؟

جواب :......

محقق نجم الكبروى په تفسير عين الحياة كي ذكر كړي دي چي خداى (ج) د كتاب شروع په باء سره وكړه ديو څو وجوهو له وجهي ، هغه دا دي:

اولـه وجـه دا ده چـي پـه الف كي ترفعا تكبر او تطاول دى او په باء كي انكسار ،تواضع او تساقط دى : فمن تواضع لله رفعه الله .

او دوهـمـه وجـه دا ده چي باء مخصوصه تر الصاق ده په خلاف د اكثر حروفو ، خاصكر الف څكه الف د حروف القطع څخه دى .

او دريـمـه وجه دا ده چي باء مكسوره وي ابداً نو هر كله چي په باء كي كسر او انكسار راغلى نو دې ته شرافت عند الله حاصل سو .

او ځلورمه وجه دا ده چي باء حرف عامل او متصرفه په غير كي ده .
او پنځمه وجه دا ده چي الف حرف علت دى په خلاف د باء .
نو چي هر كله حرف باء مخصوصه په دغه معانى سره سوه نو د حكمتِ الٰهيه تقاضا دا سوه چي دا مختاره كړي تر نورو حروفو او درجه يې تر نورو حروفو بالا كړي نو ځكه خداى (ج) حرف باء په سر د كتاب كي راوړه .

(١٤): **سوال** :......

ولي مسمىٰ سوره فاتحه په فاتحة الكتاب او په ام القرآن سره؟

جواب :......

ځكه په فاتحې سره انفتا ح د ابواب د خزائن راځي او د كتاب الله اسرار په دې سره ښكاره كيږي او انكشاف د جميع الاقرآن په فاتحه سره راځي او څوک چي د سورة فاتحې په معنيٰ سره پوه سي قلفونه د متشابهاتو په خلاصيږي .
او بعضي علماؤ ويلي دي چي ځكه مسمىٰ سوه په سورة فاتحه سره چي په دې سره د قرآن كريم او لمانځه شروع كيږي او بعضي علماؤ ويلي دي چي اول سورت چي د آسمان نازل سو او وليكل سو په لوح محفوظ كي هغه سورة فاتحه وه او مسمىٰ په ام القرآن سره ځكه سوه چي مقصود الاعظم په قرآن كي ځلور امور دي : اقرار بالالوهية و النبوة و اثبات القضاء و القدر لله تعالى .
فقوله الحمد لله رب العٰالمين الرحمن الرحيم دلالت كوي په الوهية او دا قول چي مالک يوم الدين دا دلالت كوي پر معاد او دا قول چي اياک

نعبد و ایاک نستعین دا دلالت کوي پر نفي د جبر و القدر او دلالت کوي پر اثبات د کل بقضاء الله تعالی .

او بعضي علماؤ ویلي دي چي ځکه مسمیٰ سوه په ام القرآن سره، ځکه ام په معنی د تقدم سره راځي او فاتحه هم مقدمه ده تر ټول قرآن لکه ویل کېده په عربو کي چي رایة الحرب ام لتقدمها علی الجیش .

(۱۵):.سوال :......

څه حکمت دی چي سورة البقرة اعظم د سور سو، سوا د سورة فاتحې؟

جواب :......

إمام سیوطیؒ په ''الاتقان فی علوم القرآن'' کي ویلي دي چي سورة البقرة کي بیان د احکام، بیان د امثال، بیان د دلائلو سوی دی او په نورو سورتونو کي بیان د ټولو نه دی سوی، او ابن العربی په احکام القرآن کي ویلي دي چي ما د بعضو مشائخو څخه اورېدلي دي چي په سورة البقره کي ۱۰۰۰ امر، او ۱۰۰۰ نهيٰ ۱۰۰۰ احکام ۱۰۰۰ اخبار بیان سنوي دي، ددې وجهي ابن عمرؓ ۸ کاله تعلیم د سورة البقرة کړی دی .

(۱٦):.سوال :......

څه حکمت دی چي آیت الکرسی اعظم د آیاتو سوه او مسمی سوه بسیدة القرآن سره؟

جواب :......

آیة الکرسی ځکه اعظم د آیاتو سوه چي د آیة الکرسی مقتضاء اعظمه ده او د شي معرفت د شي په مقتضاء سره کیږي او په آیة الکرسی کي ۵۰ حرفه د خدای (ج) د توحید تقاضا کوي او سورة الاخلاص ۱۵ حرفه د

خدای (ج) د تـوحیـد تـقاضا کوي او ویلي دي صاحب د اتقان چي په آیة الکرسی کي د الله نوم ۱۷ واره
ښکاره او پټ ذکر سوی دی او تفصیل د هغو ۱۷ ځایو دا دی:
''الله هـو الحی القیـوم''، او ضمیر د'' لاتأخذه'' دی او ضمیر د ''له'' دی و ضـمیـر د ''عـنـده'' دی او ضـمیـر د ''بـاذنـه'' دی او ''یـعـلـم'' او ''علمه و شاء و کرسیه و یؤده'' او ضمیر د ''حفظهما'' چي مستتر دی او ''و هو العلی العظیم'' دی .
او مسمیٰ سوه په سیدة الآیات ځکه چي آیة الکرسی مشتمله په ذات د خدای (ج) او په صفاتو د خدای (ج) او په افعالو د خدای (ج) ده فقط . نو هر کله چي آیة الکرسی مشتمله پر دغه مقاصدو معظمو سوه نو دا مستحقه د سیادت سوه ځکه مسمیٰ سوه په سیدة الآیات سره .

(۱۷): سوال :......
څه حکمت دی چي معنی د سورة الاخلاص د ثلث القرآن سره برابره ده؟
جواب :......
امورِ مهمه په قرآن کي ۳ شیان دي (۱) معرفت د توحید د خدای (ج) (۲) معرفت د ضراط المستقیم (۳) معرفت د آخرت او سورة الاخلاص په دغو درو کي پر اول چي معرفت د توحید دی مشتمل دی په هغه نورو دوو نه دی مشتمل ځکه د ثلث القرآن سره برابر دی .
او بعضي علماؤ ویلي دي چي قرآن په قصو او شرائع او صفاتو مشتمل دی او سورة الاخلاص یوازي په صفاتو مشتمل دی ځکه معنی د سورة الاخلاص د ثلث القرآن سره برابره ده .

(۱۸):سوال :......
څه حکمت دی چي سورة الزلزلة د نصف القرآن سره برابر دی؟
جواب :......
إمام السيوطى فى الاتقان فى علوم القرآن كي ويلي دي چي احكام د قرآن تقسيم سوي دي و احكام د دنيا او و احكام د آخرت ته، او دغه سورة يوازي په احكام د آخرت مشتمل دی ځکه د نصف القرآن سره برابر دی .
(۱۹):سوال :......
څه حکمت دی چي سورة الهٰكم د ۱۰۰۰ آيتو سره د قرآن برابر دی؟
جواب :......
قرآن كريم ۶۲۰۰ آياته دي چي كله ۲۰۰ آياته متروک کړې پاته ۶۰۰ سوه او ۱۰۰۰ آياته شپږمه د قرآن سوه او قرآن پر شپږو مقاصدو مشتمل دی، يو مقصد په هغو شپږو كي مقصد د آخرت دی او دغه سورت په مقصد د آخرت مشتمل دی ځکه دغه سورة د ۱۰۰۰ آيتو سره د قرآن كريم برابر سو .
۲):سوال :...... څه حکمت دی چي ټول علوم په باء د بسم الله كي دي؟
جواب :......
إمام سيوطى فى اتقان فى علوم القرآن كي ذكر كړي دي چي الله (ج) علوم الاولين و الآخرين ټول په څلورو كتابو كي سره را جمعه كړي دي او د څلورو كتابو علوم يې په قرآن كريم كي سره را جمع كړي دي او علوم د قرآن كريم يې په سورة الفاتحة كي سره را جمعه كړي دي او علوم د فاتحې يې په بسم الله كي سره را جمعه كړي دي او علوم د بسم

الله يې په باء كې سره راجمعه كړي دي او مقصد د كلي د ټولو علومو وصول د عبد دی و رب جل جلالـه تـه، او د باء معنی هم الصاق ده چي بنده ملصق په خپل رب پوري سي نو ځكه علوم ټول په باء د بسم الله كي سره را جمع سول .

(۲۱):.سوال :......

په قرآن كي كوم آيت تر ټولو آيتو اعظم دی او كوم آيت تر ټولو آيتو اعدل دی او كوم آيت تر ټولو آيتو اخوف دی؟

جواب :......

عبد الله ابن مسعودؓ وايي چي ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چي تر ټولو آيتو اعظم آيت آية الكرسی دی او تر ټولو آيتو اعدل دغه آيت دی چي : ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ ﴾ ، او تر ټولو آيتو اخوف دغه آيت دی: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ ـ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرّاً يَرَهُ ﴾ (الآية)

(۲۲):.سوال :......

كوم آيت په آيتو كي د قرآن واهل ايمان ته محبوب دی او كوم آيت په آيتو كي د قرآن پر اهل النيران اشد دی؟

جواب :......

له علي ابن الحسينؒ څخه روايت دی چي آيت پر اهل النار دغه آيت دی چي : ﴿فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَاباً ﴾او محبوب و اهل التوحيد ته دغه آيت دی : ﴿ أن الله لا يغفر ان يُشْرِكُ به ﴾ (الآية) او د ابن عباسؓ څخه روايت دی چي ارخص آيت په آياتو كي د قرآن دغه آيت دی چي : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا﴾ (الآية) ، او په صحيح البخاری كي

راغلي دي چي اشد پر اهل النار دغه آيت دی : ﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَى شَيْءٍ﴾ (الآية) محترمو ورونو ته زه د خپلي رأيې په تائيد کي چي دلته د قرآن د آيتو بعضي د بعضي نسبت د فضيلت و اهل ايمان ته سوی ده نه و نفس قرآن ته، نو لهذا د قرآن يو پر بل فضيلت نسته بلکه فضيلت يې و اهل ايمان ته دی تاسو کتلی سئ کتاب الحکم (ص۲۰) ما خپله رأيه په ۳۷ حکمت ذکر کړې ده .

(۲۳):.**سوال :**......

کوم سورة په سور د قرآن کريم کي د عجائبو څخه د قرآن دی؟

جواب :......

إمام سيوطی فی اتقان فی علوم القرآن کي ذکر کړي دي چي په سور کي د قرآن سورة الحج د عجائبو څخه دقرآن دی ځکه په دغه سورة کي مکي، مدني، حضري، سفري، ليلي، ، نهاري، حربي، مسلمي، ناسخ منسوخ ذکر سوي دي ځکه د عجائبو څخه د قرآن دغه سورة سو .

(۲٤):.**سوال :**......

کوم آيت په آيتو کي د قرآن د عجائبو څخه دقرآن کريم دی؟

جواب :...... عجيبه آيت په آياتو کي د قرآن دغه آيت دی: ﴿ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ ﴾ ځکه دغه آيت مشتمل دی پر ذکر د حاسد او محسود او پر ذکر د مالک او مملوک او پر ذکر د شاهد او مشهود او پر ذکر د عاشق او معشوق او پر ذکر د حبس او اطلاق او په ذکر د سجن او خلاص او پر ذکر د خصب او جدب او غيرهامن الصنائع الدينه چي عاجز کرځي د بيانولو څخه طاقت د بشر .

(٢٥):سوال :......
څه حکمت دی چي سورة يٰس زړه د قرآن وبلل سو؟
جواب :......
ځکه سورة يٰس زړه د قرآن وبلل سو چي د ايمان د صحت لپاره اقرار په حشر او نشر شرط دی او په دغه سورة کي ذکر د حشر او نشر سوی دی او بعض علماؤ ويلي دي چي ځکه مسمی سو په قلب القرآن سره ځکه په دغه سورة کي ذکر د اصولو ثلاثه دی چي توحيد رسالت حشر او ددغه دري اصولو تعلق د زړه سره دی چي مسمی سو سورة يٰس په قلب القرآن سره .
(٢٦):سوال :......
په قرآن کريم کي کوم سورة غټ دی او کوم سرة کوچنی دی او په قرآن کي کوم آيت غټ دی او کوم آيتٔ کوچنی دی؟
جواب :......
په قرآن کريم کي غټ سورة ''البقرة'' دی او کوچنی سورة ''الکوثر'' دی او غټ آيت ''آية الدين'' دی او کوچنی آيت ''والضحی'' ''والفجر'' دی .
(٢٧):سوال :......
هغه کوم ځای دی چي دوي '' ح'' بلا حائل په قرآن کي راغلي دي او هغه کوم ځای دی چي دوه '' غ'' په يوه ځای کي راغلي دي او هغه کوم ځای دی چي حرف الکاف ٢٣ واره په يوه آيت کي راغلی دی؟
جواب :......
په قرآن کي چي دوي '' ح'' بلا حائل په په يوه ځای کي راغلي هغه

دغه آيت دی: ﴿ عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ ﴾ (الآية) او هغه چي دوه ''غ'' راغلي دي دغه آيت
دی: ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلَامِ﴾ او هغه چي ۲۳ واره حرف الكاف كي راغلی دی هغه آية الدين دی .

(۲۸): سوال: ......

څه معنی او تاويل دی د حكمت په دغه آيت كي: ﴿ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْراً كَثِيراً ﴾

جواب: ......

إمام سيوطي فی اتقان علوم القرآن كي ذكر كړي دي چي د حكمت معنی د قرآن كريم ناسخ او منسوخ محكم او متشابهه، مقدم او مؤخر، حلال او حرام پېژندل دي، او حضرت ابی الدرداءؓ د حكمت ترجمه په قرأت القرآن والتفكر فيه من وعده و عيده و امره و نهيه و اعرابه و غرائبه سره كړې ده .

(۲۹): سوال: ......

څه حكمت دی چي الله (جل جلالہ) په قرآن كي قسم اخلي دغه قسم كه د مومن لپاره وي مومن خو په مجرد اخبار سره هم تصديق كوي او كه د كافر لپاره وي هغه كافر په قسم سره هم تصديق نه كوي؟

جواب: ......

قرآن په لغت عربي نازل سوی دی او عرب چي كله تاكيد د يو امر كوي قسم اخلي ځكه الله جل جلاله په قرآن كي قسم اخلي او بوالقاسم القشيري بيا ويلي دي چي

قسـم د الله (ج) د جـانـب کـمـال حـجـت دی ځکه حکم په دوو شئین سره بیـانیـږي پـه شهـادت یـا په قسم سره او الله (ج) دواړه په قرآن ذکر کړي دي چې مشرکینو لره حجت نسي پاته او ا الله (ج) ویلي دي: ﴿ شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُوا الْعِلْمِ ﴾ او دغـه رقـم الله (ج) په خپل نـفـس سره پـه ۷ ځـایـو کي قسم اخیستی دی او په غیر سره یې هم قسم اخیستی دی .

(۳۰):سوال :......

څه حکمت دی چې الله (ج) په مخلوق سره قسم اخلي او ویلي یې دي چې "والتین والشمس" او غیر یې منع کړي دي د مخلوق د قسم څخه؟

جواب :......

إمـام سیـوطيؒ ویـلـي دي چې دلته حذف د مضـاف دی ای رب التین و رب الشـمـس او دو هـمـه وجـه دا ده چـې عـرب دغـه اشیـاء معظم بولي او قسـم پـرا اخـلي نو قرآن هم نازل سو پر هغه اشیاؤ چې عرب یې پیژني او دریـمـه وجـه دا ده چـې قسـم پـه هـغـه اشیـاؤ اخیستل کیږي چې تر ده مـعـظـم وي نـو تـر خدای فوق شی نسته ځکه الله (ج) کله قسم په خپل ځان اخلي او کله قسم په مصنوعاتو اخلي .

(۳۱):سوال :......

دا څـه وجـه ده چـې شروع د سورة الفاتحة یې پـه الحمد لله رب العالمین سره وکړه یعـنـي پـه ابـلـغ د صـفـاتو او دسورة الأنعام او کهف او سبأ او فاطر یې نه وکړه؟

جواب :......

ځکه يې شروع د سورة الفاتحة په ابلغ د صفاتو وکړه چې سورة الفاتحة مورد قرآن ده او کلي د قرآن ده .

(۳۲):سوال :......

دا څه وجه ده چې د سورة الاسراء شروع يې په تسبيح وکړه او د سورة کهف شروع يې په تحميد وکړه؟

جواب :......

تسبيح هر ځای تر حمد له مخه راځي لکه الله تعالی چې وايي : سبح بحمد ربک، او همدارنګه ويل کيږي سبحان الله والحمد لله .

(۳۳):سوال :......

څه حکمت دی چې شروع د سورة بقرة يې په الم سره وکړه او د سورة الفاتحة يې په حرف ظاهر محکم يعني الحمد وکړه؟

جواب :......

حکمت دا دی چې هر کله يې شروع د سورة الفاتحة په حرف الظاهر سره وکړه چې مفهوم يې هر چا ته معلوم دی نو شروع يې وکړه د سورة البقرة په مقابل چې حرف متشابه دی مفهوم يې هر چا ته نه دی معلوم . ددې دپاره چې د الله جل جلاله مراتب معلوم سي عقلاؤ ته او حکماؤ ته چې عاجزه کړي دوی .

(۳٤):سوال :......

څه حکمت دی چې اوه (۷) سورتونه يې په ''حم'' نامداره ګرځولي دي ؟

جواب :......

ځکه يې دا وه (۷) سورتونه په ''حم'' نامداره ګرځولي دي چې د دوی په

مابين كي تشاكل دى هغه دا دى چي د ټولو شروع په كتاب يا په صفت كتاب سوې ده .

(٣٥):۔سوال :......

څه حكمت دى چي الله تعالى مثالونه بيان كړي دي په قرآن كي لكه الله وايي په قرآن كي : ﴿وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ﴾ (الآية)

جواب :......

إمام سيوطيؒ فرمايي: چي لوى علم له علومو د قرآن علم د امثالو دى او خلک د دې څخه غافل دي .

(٣٦):۔سوال :......

د دې څه معنى ده چي الفاتحه مورد د قرآن ده او څه حكمت او سِر دى چي فاتحه يعني سورة الفاتحة جامعة العلوم القرآن ده؟

جواب :......

ابن العربي په لباب القانون كي فرمايي چي علوم القرآن درې دي توحيد تذكير احكام په سورة الفاتحة كي درې سره دي ځكه ام القرآن او جامعة العلوم القرآن ورته وايي .

(٣٧):۔سوال :......

آيا تفضيل د بعض قرآن پر بعض جائز دى كنه؟

جواب :......

إمام سيوطيؒ په اتقان كي فرمايي چي په دې كي اختلاف د علماء دى إمام ابو الحسن اشعري او بعضو إمامانو د علم تګ كړى دى و دې ته چي دا منع دى بعض چي بعض د قرآن پر بعض أفضل دى او بعض

إمـامـانـو تـګ کړی دی ودې تـه چي دا یعني بعض د قرآن پر بعض أفضل دی دا خـطـا ده . او بـعـضـو إمامانو تـګ کړی دی ودې تـه چي بعض د قرآن پـر بـعـض أفـضـل دی پـه احـکـامـو د آیاتو کي او پـه مدلولاتو کي، نه پـه کلام کي، إمام قرطبيؒ دغـه قول حق بللی دی .

زه حقير هم دا وايم چي د نه فضيلت قول زما هم خوښ دی ولي تـول د الله کـلام دی ولـي فـضـيـلـت د سور د بعض پر بعض حديث ، اکثر علماء حـديـث يـا مـوضـوعـي بـولـي . البتـه دا ويـلـی سـو چـي د . . . . د فـائـدې پـه فضيلت نسبت خاطر يا د احـکـامـو . . . پـه وجه به فضيلت و انسان ته وي نه نفس فضيلت معنی دا چي نسبت د فـضـيلت و قرآن تـه نه دی بلکه انسان يا پېري تـه نسبت کيږي . دې ته فضيلت نـه وايي . هذا نظری القاصر .

(۳۸): سوال :......

آيا دا جائز ده چي بعض د قرآن ابلغ ده تر بعض؟

جواب :......

صـاحـب الاتقـان وايي چـي و دې تـه جـواز ورکـړی دی يو قـوم، ځکـه د دوی نظر کوتا دی، نو تا لره ښايي چي تـه معنی د کلام د قوم داسي را وباسې چـي دا کـلام پـه خپل ځای کي حسن او بلاغت او لطف لري تر هغـه کلام او هغـه کلام پـه خـپـل ځای کي حسن او بلاغت او لطف لري او دا کلام پـه خـپـل ځـای کي ابلغ او اکمل دی تـر هغـه بل کـلام او هغـه پـه خـپـل ځـای کـي ابـلـغ او اکـمـل دی مـثـلا داسـي نـه ده چـي سـورة الاخـلاص ابلغ او اکـمـل دی تر تبت يدا ابی لهب . والله اعلم .

(۳۹):۔سوال :......

آيا هر اهل علم لره دا روا ده چي تفسير د قرآن وكړي كنه؟

جواب :......

په دې كي اختلاف دى : د علماؤ بعض وايي چي تفسير هيچا لره نه دى روا، كه څه هم عالم وي او بعضي وايي چي تفسير د قرآن هغه چا لره روا دى چي جامع وي هغه علومو سره چي مفسر ورته محتاج وي . هغه پنځلس علوم دي يو د هغو څخه علم لغت دى بل علم نحوه ده دريم علم صرف دى څلورم علم اشتقاق دى پنځم شپږم اووم علم معاني علم بيان ، علم بديع ، اتم علم قرأة، نهم علم اصول الدين ، لسم اصول الفقه ، يوولسم اسباب النزول دى . والله اعلم .

(٤٠):۔سوال :......

څه معنى ده د دې قول د نبى عليه السلام ''لكل حرف حد و لكل حد مطلع'' ؟

جواب :......

معنى د دې قول ''لكل حرف حد'' يعني منتهى په هغه كي چي د الله تعالى اراده وي له معنى څخه دده او معنى ددې قول چي ''لكل حد مطلع'' يعني مطلع لره چي توصل كيږي په هغه سره و معرفت د حد ته .

(٤١):۔سوال :......

څه حكمت دى چي قرآن ټول په يوه وار و آسمان د دنيا ته رانازل سو؟

جواب :......

إمام علامهؒ فرمايى په اتقان كي چي حكمت په دې كي چي قرآن ټول

په یوه وار نازل سو دا دی چي په دې لویی د امر او د شان د قرآن ده او لویی د تعظیم د حکم د قرآن ده .

(٤٢):سوال :......

څه حکمت دی چي قرآن یې په آسمان د دنیا په بیت العزت کي کښېښود نه په بل مقام کي؟

جواب :......

قرآن یې په آسمان د دنیا او بیت العزت کي د دې لپاره کښېښود چي په دنیا کي داخل سي .

(٤٣):سوال :......

څه حکمت دی چي ټکره ټکره را نازل کړ داسي یې نه کړو نازل لکه نور کتابونه چي په یو وار نازل سو؟

جواب :......

حکمت دا دی چي پېغمبر علیه السلام امي وو نه یې قرآن ویلای سو نه یې نوشته کولای سو نو ددې لپاره یې ټکره ټکره نازل کړ چي ثابت سي د ده په نزد او یاد یې کړي . والله اعلم .

او بل حکمت دا دی چي د قرآن نزول ټکره ټکره مدعی دی و قبولتیا ته د نبيؑ او که ټول قرآن په یو وار نازل سوی وای خلګو نفرت کوی ځکه فرائض او مناهي په ډېر دي .

(٤٤):سوال :......

څه حکمت دی چي تورات ټول په یوه وار نازل سو؟

جواب :......

ذكر كړي دي إمام لـه بعضو محققينو څخه په اتقان كي چي نوم د كتاب ده چي تورات نازل سو پر داسي نبي چي كاتب هم وو قاري هم وو او قرآن ځكه ټكره ټكره نازل سو چي پېغمبر عليه السلام نه كاتب وو او نه قاري وو .

(٤٥):سوال :......

څه حكمت دى چي نزول د وحي كي به ملكي داسي آواز كاوه لكه ږغږه؟

جواب :......

حكمت دا وو چي و سمعي د نبي عليه السلام ته وحي ور واچوي او په سمع د ده كي ځاى نه سي پاته بل شي لره .

(٤٦):سوال :......

څه حكمت دى چي قرآن پر نبي عليه السلام پر څلوېښت كاله نازل سو؟

جواب :......

حكمت دا دى چي د انسان قوت جسماني او قوت روحاني پر څلوېښت كاله پوره كرځي نو ځكه قرآن پر څلوېښت كاله نازل سو . والله اعلم .

(٤٧):سوال :......

څه حكمت دى چي قرآن په اوه (٧) حرفه نازل سو لكه څنګه چي په حديث شريف كي راځي : ان القرآن انزل على سبعة حرف كلها شاف و كاف؟

جواب :......

حكمت دا دى چي جضرت عمرؓ وايي چي قرآن نازل سو په لغت د مضر هغه اوه قبيلې دي په عربو كي ، چي فصحاء د عربو وو او نور عرب يې

تابع وو

او ددې مضر اوه لغت وو لغت قريش، لغت غذيل، لغت هوزان، لغت ايمن وغيرهم نو قرآن د ټولو په لغت راغلی چې الفت يعني رغبت د قرآن راسي او هر يوه به په خپل لغت فخر کاوه چې نزول د قرآن يې پخپله وليدی .

(۴۸):سوال :......

څه حکمت دی په تخصيص د عدد السبع کي چې قرآن په اوو (۷) لغتونو نازل سو .

جواب :......

حکمت دا دی چې اوه اکمل د عدد دی ځکه چې اوه درې جفته دي چې اوله را شروع کړي او درې طاقه دي مثلا دوه يو جفت څلور دوه جفت سو شپږ درې جفت سو، درې يو طاق سو، پنځه دوه طاق سو، اوه درې طاق سو .

(۴۹):سوال :......

څه حکمت دی چې قرآن په ډېرو ځايو کي نازل سو؟

جواب :......

حکمت د دې ځايو دی چې د قرآن په نزول ټول مشرف سي .

(۵۰):سوال :......

څه حکمت دی چې ام القرآن يعني الحمد لله الخ په فاتحه نامداره سوه؟

جواب :......

حکمت دا دی ځکه يې ام الکتاب په سورة الفاتحة نامدار کئ چې

شروع د قرآن په ده سره کیږي او د لمانځه شروع هم په الحمد لله سره کیږي او په تعلیم کي هم شروع په ده سره کیږي .

(۵۱):سوال :......

په دې کي څه حکمت دی چي رسول الله ﷺ نه پخپله زمانه کي قرآن جمع کړو او نه يې امر وکړ په جمع کېدو سره؟

جواب :......

په دې کي حکمت داوو چي رسول الله ﷺ انتظار د ناسخ کاوی چي ناسخ رانسي نو کوم وخت چي رسول الله ﷺ وفات سو حکم د ناسخ تم سو بیا خلفاء راشدینو جمع کړ .

اوبل حکمت داوو چي علماء د امت د علیه الصلوة والسلام مبارک لکه انبیاء د بني اسرائیلو داسي دي په اقامت کي د احکامو نو دا امر د جمع کېدو د قرآن عظیم الشان رسول علیه السلام مبارک د امت و علماؤ ته وسپاری که څه هم حدیث ضعیف دی .

(۵۲):سوال :......

په دې کي څه حکمت دی چي ابو بکرؓ هم قرآن مجید جمع کئ او عثمانؓ هم جمع کئ ؟

جواب :......

په دې کي حکمت داوو چي ابو بکرؓ چي صحابه کرام په جنگِ یمامه کي شهیدان سو نو ډېر قاریان او حافظان شهیدان سوه نو ابوبکرؓ وبېرېدی چي قرآن ورک او ختم سو نو يې قرآن جمع کئ په اوه قرأته سره، بیا خلکو اختلاف جوړ کئ یوه به په یوه قرأة وایو هغه بل به په

بل قرأة سره وايو هر يوه به د هغه بل قرأة ته غلط او ناروا ويل دا مفضي كفر ته كرځېدى نو بى حضرت عثمان رض سره جمع كئ چي دا ختلاف ورك سي، او خلك د كفر څخه خلاص سي بيا نو ټولو اتفاق پر قرأة عثماني وكئ .

(۵۳):.سوال :......

په دې كي څه حكمت دى چي بعضي سورتونه د قرآن غټ دي بعضي ميانه دي بعضي كوچني دي؟

جواب :......

حكمت دا دى چي دا لپاره د تعليم د سورتو چي اول به كوچنيانو ته تعليم د كوچنيو سورتو وركوي بيا د ميانه بيا د غټو سورتو او بل حكمت دا دى چي د قرآن هغه كوچنى سورة الكوثر دى د هغه د مقابلې څخه فصحاء د عربو عاجز سوه د هغه ميانه او غټو سورتو او د ټوله قرآن د مقابلې خو په طريقه اولىٰ عاجزه دي .

(٥٤):.سوال :......

په دې كي څه حكمت دى چي د هر سورت په سر كي يې بسم الله شريفه راوړه او هر سورت يې مصدر په بسم الله سره وګرځاوه؟

جواب :......

حكمت دا دى چي بسم الله دپاره د بركت او امان ده او لپاره د رحمت ده نو هر سوة د قرآن سبب د رحمت او د امان دى او د بركت دى، نو ځكه حكمت دا سو چي د هر سورت په سر كي بسم الله راوړه او بل حكمت دا دى چي په بسم الله سره جلا والى د سورتو راځي ځكه عبد الله ابن عباس رض

فرمايي چي جبرائيل عليه السلام چي به رسول الله ﷺ مبارک ته راغلی چي شروع به يې په بسم الله الرحمن الرحيم وکړه نو به موږ ته معلومه سوه چي بل سورة شروع سو .

(۵۵):سوال :......

څه حکمت دی د خداوند متعال (ج) په نزول کي د متشابهاتو چي حروف متشابهه يې نازل کړو چي خلق يې په معني نه پوهيږي؟

جواب :......

حکمت دا دی چي فصحاء د عربو په خپل فصاحت ډېر فخر کاوئ نو خدای (ج) د دوی په عربي زبان کي حروف متشابه نازل کړه چي که تاسو ربنتيا فصاحت لرئ نو ددغو حروفو متشابه معنی وکړئ ، دوی عاجز سول . بل حکمت دا وو چي کفارو به نبي ﷺ په لمانځه کي خطا کاوئ نو الله (ج) حروف متشابهه نازل کړل دوی به د حروفو متشابهه په معنی کي حيران سول په هغه به مصروف او مشغول سول . نبي کريم ﷺ به خپل لمونځ په ښه طريقه اداء کړی .

(۵٦):سوال :......

آيا محکم آيت لره زيادت پر متشابه سته کنه، که ته وايې چي سته داخو خلاف د اجماع دی او که ته وايې چي سته نو دا سر خپل اصل مات کی چي ټول قرآن کريم سره مساوي دی؟

جواب :......

محکم لره زيات سته پر متشابه په اعتبار د حکم سره او محکم مساوي دی متشابه لره په اعتبار د تلاوت .

(۵۷):۔سوال :……
څه فرق دی په مابين کي د محکم او متشابه په نزد د مفسرينو؟
جواب :……
فرق په مابين کي د محکم او متشابه دا دی چي محکم هغه دی چي معنی يې ښکاره وي او حکم به يې ښکاره وي او متشابه هغه دی چي نه يې معنی ښکاره وي او نه يې حکم ښکاره وي فافهم ښه فکر کوه .
(۵۸):۔سوال :……
آيا علم په معنی د متشابه سته کنه، يو څوک عالم پر معنی د متشابه ګرځيدی سي که نه؟
جواب :……
په دې کي دوه مذهبه دي يو مذهب د متقدمينو دی او بل مذهب د متأخرينو دی . متقدمين وقف پر إلا الله کوي چي په معنی يې يو الله (ج) علم لري بل څوک علم نلري، او متأخرين وقف پر والراسخون کوي چي محکم خلک په علم کي هغه علم پر لري لکه اولياء الله ته چي الله (ج) پر ټوله قرآن لفظا او معنیً او پر ښکاره معنی او پر پټه معنی پر ټولو الله (ج) علم ورکړی دی .
(۵۹):۔سوال :……
قرآن کريم نازل سو لپاره د وضاحت او لپاره د بيان، بيا نو ولي بعضي متشابه سو؟
جواب :……
حکمت دا دی چي الله (ج) فرق ښکاره کوي په مابين کي د علماء

راسخينو او د نورو علماؤ چي راسخين علماء أفضل دي تر نورو علماؤ .

(٦٠):سوال :......

بعضي خلک چي الله (ج) لره طرف ثابتوي هغه په يوه آيت دليل نيسي او بعض خلک چي وايي چي د الله (ج) ليدل نسته هغه دليل په بل آيت وايي نو هر يو هغه آيت ته چي د ده د مذهبه سره موافق وي هغه ته محکم وايي هغه بل چي د ده د مذهب سره مخالف وي هغه ته متشابه واي نو الله (ج) خو حکيم ذات دی نو ولي يې متشابه ذکر کړو په دې کي څه حکمت دی ؟

جواب :...... په نزول کي د متشابه آيتو حکمت دا دی چي په متشابه آيتو کي وصول ډېر په تکليف سره کيږي نوځکه چي تکليف زياتيږي دونه ثواب زياتيږي .

(٦١):سوال :......

آيا تأويل په متشابه کي په قرآن او حديث کي جائز دی کنه؟

جواب :......

که چيري تأويل موافق له لغت د عربو سره وو بيا جائز دی او که موافق د لغت د عربو سره نه وو بيا نه دی جائز، تأويل په متشابه د قرآن او حديث کي .

(٦٢):سوال :......

څه حکمت دی چي خاص يې کړه لاسونه په پيدائش د آدم عليه السلام پسې نه په پيدائش د نور مخلوق؟

جواب :......

حکمت دا دی چي دلته لاس په پیدائش د آدم علیه السلام کي مجاز د نور څخه دی چي الله تعالی (ج) انسان ځای د نور گرځولی دی ځکه چي انسان ځای د ښکاره کېدو د فضل او عدل او جمال او جلال دی .

(٦٣): سوال :......

رسول الله ﷺ فرمايي چي راغلی و ما ته الله (ج) په ښايسته صورت کي بلا کیفه و ما ته وویل اې محمدؐ په څه کي دا خلک جګړې کوي په ملأ الاعلی کي ماورته وویل چي زه نه یم خبر بیا یې لاس زما د اوږو په مابین کي کښېښود چي سړوالی یې زما و سینې ته راورسېدی زه عالم سوم په هغه چي په آسمانو او ځمکو کي دي نو دلته خو بیا لاس خاص په محمد ﷺ پسي وگرځېدی؟

جواب :......

په حق کي د آدم علیه السلام مراد د "ید" څخه ید الیمني دی بلا کیفه او مراد په حدیث کي د "ید" څخه ید الیسری دی بلا کیفه . خو په حدیث کي دواړه لاسونه بلا کیف راسته دي .

(٦٤): سوال :......

څه معنی ده د ساق په دې قول د الله (ج) کي : یوم یکشف عن ساق ، او څه معنی ده د څنګ په دې قول د الله (ج) کي ، علی ما فرطت فی جنب الله ، او څه معنی ده : و جاء ربک ، او څه معنی ده : یحبهم و یحبونه ، او څه معنی ده : و ان تعجب فعجب ، او څه معنی ده د : و هو معکم ، او څه معنی ده د : عند ربک ؟

جواب :......
مراد د ساق څه قوة دی او شدت دی، او مراد د جنب څخه اطاعت د الله تعالی (ج) دی، او مراد د جاء ربک څه امر د الله (ج) دی، او مراد د محبة د الله څخه رضا د
الله (ج) دی، او مراد د تعجیب څخه تعظیم دی، او مراد د عندیة څخه رفعت لوړوالی دی، او مراد د معکم څخه علم دی چي الله تعالی (ج) له تاسو سره ده په علم سره، دا ټولي معناګاني یو تاویل دی حقیقي مطلب دا دی چي دغه ټول صفات الله ته ثابت دي بلا کیف .

(٦٥):**سوال :**......
څه حکمت دی چي په دې کي چي شیطان په خوب کي و یو چا ته راتلای سي په دې شکل چي زه خدای یم نعوذبالله او ډېر خلق یې په دې سره ګمراهان هم کړه او د رسول اکرم ﷺ په شکل سره نسي راتلای په خوب کي و یو چا ته دا څه حکمت دی؟

جواب :......
حکمت دا دی چي رسول الله ﷺ لره صورت ښکاره وو او رسول الله ﷺ مبارک لپاره د هدایت راغلی وو خلګ یې د ضلالت او ګمراهي څخه راګرزول نو الله (ج) خو قادر پر دې دی چي خلګ ګمراهان کي او شیطان هم خلګ ګمراهان کوي نو ځکه چي خلګو ته په خوب کي په دې شکل راتلای سي چي زه خدای یم په دې شکل نسي راتلای چي رسول الله یم .

(٦٦):**سوال :**......

په دې کې څه حکمت ده چې الله (ج) آدم علیه السلام پر خپل صورت پیدا کئ ان الله خلق آدم علی صورته؟

جواب :......

په دې کې حکمت دا ده چې مراد د دې څخه چې الله (ج) آدم علیه السلام پر خپل صورت پیدا کئ مراد ځیني علم ده یعني کوم صورت چې د الله (ج) په علم
کي وو پر هغه صورت یې پیدا کئ او بل حکمت دا ده چې الله (ج) وایي چې آدم علیه السلام ما پر خپل صورت پیدا کئ حکمت دا ده چې الله (ج) وایي چې خلک ما په پیدایش د آدم علیه السلام سره وپېژني .

(٦٧): سوال :......

د دې حدیث څه معنی ده چې رسول الله مبارک ﷺ
فرمایي چې ما ولیدی رب العزة (ج) بنایسته صورت د انسان کي چې ناست وو پر تخته د نور او په کي څه حکمت دی چې الله (ج) یې په صورت د انسان کي ولیدی؟

جواب :......

په دې کې حکمت دا دی او معنی یې دا ده چې انسان محل د انوارو او تجلیاتو د الله (ج) دی ځکه د الله (ج) په مخلوق کي انسان تحمل د انوارو د الله (ج) کولای سي بل څوک یې نسي کولای؟

(٦٨): سوال :......

څه حکمت دی چې د قرآن کریم سورتونه یې په سین سره راوړو نه په صاد سره؟

جواب : ......

حکمت دا دی چي سورت په سين سره عبارت دی د سِر د خدای تعالی (ج) نو قرآن ټول سِر د الله (ج) دی نو ځکه په سين سره ووايه او په صاد سره يې نه ووايه .

(٦٩):**سوال :** ......

څه حکمت دی چي نوم د **محمد** ﷺ په څلور حرفه (م ح م د) دی؟

جواب : ......

حکمت دا دی چي محمد ﷺ و الله (ج) ته ډېر محبوب دی، نو د الله (ج) نوم څلور حرفه وو (ا، ل، ل، ه) نو نوم د محمدؐ يې هم څلور حرفه کړ .

(٧٠):**سوال :** ......

څه حکمت دی چي الله (ج) و محمد ﷺ ته سراج منير يعني څراغ روښانه ووايه؟

جواب : ......

حکمت دا دی چي څراغ چي بليږي چي هر څومره څراغونه ځيني بل کړې د ده په روښنايی کي نقصان نه راځي همداسي د محمد ﷺ د سينې نور دی چي هر څومره انسانان ورڅخه منور سوه يا منور کيږي د ده مبارک په نورانيت او روښنايي کي هيڅ نقصان نه راځي .

(٧١):**سوال :** ......

څه حکمت دی چي الله (ج) و محمد ﷺ ته حبيب ووايه، خليل يې نه ورته ووايه يعني رسول الله ﷺ ته الله (ج) حبيب ووايه او ابراهيم عليه الصلوة والسلام ته يې خليل ووايه؟

جواب: ......

حکمت دادی چي حبیب هغه چا ته وایي چي دی محب ته ورسیږي بې له واسطې او خلیل هغه چاته وایي چي دی و محبت ته ورسیږي په واسطه سره، نو محمد ﷺ بې واسطې اوبې وسیلې و الله (ج) ته رسېدلی دی او ابراهیم علیه السلام په واسطه او وسیله د نبي کریمؑ سره رسېدلی دی .

(۷۲):.**سوال:** ......

څه حکمت دی چي رسول الله ﷺ إمامت کړی دی او اذان یې نه دی کړی؟

جواب: ......

حکمت دا دی چي اجابت د اذان واجب دی نو که رسول الله ﷺ إذا کړی وای او خلقو یې اجابت نه وای کړی نو خلق کافران کېده نو ځکه اذان یې نه دی کړی . دا دیو کتاب نظر دی خو حق خبره دا ده چي اذان یې کړی دی .

(۷۳):.**سوال:** ......

څه حکمت دی چي الله (ج) امر وکړی و امت دعلیه الصلوة والسلام مبارک ته چي تاسو درود وایاست پر علیه الصلوة والسلام مبارک باندي؟

جواب: ......

حکمت دا دی چي رسول الله ﷺ رحمت لپاره د عالم دی هر څوک چي ودغه رحمت ته ورسیږي هغه بیا خلاص ده د عذابه د الله (ج) څخه نو لویه وسیله ورسېدو ته د علیه الصلوة والسلام مبارک درود دی نو .

ځکه امر یې په درود وکړ او بل حکمت دا دی چې الله (ج) و رسول الله ﷺ ته یو مقام معلوم کړی ده چې وسیله ورته وایي هغه مقام ته د رسول الله ﷺ رسېدل موقوف تر دعا زموږ دي نو ځکه موږ امت یې لمر کړو په درود سره .

(۷٤):.سوال :......

په دې کې څه حکمت دی چې الله (ج) رسول الله ﷺ پاک کړ د شعر څخه او رسول الله ﷺ به حضرت حسانؓ منبر تیار کې لپاره د شعر ویلو؟

جواب :......

حکمت دا دی چې شعر خالي د مبالغې څخه نه وي نو انبیاء علیهم السلام منزه او پاک دي د مبالغې څخه .

(۷۵):.سوال :......

څه حکمت دی چې رسول الله ﷺ خط نه نوشته کاوه، او سره ددې چې خط یې زده هم وو؟

جواب :......

حکمت دا دی چې که رسول الله ﷺ خط نوشته کړی وای یا یې خط لیکلی وای بیا به کفارو او منافقینو ویل چې رسول اللهؐ د تیرو صحیفو څخه قرآن کریم نوشته کړی دی .

(۷٦):.سوال :......

څه حکمت دی په دې کې چې د رسول الله ﷺ ښځې مبارکاني پر امت حرامې سوې او د امت مندې سوې؟

جواب : ...... حکمت دا دی چي په نکاح کي د ښځو د علیه الصلوة والسلام مبارک ضرر رسېدی و علیه السلام مبارک ته او عزت او حرمت د علیه السلام مبارک ختمېدی، ځکه حرامي سوې .

(۷۷): **سوال :** ......

پر نبي علیه السلام باندي د صدقې د حرمت څه حکمت وو ؟

جواب : ......

د حرمت د صدقې حکمت داوو چي موافق سي صفت د نبي علیه السلام د صفت د نورو کتابو سره ځکه چي دده د صفتو څخه یو صفت داوو چي صدقه پر ده حرامه ده .

(۷۸): **سوال :** ...... په دې کي څه حکمت وو چي الله تعالی جل جلاله د نبي علیه السلام تربیه د یتیم والي په حالت کي وکړله؟

جواب : ......

حکمت داوو چي الله تعالی (ج) داخبره و انسانانو ته ورښکاره کړی چي عزت اصل عزت دادی چي الله (ج) عزت ورکړی او شرف ټول د الله تعالی (ج) له طرفه دی او داخبره وه انسانانو ته ورښکاره کړي چي عزت مورثي شی نه دی پلار او د مور څخه نه وي او نه په مال او ریاست سره دی بلکه دایو ورکړه ده و هغه چا ته یې الله تعالی ورکوي چي د الله تعالی خوښه وي .

(۷۹): **سوال :** ......

۱﴾ ...... څه حکمت دی په دې قول د الله تعالی کي چي الله تعالی په سورة الاسراء کي فرمایي (اسریٰ بعبدهٖ) او داسي یې نه وویل چي

(اسریٰ بنبیهٖ) .

۲﴾ ...... او څه سِر دی په دې خبره کې چې د اسری واقعه يې په تسبیح سره شروع کړه؟

۳﴾ ...... او څه حکمت وو په دې خبره کې چې دغه د معراج واقعه په شپه کې تر سره سوله او په ورځ کې ولې نه کېدله؟

۴﴾ ...... او څه حکمت وو په دې خبره کې چې تاکید د اسری يې په لیلاً سره وکړی او سره له دې چې اسری خپله د شپې و تګ ته وايي؟

جواب : ......

۱﴾ ...... حکمت د اختيار د عبده پر نبیه باندي دا وو چې په عبده کې يې دفع د توهم د اُلوهیت وه یعني په نبیه لفظ کې به چا وهم کاوو چې دا نبي نه وو بلکه الله لکه چې د عیسی علیه السلام د عروج په واقعه کې عیسایانو پر عیسی علیه السلام د الوهیت یقین کاوو .

۲﴾ ......او اقتران د اسریٰ د واقعې په تسبیح سره دپاره د نفي د عقیدې د اهل التشبیه او اهل التجیسم یعني په اقتران د تسبیح اشاره و دې خبري ته وه چې دا واقعه یو امر وو د الله له طرف څخه هغه الله (ج) چې هغه الله (ج) پاک دی د جهت څخه او د طرف څخه او د مکانه څخه او د جسده څخه .

۳﴾ ...... او وجه ده تخصیص د شپې د دې دپاره چې شپه خاصه سوې ده دپاره د ملاقات د دوستانو نو ځکه چې د شپې د نبي علیه السلام د الله (ج) سره ملاقات وسو .

۴﴾ ...... او تاکید د اسری يې په لیلاً سره وکړی ځکه چې په ذکر د لیلاً

سره یې ازاله د هغې عقیدې وکړه چې ډېرو خلقو به دا ویل چې معراج به په ورځ کې سوی وي که څه هم قرآن مجید په عربي ژبان نازل سوی دی خو لیکن خطاب یې و عربو او غیر عربو ټولو ته سویدی نو په لیلاً کې و غیر عربو ته اشاره ده .

(۸۰):.سوال :......

څه حکمت دی په دې خبره کې چې الله (ج) حرف باء داخله کړه پر بعبده لفظ باندې، څه حکمت وو په دې خبره کې چې الله (ج) له حرام سره یې هم مسجد لفظ ذکر کړ او له اقصیٰ سره یې هم د مسجد لفظ ذکر کړ؟

جواب : ......اول حکمت دا دی چې د حرف باء او د عبد لفظ ترمابین مناسبت وو هغه مناسبت دا دی چې د عبودیت اصل ذلة او تواضع ده او حرف باء د حروف جاره وو څخه ده هغه خپل مدخول مکسور جوړوي او هر ذلیل او متواضع منکسر وي ځکه چې حرف باء داخله پرعبد لفظ کړه د دغه مناسبت د وجهې، او دویمه وجه د مناسبت دا ده چې په حروف تهجي کې دویم حرف باء ده او موجود په دویمه مرتبه ده وجودي کې هم عبد ده چې متحقق ده په حقیقت د محمد ﷺ کې .

او په ذکر د مسجدینو کې اشاره ده و شرف کامل ته د نبي علیه السلام ځکه چې په ذکر د مسجد حرام کې اشاره ده و سجدې د خلقو او و سجدې د نبي علیه السلام ته چې دا درجه د عبودیت ده او په ذکر د مسجد اقصی کې اشاره ده و لیرې والي د نبي علیه السلام ته له صفته د الوهیت، دا شرف کامل دی .

(۸۱):.سوال :......

د مـعـراج پـه واقعه کي الله پاک کلمه د تعجب د عروج یعني د ختلو پـه وخت کي وویله چي هغه د سبحان کلمه ده چي د پاکي او د تعجب دپاره استعمالیږي او د نزول یعني د کښته کېدلو په وخت کي د تعجب کلمه نه کړه استعمال، حکمت د دغې طریقې څه وو؟

جواب:......

بعضي عارفینو یې حکمت دا بیان کړی دی چي د تعجب استعمال د عروج په وخت کي دا وو چي د نبي علیه السلام وصل د خالق ذات سره کېدی او دا وصل عجیب وو او په نزول کي وصل د مخلوق سره کېدی او دا غیر عجیب وو .

(۸۲): سوال:......

څه حکمت وو پـه دې واقعه کي چي الله (ج) نبي علیه السلام له یوه مکانه و بل مکان ته بوتلی او سره له دې چي الله پاک له مکانه پاک دی الله (ج) فرمایي: ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾؟

جواب:......

شیخ صاحب په الفتوحات کي ویلي دي چي الله پاک نبي علیه السلام د دې دپاره نه دي غوښتی چي الله پاک ووینې بلکه ددې دپاره چي الله پاک هغه عجائبات ورښکاره کړي کوم چي هغه عجائبات د نبي علیه السلام څخه غائب وو او هغه عجائبات په هغه مکان پورې خاص وو لکه څنګه چي الله پاک بیان کړی دی: ﴿لنریه من آیاتنا الکبریٰ﴾ نو د نقل حکمت دیدار د عجائباتو وو .

(۸۳): سوال:......

څه حکمت وو د الله (ج) په دې خبره کې چې لمنځونه یې د معراج په شپه فرض کړه او څه حکمت وو په دې کې چې د پنځوس لمنځونو ځخه به پنځه لمنځو ادا کوي او څه حکمت وو په دې کې چې اول وار یې پنځوس لمنځونه فرض کړل؟

جواب: ...... سِر او حکمت د فرض کېدلو د لمانځه دا وو چې معراج هغه أفضل د اوقاتو د فرض کېدلو مناسبه موقع وه ځکه چې په معراج کې یې فرضیت وسو او حکمت د پنځو لمنځو د پنځوسو لمنځو ځخه دا دی چې یو لمونځ ادا کول او ثواب یې د پنځوس لمنځو دی یعني حکمت دا دی چې عمل قلیل او ثواب یې کثیر .او د پنځوسو لمنځو حکمت دا وو چې نبي علیه السلام د معراج په شپه د مختلفو مقاماتو زیارت وکړی او په مختلفو مقاماتو کې یې مختلف قسم فرشتې ولیدلې چې په مختلف عبادت باندې مصروفې وې نو نبي علیه السلام غبطه وکړه د امت دپاره، ځکه چې الله پاک د تمامو آسمانو د فرشتو عبادت په یوه لمونځ کې ورکړ .

(۸٤): سوال: ......

په مخلوقات کې الله تعالی اول کوم مخلوق پیدا کړی دی؟

جواب: ......

اهل التحقیق علماء دا خبره کوي چې عَالَم پر دوه قسمه دی (۱) عالم الامر او بل (۲) عالم الخلق لکه څنګه چې الله (ج) فرمایي (ألا له الخلق و الامر) او اهل التحقیق پر دې اتفاق کړی دی چې عالم الامر مقدم دی پر عالم الخلق نو عالم الرو ح د عالم الامر ځخه دی او په عالم

الروح کي اول تخليق د روح د نبيؐ عليه السلام سوی دی . نبي عليه السلام فرمايي اول ما خلق الله روحی او په عالم الخلق کي اول مخلوق چي پيدا کړی دی هغه کي اختلاف دی بعض وايي اول مخلوق چي پيدا کړی دی هغه عرش دی بعض وايي چي لوح محفوظ دی بعضي وايي چي قلم دی او دغسي نور روايات هم ستّه .

(۸۵):سوال :......

څه فرق دی په مابين کی د سخي او د کريم، او څه فرق دی په مابين کی د بخيل او د لئيم؟

جواب :......

نيسابوريؒ فرمايی (۱) لئيم هغه څوک دی چي مال جمعه کوي او منعه يې هم کوي او نه ځان ته او نه بل ته فائده رسوي او (۲) بخيل هغه څوک دی چي مال جمعه کوي او منعه يې هم کوي او سفارشتونه کوي او فائده نه ځيني اخلي او سخي هغه څوک دی چي مال جمعه کوي او منعه يې هم کوي او سفارشت هم مني او هم يې کوي او فائده هم ځيني اخلي او کريم هغه څوک دی چي مال جمعه کوي او سفارشت هم مني او هم يې کوي او فائده هم پر اخلي او منعه هم نه کوي . له دې وجهي د سخي د لفظ اطلاق پر الله پاک نه کيږي او د کريم د لفظ الاطلاق پر الله (ج) کيږي .

(۸٦):سوال :......

څه حکمت د الله تعالی دی په دې خبره کي چي الله تعالی آخرت زموږ له ستر کو غائب کړی دی او دنيا ولي دنيا بولي؟

جواب :......

حکمت دالله تعالی دا دی چې الله تعالی اراده کړې ده چې دغه د دنیا خلک آباد کړي او کښت او کهیتی وکرزوي دآخرت دپاره . که چیري خلک یې وویني نو بیا به د دنیا تعمیر پرېږدي او د دنیا په تعمیر کې د آخرت لوړ مقامات حاصلیږي او دنیا ته په دې وجه دنیا وايي چې دا نژدې ده و آخرت ته او یا له دې وجهې دنیا ورته وایي چې په دې کې دناءة بدوالی پروت دی او آخرت ته له دې وجهې آخرت وایي چې د آخرت زندګي وروسته ده د دنیا تر زندګي .

(۸۷):.سوال :......

څه حکمت دی په دې خبره کې چې الله تعالی د دنیا مثال په اوبو سره بیان کړی دی او نبي علیه السلام یې مثال په قنطره سره یعني په پل سره بیان کړی دی؟

جواب :......

اهل الحکمة وایي لکه څنګه چې اوبه قرار نه لري همداسې دنیا قرار نه لري او آخرت دار القرار دی او همدار رنګه لکه چې لږ اوبه کفایت کوي د انسان دپاره او ډېري اوبه مضري دي یعني نقصاني دي د صحت لپاره همدا رنګه د دنیا مثال دی او نبي علیه السلام چې یې مثال په قنطرة ورکړی دی همداغه رنګه اشاره ده و دې خبري ته چې پر پل باندې چا کور نه دی جوړ کړی صرف د تېرېدلو دپاره دی او دنیا هم د زندګي د تېرېدلو ضرورت ځای دی او د کور د جوړولو ځای نه دی .

(۸۸):.سوال :......

په دې کې څه حکمت دی چې نبي علیه السلام فرمایي چې دنیا د مؤمن لپاره زندان او جېل خانه ده او د کافر دپاره جنت ده او داکېدلای سي چې یو دار یعني یو سرای دي هم زندان وي او هم دي جنت وي او سره له دې چې دا دوه ضد دي سره او اجتماع د ضدینو ناروا ده؟

جواب:......

بعضي عارفینو ویلي دي چې اجتماع د ضدینو د مخلقو دپاره ناروا ده او خالق اجتماع د ضدینو کولای سي لکه اور د ابراهیم علیه السلام و خلقو ته اور وو او ده ته باغ وو او همدا راز د فرعون لپاره عذاب وو او د موسی علیه السلام دپاره وچه ځمکه وه وغیره او بل جواب دا دی چې د دنیا مثال داسي دی لکه چې زنداني سړی و امیر ته یو سفارشي پیدا کوي او بیا به له زندانه خلاصیږي . همدا راز مسلمان په دې دنیا کې لکه زنداني د نبي علیه السلام او د صحابه وو او د قرآن سفارش پیدا کوي او بیا به یې د الله پاک سره ملاقات کیږي له همدې وجهې نبي علیه السلام د مؤمن و زندګي ته زندان ویلی دی او د کافر و زندګي ته یې جنت ویلی دی .

(۸۹):سوال:......

اهل الحکمة والا پوښتنه کړې ده چې دنیا الله پاک د کافرانو لپاره پیدا کړې ده او که یې د مؤمن لپاره، او یا د دوستانو لپاره پیدا کړې ده او که د دښمنانو لپاره؟

جواب:......

په حدیث قدسي کې داسې بیان وارد دی چې الله تعالی دنیا پیدا کړه او

بیا یې خطاب ورته وکړی چې اې دنیا خادمه جوړه سه د هغه چا دپاره چې زما ددین خدمت کوي او سترې جوړه کړه د هغه چا دپاره چې ستا خدمت کوي نو دنیا د مؤمن او کافر دواړو دپاره ده خو لیکن د مؤمن دپاره خادمه ده او د کافر دپاره ستومانه او سترې ده .

(۹۰):سوال :......

څه حکمت وو په دې خبره کي چې الله سبحانه و تعالی دغه کسبونه په دنیا کي وضع کړو؟

جواب :......

حکمت دا وو چې اولیاء الله عبرت واخلي د دې خبري څخه چې دغه دنیا چې فاني او نیستي کېدونکې دنیا بغیره له طلب نه حاصلیږي نو د آخرت نعمتونه او همېشه هستوګنه به څنګه بغیر طلب حاصله سي نو د دغه عبرت حاصلولو دپاره الله پاک دغه مکاسب په دنیا کي وضعه کړل .

(۹۱):سوال :......

د دغي خبري څه وجه او حکمت وو چې الله پاک موږ آخر د امتو وګرزولو؟

جواب :......

دغه آخر ګرزېدل زموږ دا یو اعزاز او شرف دی، دې امت لره، ځکه که چیري موږ مقدم وای پر نورو امتو باندي بیا به موږ په قبرو کي وو دوی ته به مو انتظار کوی اوس دوی و موږ ته انتظار دي او بله وجه د شرف دا ده چې موږ پر دوی ګواه یو چې و دوی ته انبیاء راغلي وو او د

وحدت د خداى دعوت يې ورکړى وو لکه چي څنګه په آيت کريمه کي راغلي دي: ﴿ لِتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً ﴾ (الآية)

(۹۲): سوال: ......

څه حکمت وو په دې خبره کي چي الله پاک په تمامو کائناتو عرش تر ټولو کائناتو غټ جوړ کړى. او د الله پاک هيڅ حاجت او ضرورت هم نه وو؟

جواب: ......

په تحقيق د عرش کي اهل التحقيق او اهل الحکمة ډېري وجهي بيان کړي دي:

۱﴾ ...... وجه دا ده چي الله پاک عرش په هغه ځاى د خدمت د ملائکو کي پيدا کړى، د پاره د اظهار د تفرد په الوهيت کي او د پاره د اظهار د کمال ملک او کمال قدرت لکه چي الله پاک فرمايي: ﴿وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ ﴾ .

۲﴾ ......اشاره ده و خپلو بندګانو ته په طريقه د عوت چي دوى الله فوق وبولي .

۳﴾ ......وجه د پاره د شرف د محمد ﷺ او هغه په دې آيت کي چي الله (ج) فرمايي: ﴿ عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَاماً مَّحْمُوداً ﴾ او مقام محمود لأندي تر عرش دى و غيره نوري وجهي هم ستــه چي په کتابو کي ليکلي دي .

(۹۳): سوال: ......

څه حکمت دی کي چي انسان ته الله (ج) نه ور ښکاره کوي حقیقت د خپل ځان؟

جواب: ......

دپاره د زیات محبت چي د خلقو د الله پاک سره زیات محبت وي ځکه چي خلق وایي چي زیات خوند هلته وي چي سړی و هغه شي ته زیات پردېس وي او بل که چیري په دنیاکي الله پاک خپل ذات و مخلوق ته ور ښکاره کړي نو مخلوق به د زیاته محبته د الله په عشق کي مشغول سي او د نیا آبادېدل به ځیني پاته سي و غیره نوري وجهي هم لری چي په نورو کتابو کي په تفصیل سره ذکر سوي دي .

(۹٤): سوال: ......

الله پاک ولي خپل دیدار زیادت وبلی په جنت کي، په دې آیت کریمه کي: ﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُواْ الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ﴾ او سره له دې چي زیادة په دنیا کي کم وي تر رأس المال، آیا د الله دیدار کم دی تر دیدار د جنت؟

جواب: ......

اول خو الله پاک خپل دیدار ته زیادة و وایه ځکه چي نبي علیه السلام د دغه آیت کریمه ترجمه داسي کړې ده چي حسنی جنت دی او زیادة د الله (ج) دیدار دی او دویم چي الله پاک خپل دیدار زیادت بللی دی تر هغه جنت چي د هغه جنت وعده یې له دوی سره کړې وه او زیاذت چي تر رأس المال کم وي هغه په هغه ځای کي چي هلته زیاتوب د رأس المال له جنسه وي او دلته د الله تعالی دیدار د جنت له جنسه نه دی .

(۹۵): سوال: ......

چې كـلـه الله پاک اسمانو او ځمكو ته خطاب وكړ چې : ﴿ اِئْتِيَا طَوْعاً أَوْ كَرْهاً قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِيْنَ ﴾ نو په ځمكو كې اوله كومه ځمكه وه چې هغې جواب وركړى چې موږ اطاعت كوو ؟

جواب :......

د ابن عباس رضى الله عنه په روايت بانـدې ثـابتـه ده چې د نبي عليه السلام جوړ مبارک د ځمکې د مكې څخه دى نو د دغې خبرې څخه دا معلوميږي چې اوله ځمكه هغه وه چې نبي عليه السلام پر پيدا سو چې د مكې ځمكه ده او بيا په طوفان نوح كې دغه ځمكه موج د طوفان ووهله او بيا يې و مدينې ته ورسوله ځكه چې پيدا هلته سو او دفن په مدينه كې سو .

(۹٦): سوال :......

په دې كې څه حكمت وو چې الله پاک آدم عليه السلام د خاورې څخه پيدا كړى او د كومې خاورې څخه يې پيدا كړى او د كومې ختې څخه د ده خمير جوړ سو؟

جواب :......

حكمت د دې خبرې چې آدم عليه السلام يې د ځمكې څخه پيدا كړى ځكه چې په ځمكه او خاوره كې عاجزي او مسكنت وو او د تواضع مقام ډېر لوړ وي نو له همدې وجهې يې د خاورې څخه پيدا كړ او بيا يې لوړ مقام ورله وركړو او خمير يې د ټولې ځمكې د مخه څخه جوړ سويدى ځكه ابن عباس رضى الله عنه فرمايي (لأنه مخلوق من آديم

الأرض) .

(۹۷): سوال :......

څه حکمت دی په دې خبره کي چي نبي عليه السلام فرمايي چي الله پاک سل رحمته پيدا کړه په هغه ورځ چي رحمتونه يې پيداکول نهه نوي (۹۹) رحمتونهٔ لـه اللهٔپاک سره دي او يو رحمت يې و دنيا تـه را استولی دی چي هغه دومره وسعت لري چي يو حيوان هم پر خپل بچی باندي پښه نه ايږدي د رحم د وجهي نو سل رحمت ولي هلته دي او يو رحمت يې و ځمکي ته را استولی دی؟

جواب :......

په دې تقسيم کي د رحمت اشاره ده و دې خبري ته چي دا تقسيم و مسلمان ته غټ اميد او زېری ورکوي چي يو رحمت و دنيا ته راغلی دی او دوني وسعت لري نو د قيامت په ورځ به سل رحمتونه څونه وسعت لري . د اميد او د زړي لپاره دا تقسيم سوی دی يعني کله چي د يو رحمت په ذريعه دوني نعمتونه حاصل سوي دي چي ظاهري نعمتونه، باطني نعمتونه نو د سلو رحمتونو په ذريعه به څونه نعمتونه حاصل سي .



